# په اسلام کي
# د حکومت نظام

سیدابوالاعلی مودودی

## په اسلام کې د حکومت نظام

وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللَّـهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللَّـهُ إِلَيْكَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللَّـهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ
المائدة: ٤٩

ژباړه: نوای محمده! ته دالله د نازل کړې قانون سره سم ددې خلکو د چارو فیصله وکړه او د هغوی دې تا په فتنه کې وانه چوي ، یوه ذره قدرې دې هم له هغه هدایت نه اوښتي ونه مومې چه خدای تاته درلیږلې دی.

## په اسلام کې حکومت

پاک او سپیڅلی اسلام چه خلکو ته داجتماعي نظام کوم قواعد راوړي په هغې کې د حکومت تشکیل هم د یوې اساسي قاعدې په توګه په خلکو باندې قرض کرزولې شوي دي. اسلام کله هم ګډوډې او بې نظمي په رسمیت نه پیژني او اسلامي ډله بې له امامه نه پریږدي ، رسول الله صلي الله علیه وسلم خپلو ځینو ملګرو ته داسې فرمایلي دي. (( اذا انزلت ببلد ولیس فیه سلطان فارحل عنه))

ژباړه: کله چې یو داسې ښاریا ملک ته ورشئ چې هلته سلطان (حاکم ، منتظم) نه وي نو ورځینې کوچ وکړه.

همداراز په یو بل حدیث کې خپلو ملګروته فرمایي: (( واذا کنتم ثلاثة فامرو علیکم رجلا))

ژباړه: او کله چه تاسو درې اوسئ نو یو سړی خپل امیر وټاکئ.

نو هغه څوک چه داسې ګمان کوي چې دین ، یا په دقیق عبادت سره اسلام، د سیاست سره څه سر او کار نه لري نو سیاست د هغه له حځو ځینې نه دي، دغسې سړی په خپل ځان باندې ظلم کړي دي، او په اسلام باندې چې کوم علم لري په هغه یې ظلم کړی دی، دانه وایي چه په اسلام ئی ظلم کړی دی، ځکه چه اسلام د خدای قانون او شریعت دی وړاندې وروسته کله هم ده ته باطل نږدې راتلې نشي.. امام غزالي رحمةالله علیه څه ښکلې فرمایلي دي: پوه شه چې شریعت بنسټ دی او پاچا د هغه ساتونکې دی، نو هره هغه څه چه بنسټ ونلري نړیدونکې دی، او هر هغه څه چه ساتونکې ونه لري ضایع کیدونکې دی. نو پردې اساس اسلامي دولت پر بنسټ قائمیږي ، ترڅو چه د رسالت لرونکې دولت وي، نه چه د ګڼی جامدی مادی حکومت وي چه هیڅ روح ونه لري، همداراز دعوت د رسالت لرونکي دولت له حمایت نه، ساتنی نه، تقویت نه او د هغه د تبلیغ او خپرولو پرته قائمیدلې نشي.

زمونږ لمړنی خطا دا وه چه مونږ دا اصل هیر کړ، او په عملي ډول مو دین له سیاست ځینې جلا کړ، که څه هم مونږ په نظري ډول سره ونشو کړای چه انکار ځینې وکړو ، نومونږ د خپلو اساسي قوانینو په نصوصو کې دا ولیکل چه د دولت رسمي دین اسلام دي، لیکن دې نص د سیاسي شخصیتونو، او سیاسي هیئاتونو د مشرانو په سرونو او مغزو کې د اسلامي ذوق دفاسدو لویافا سدیدلو مخه ونه نیولې شوه، همداراز په انساني نفسونو کې داسلامي نظریي د اسلامي ښکلا ضایع کیدولونه مخنیوي ونکړای شوه ځکه چه دوی عقیدتا او عملا او په صراحت ویلوسره تل په دې کوښښ کې دي چه ددیني توجیهاتو او سیاست د مقتضیاتو تر مینځ لرې والې راولي، او دا لمړې ضعف او فساد جرړه ده.

## داسلامي حکومت ستنې

په اسلام کې حکومت په ټاکلو او معلومو قواعدو باندې قائمیږي، چه هغه داسلامی نظام حکومت اساسي هیکل دی او هغه په دري ځیزونو باندې قائمیږي، مسئولیت ، د امت یووالې او دامت د ارادې احترام ، چه دا موجود شی په هر نوم سره چه یاد کړې شي په هر شکل چه ولري څه اعتبار نه لری.

دحاکم مسؤلیت

حاکم دالله جل جلاله په وړاندې او د خلکو په وړاندې مسئول دی، دا ددوي لپاره اجیر دي او دوی سره د یو کارګر حیثیت لري، او رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمايي: (( کلکم راع و کلکم مسؤل عن رعیته))

ژباړه: تاسو هر یو چوپان ( محافظ) یاستئ او د هر یونه به د خپل رعیت په هکله پوښتنه کیږي.

او حضرت ابوبکررضي الله عنه چه کله امیرالمؤمنین وټاکل شو او منبر ته پورته شو نو داسې یې وفرمایل: (( یاایهالناس کنت احترف لعیالی فاکتسب قوتهم، فاناالان احترف لکم، فافرضوا لی من بیت مالکم.))

ژباړه: ای خلکو! ما به څه کسب او کار کاوه او په هغې سره به مې د خپل عیال لپاره روزي پیدا کوله، او اوس ستاسې لپاره کار کوم نو ماته د خپل بیت المال نه یوڅه وټاکۍ.

او په دې توګه هغه رضي الله عنه د اجتماعي عقد خورا عادلانه او ډیر ښه تفسیر کړې دی، بلکه ویلې شوي چه هغه یې بنسټ ایښې دی او هغه د امت او حاکم تر مینځ دعامه ګټو او مصالحو په رعایت تقاعد کړی و نو که ښه او صحیح ډول سره دا تقاعد رعایت کړي اجر به واخلي او که یې بدوکړل نو سزايي همده لره ده.

دامت یوالې

اسلامي امت یو امت دی ، ځکه هغه وروګلوي چه اسلام په هغې باندې زړونه راټول کړي دي دایمان د اصولو نه یوداسې اصل دي چه پرته له هغه ایمان نه پوره کیږي او بې د هغه له وجود ځنیې ایمان تحقق نه پیدا کوي. اسلامی وحد ت د رائ د آزادئ او مشر ته د کشر نه، او مشرنه کشر ته د نصیحت او خیر غوښتنې مخې ته نه خنډ یږي او دا هغه څه دي چه اصلا په عرف کې ورځینې یو بل ته په خیر غوښتنې سره تعبیر شوي دي، په امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره یي تعبیر شوي دی او رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائی: **الدِّينُ النَّصِيحَةُ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ وَقَوْلِهِ تَعَالَى{ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ }**

ژباړه:د ین نصیحت او خیر غوښتنه ده ، اصحابو وویل: د چالپاره ای دخدای رسوله! هغه وفرمایل: دالله لپاره ، د هغه درسول لپاره ، د هغه د کتاب لپاره، د مسلمانانو د امامانولپاره اودعامو مسلمانانو لپاره . . همداراز فرمايي:

(( اذا رائت امتی تهاب ان تقول للظالم یا ظالم فقد تودع منها ، وفی روایة بطن الارض خیر لهم من ظهرها.))

ژباړه: کله چه تا ولیدل چه زما امت له دې نه ویره ولري چه ظالم ته ووایي: چې ای ظالمه! نو خـدای پاماني ورسره وکړه، او په بل روایت کې داسې دي چه د زمکې خیټه ددوی لپاره د زمکي د مخ نـه بهتـره ده.

او حضرت سیدالشهدا حمزة بن عبدالمطلب فرمایي: (( ورجل قام الی امام جائر فامره و نهاه فقتله))

ژباړه: او هغه سړی چه د ظالم پاچا مخې ته ودریده امر او نهی یي ورته وکړه او هغه وواژه.

اسلامي امت په اساسي او بنستیزو اصولو سره ډلي ډلي او بیل نه وي ځکه چې د ژوندانه هغه ټولنیز نظام چه دوی یو تربله سره پیوتسه کوي یو نظام دی او هغه اسلام دی او داسلام ټول بچي په دې اقرار کوي ، پاتی شوپه فروعو کې اختلاف، هغه څه تاوان نه لری، د بغـض او خصـومت موجـب نـه گرځـي، او نـه دداسې گوندیتوب سبب کیږي چه څنگه دې گرزي هغسې ورسره حکم او قـدرت هـم وگـرزي، لکـن پـه فروعـو کـې اختلافات ددې مستلزم دی چه بحث او کره کتنه او چاڼ پکې وشي، خپل مینځـې مشـورې او خیـر غوښـتنه پکې وشي او ولیدل شي چه په کومه مسئله کې نص شته په هغی کې د اجتهاد لپاره ځای نشته او چیرې چې نص نه وي دولي الامر په پریکړه بیا نور هیڅ هم نشته.

دامت د راي احترام.

دا د اسلامي امت حق دی چه په دقیق ډول د خپل حاکم څارنه وکړي، په کوم څه کې چه خیر وینی هغه ورښیئ، او په حاکم باندې دا لازمه ده چه د خپل ملت سره سلا مشوره وکړي او د ملت د رائ احترام وساتي، د هغه دراءیو او نظریو نه صالحه راءی واخلي او قبوله یي کړي، الله پاک په دې هکله حاکمانو ته امر فرمایلي. وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ {آل عمران: ۱۵۹}

ژباړه: او په چارو کې ددوی سره مشوره وکړه.

او د مؤمنانو تر مینځ مشوره کول یي داسې ستایلي. وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ [الشوری: ۳۸]

ژباړه: او ددوی چارې پخپلو کې په مشوره سره سرته رسول کیږي.

او د حضور صلي الله علیه وسلم سنت او تـره هغـه وروسـته د هغـه پـه سـمه لاره روانـو خلیفـه گـانو طریقې هم په همدې سره جاري شویدي، کله چې به دوی د یو مشکل سره مخ شول نود مسلمانانو اهـل راءی کسان به یې راجمع کړل. د هغه سره به یې مشوره وکړه او د هغو په صحیح او صالحو رایو به یې فیصله وکړه. بلکه دا کار یي مستحب گاڼه ، امیرانو به مسلمانان دې کـار تـه رابلـل او مشـوروته بـه یـې هڅـول. لکـه چـې ابوبکرصدیق فرمایي: (( فان رائتمونی علی حق فاعینونی ، وان رایتمونی علی باطل فسددونی. او قومونی))

ژباړه: که تاسو زه ولیدلم چه په حقه لار روان یم نوزه ماسره مرسته وکړئ، او که مـو ولیـدلم چـې پـه غلطه لار روان یم نوما سمې لارې ته راولئ.

او حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه داسې فرمایلي دي.

((من راءی فی اعوجاجا فلیقومه)) ژباړه: چاچه په ما کې څه کوږوالې ولیده. نو هغه دې سم کړي.

کله چه دغه اساسي قواعد تحقق پیدا کړي ځکه چه پرته له دي نه حکومت صالح پاتی کیدای نشـي او کله چه دا قواعد په داسې ډول سره تطبیق شي چه ترمنځ یي توازن وساتلې شي او داسې نشي چه یـو پربـل باندې تیرې وکړی، دغه اسلامي نظام دي، په هر نوم او شکل سره چه وي هغه څه اعتبار نه لري، اما د توازن ساتنه پرته له ژوندي وجدان نه او ددې تعلیماتو په قدیسیت باندې د حقیقی شعور لرلو نه پرته ممکن نه ده ،

او دا دومره مهم ځيز دی چه په دنيا کې د بريالیتوب او اخرت کې د نجات سبب ګرزي، او په اوسني اصطلاح کې د (( سياسي پوخوالي)) یا ، وطني روزنې)) او داسې نورو په نومونو سره یادیږي ، خو دا ټول نومونه او الفاظ یوه حقیت ته بیرته راګرزي او هغه د نظام په صلاحیت باندې عقیده لرل ، او د هغه د ساتنې او عملي کولو په فائده باندې شعور پیدا کول دی نو ځکه چه یواځې د کاغذ پرمخ د نصوصو شته والې د امت د راپورته کولو سبب نه ګرځی ، لکه څرنګه چه د قانون شته والې بې ګټې دی تر څو چه پاک نفس او عادل قاضي ئې تطبيق نه کړي.

## د حکومت نظام

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّـهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ المائدة: ٥٠

ژباړه: نو آیا بیا د جاهلیت فیصله غواړی. په داسې حال کې کوم خلک چه په الل هجل جلاله باور لري د هغې په نزد دالله نه بل غوره فیصله کوونکې هیڅ نشته.

ما په خپلو مخکنیو خبرو کې دا یادونه وکړه چه داسلامي نظام حکومت ستنې درې دي:

الف: د حاکم مسؤلیت

ب : د امت یووالې

ج: د امت دارائ احترام.

دانظام د رسول الله صلي الله علیه وسلم ځینې وروسته د هغه خلیفه ګانو په پوره ډول سره ، متحقق، او تطبیق کړي دې، دوی د هغه تکلیفونه او مشکلاتو ځینې چه د خپل رعیت په مقابل کې د مسئولو حکامو په خیث ددوی په اوږو پریوتل ډیر ښه خبر او پري ښه پوه ؤ، او دا د هغوې د ټولو اقوالو او تصرفاتو ځینې په ډاګه ښکاری، یوازې د حضرت عمررضي الله عنه د حضرت عمر بن عبدالغزیز رحمةالله علیه هغه وینا وی چه د خلیفه ټاکل کیدلو نه وروسته یي کړی دي ستاسې د لوستلو لپاره کافي دي، او نه دا چه یوازي د هغه خبري او خطبي په زړه پوري وي بلکه د هغه دواړو سیرت او کړه وړه هم بالکل د هغوی د ول سره سمون درولودحضرت عمررضي الله عنه وفرمایل: ای خلکو! زه په تاسو باندې والې او متصرف وګرزولې شوم، او که دا هیله نه وی چه زه ستاسې لپاره ښه یم او ستاسې د حقوقو په اخیستلو کې تر تاسې قوی نه وي، او ستاسو د چارونه تر ټولو زیات باخبره نه وی، نو ما به دا ولایت قبول کړي نه وی. او د عمر لپاره همدا بس دي چه د خدای په حضور کې د حساب ورکولو لپاره وراخطا او غمژن ولاړوي، ستاسې حقوق څنګه واخلم او چیرته یې کیږدم او تاسې سره څنګه وچلېږم نوزما خدای زما کومکي او مرستندوی دی.

دلته عمررضي الله عنه خپل قوت ته تکیه کوي او له چل ول نه کار نه اخلي بلکه دالله جل جلاله رحمت ، مرستې او تائید ته تکیه کوي او وایي: که چیرته د فرات په غاړه کوم اوښ ضایع شی زه ویریږم ه چه الله جل جلاله به یې د خطاب د ال نه پوښتنه وکړي.

او عمر بن عبدالعزیز پخپله خطبه کې داسې وفرمایل: اما بعد: ستاسو تر نبي صلي الله علیه وسلم وروسته بل نبی نشته. او نه تر قرآن ورسته د بل کتاب راتلل شته با خبره اوسئ هغه څه چه الله جل جلاله حلال کړي دي هغه تر قیامته حلال دي او هغه څه چه یې حرام کړي دي تر قیامته حرام دي، ګورئ زه قاضي نه یم بلکه نافذونکې یم، اګاه اوسئ چه زه مبتدع نه یم بلکه پخپله پیروي کوونکې یم، ګورئ دا د هیچاحق نه دی چه د خدای په نافرمانئ کې دي د هغه اطاعت وکړي شې، خبر اوسئ چه زه تر تاسو ښه نه

يم زه ستاسې د جملې نه يو سړی يم، صرف فرق دومره دی چه ستاسو په نسبت الله پاک زما پيټی درونډ کړی دی، د خليفه سليمان بن عبدالملک تر خښوولو وروسته د خليفه د سپرلۍ وسيله ورته د سپريولو لپاره وړاندې کړې شوه خو هغه دغه سپرلۍ وځنډوله او په خپله قچره بانـدې سپور شـو او کورتـه راغـې، د هغـه غلام(( مزاحم)) ورته راغې او ورته ويې ويل: ای امير المؤمنين! لکه چه ناروغ يی؟ هغـه ورتـه وفرمايـل: دغـه درونډ پيټی چه پرما راپريوتې دی زه يې کمزوری کړی يم، ځکه چه په شرق او غرب کې د حضرت محمدصلي الله عليه وسلم داسې امتي نشته چه د هغه دې پر ما حق نه وي او زه دې د هغه حق ادا نه کـړم بـې لـه دې چه د حق په هکله ماته څه عريضه وليکي او يا يې وغواړي.

دغه راز اسلامي امت هم ترڅو چه يې په خپل دين منګولې لګـولې وي، او نـه لړزېـدونکې عقيـده يـې پرې لرله سره يو موټې او متحد ؤ ، او د رسول الله صلي الله عليه وسلم د امر په رعايت چه د يو والي په هکله زيات ټينګار فرمايي: پخلپو کې سره زيات خواږه وروڼه وو ،، حضورصلي الله عليه وسلم د مسلمانانو د متحـد اوسيدلو په بابله ان تردې پورې ټينګار کوي چه هغه څوک چه له جماعت نه بيلتون اختيـار کـړي او يـا يـې د طاعت نه بغاوت وکړي د هغه پروژلو يې امر کړی دی او داسې فرمايي: (( مـن اتـاکم وامـرکم جميـع يريـد او يشق عصاکم فضربوه بالسيف کائنا ماکان. )) ژباړه: کله چه تاسو سره يو موټې راټول ياستئ او يو څـوک راشـی او وغواړي چه ستاسې دايووالی مات کړي او تفرقه درپکې پيدا کړي دا چه هر څوک وي په توره يې ووهئ.

همدارز فرمايي: (( من خرج على الطاعة و خالف الجماعـة فمـات، مـات ميتـة جاهليـة ، و مـن قاتـل تحت راءية عميه يغضب لعصبة ، او يدعو الى عصبة او ينصر عصبة فقُتـل و فقتلـه جاهليـة، ومـن خـرج علـى امتسی يضر بت برها وفاجرها ولا تحاشی من مؤمناها ، ولايفی دا عهده، فيس منی ولست منه،

ژباړه: څوک چه د اطاعت نه ووت او د جماعت خلاف ئې وکړ او په دې حالـت کـې مـړ شـو، هغـه د جاهليت په حالت کې مړ شو او څوک چه د فتنی او جاهليت تـر بيـرغ لانـدی وجنګيـږي ، د عصـبيت لپـاره غصه کيږي يادعصبيت لپاره بلنه ورکړي او يا د عصبيت ، (( خپلوی، قوميت، سمت، خپـل)) پـه بنـا مرسـته وکړي او په دې حالت کې ووژل شو د هغه مړينه د جاهليت په حالت کې مړينه ده، او څوک چې زما د امت په مخالفت کې راپورته شې او نيکي او بدي يې يو شان وي او د مؤمنانو وهلو ځينې هم څه ډډه نه کوي او نه د چا سره خپل پيمان ترسره کوي، هغه کس زما څخه نه دی او زه د هغه څخه نه يم.

همداراز د امت اراده تر ممکن حده پورې محترمه کڼل کيده، حضرت ابوبکررضي الله عنه کلـه هـم په خلکو د يو کارحکم تر هغې نه نافذکولو ترڅوچه به يې د خلکو سره سلامشوره نه وه کړې، خصوصا په داسې مسايلو کې چه شرعي نص به پکې نه ؤ، همدغه راز عمررضي الله عنه خلافت د هغه شېږو کسـانو تـر مينځـه کوم چه رسول الله صلي الله عليه وسلم د وفات په وخت کې د هغوی نه راضي او پوره خوښ ؤ مشاور ګرزولې ؤ.

## د پارلماني نظام حکومت په باب ده اسلام دريځ

قانون پوهان وايي چه پارلماني نظام د حاکم په مسؤليت ، د ملت پـه سلطه او د ملـت ارادې تـه پـه احترام لرلو باندې مينځ ته راځي، او په دې کې کوم داسې مانع نشته چه دامت د يووالې او ده راټوليـدلو پـه مخ کې خنډ شي او په دې نظام کې تفرقه او خلاف شرط نه دی يعنی داضروري نه ده چه په اصطلاح مخالف قوتونه يا حزبي اختلاف دې موجود وي، که څه هم ځينې قانون پوهان د مخالفو قوتونو شتون، ((ګونـديتوب))

دپارلماني نظام له اساساتو ځينې بولې ، خو دا خبره هله اعتبار لري چه دا عام عرف وي اما په اصولی ډلـوکې گونديتوب د پارلماني نظام د منځته راتلو لپاره کوم اصل نه دی، ځکه چې بې له دې چه په اصلې قواعدو يـې څه خلل پيدا شي او بې له دې چه دا حزبيت مو جودوي تطبيقيدل يې ممکن دي.

بنا پردې د پارلماني نگظام په قواعدو کې داسې څه نشته چه د اسـلامي نظـام حکومـت لپـاره وضـع کړای شوو قواعدو سره دې منافي وي، او په دې اعتبار سره دا د اسلامي نظام نه څه لرې نه دی او نه ورسـره څه ناشنا دی.

د حاکم مسؤليت – وزارت

د حاکم په هکله په اسلامي نظام کې اصل دادی چه رئيس ددولت مسؤل دی هغه چه هرڅـوک وي، هغه حق د تصرف لري او په دې باندې دا لازمه ده چه ملت ته د خپلو تصرفاتو حسـاب ورکـړي. کـه دي پـه خپلو تصرفاتو کې نيک وي ملت به مرسته ورسره کوي او که لاس وهنې پلټنې بدې وي نو ملت به هغه سـمې لارې ته راولي، په اسلام کې ددې خبري څه ممانعت نشته دي چه د دولت رئيس د خپل مسؤليت د پيټې او قدرت څخه يو شه اندازه په مباشر ډول بل چاته وسپاري داکار د اسلام د قدرت په زيـاتو وختونـو کـې کـړي شوي دي چه دا وزارت تفويض پدې نامه پيژندل شوی دی. اسلامي فقهاؤ په دی هکله رخصت ورکړی دی او تر څو چه پکې مصلحت او فائده وي اجازه يي ورکړې ده، په داسې جارو کې کلي قاعده عامـه مصـلحتونه پـه نظر کې نيول دي، لکه څرنگه چه ،په خپل کتاب ، ((الاحکام السلطانيه)) کـې ذکـر کـړی دی. وزارت پـه دوه ډوله دی ، يو وزارت تفويض او بل وزارت تنفيذ دي، وزارت تفويض دادی چه ما يو څوک خپل همکار او و زير وټاکې او د چارو تدبيررا وسپاري ترڅو د خپلې رايي سره سم يي پرمخ بوزم، ددي ډول وزارت د جواز په هکله څه مما نعت نشته ، الله پاک د خپل نبی موسی عليه السلام دحاکميت په ترڅ کې فرمايي:

وَاجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي ﴿٢٩﴾ هَارُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾ اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي ﴿٣١﴾ [طه: ٢٩ – ٣١]

ژباړه: زما لپاره زما له خپلې کورنۍ څخه يو وزير وټاکه ، هاورن چه زما ورور دی او د هغه په واسطه ما مضبوط کړه.

نو کله چې د نبوت په کار کې جواز لري نو دامامت په امورو کې خو په طريقه اولی روا دی، ځکه چه امام پرته له نائب ساتلو ځينې نشي کولی چه د امت ټولې ورسپالې چارې په مباشر ډول سرته ورسـوي او دده سره د چارو په تدبير کې د شريک وزير نيابت د چارو په تنفيذ کې نسبت دې ته ډير صحيح دی چـه يـواځې يي سرته ورسوي، دا داحتيـاط سـره هـم زيـات مناسـبت لـري او پـه دې کـا رسـره د لغزيشـونو او نيمگړتيـا و مخنيوې په په شه شان سره کيدلی شي.

په پارلماني نظام کې ددې مسؤليت اصلي مسئول صدر اعظم دی، ددولت رئـيس څـه مسـؤليت نـه لري، د برطانيي او مصرقوانين په همدې اصل روان دي اوپه صراحت سـره د چـارو اصـلې مسـؤل لمـړی وزيـر بولي.

پارلماني نظام کې دا هم شته چه د چا رواصلې مسؤل د دولت رئيس وي اووزيران د چـارو پـه تـدبير کې دده تابع وي لکه د امريکا د متحده ايالاتو پارلماني نظام چـه پـه همـدې سيسـتم روان دی او د حيرانتيـا خبـره داده، چـه زمـونږ اسـلامي فقـه دې وظيفـې تـه هـم اشـاره کـوي او دا ډول د ، وزارت تنفيـذ.، الاحکـام السلطانيه، کې وايي: هغه چه د تنفيذ وزارت دی نو د هغه حکم ډير ضعيف دی او شرطونه يې ډيـر کـم دی

ځکه چه په دې ډول وزارت کې د وزير نظر د امام په رائ او تدبير پورې  منحصردی . په حقيقت کې دا وزير د امام او رعيت او د چارو د مسؤليتونو تر مينځ يوه وسيله ده. څه چه ده ته د امام له خوا امر کيږي هغه تر سره کوي. د هغه څه چه ورښوونه وشې هغه نافذوي او څه چه ورته حکم کيږي د هغې سره سم چليږي.

ددې نه معلومه شوه چه بې له شکه دا د اسلامي فقهې نظر پراختيا او نرمي ده او ددې صلا حيت دی چه په هر وخت او هرځای کې تطبيق شي.

دامت يووالې

دا په ډاګه واضحه خبره ده چه د امت يوالې په اسلام کې يوه فريضه ګرزولې شوي ده، او د اسلامي ټولنې د اجتماعي ژوند لپاره يې يوداسې اساسي حزب بولي چه په هيڅ صورت کې ورځيني سترګې نشي پټولې، ځکه چه يو والي د ايمان سره ندي تړلې لکه چه فرمايي: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ [الحجرات: ١٠]
ژباړه: مؤمنان په خپلو کې سره وروڼه دی.

همداراز اختلاف او ډلې ډلې کيدل له کفر سره نږدې کڼي لکه چه الله پاک فرمايي:
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا فَرِيقًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ [آل عمران: ١٠٠]

ژباړه: ای ايمان والو! که تاسو د اهل کتابو د يوې ډلې اطاعت وکړی. هغوي ستاسو له ايمان راوړلو ځينې وروسته بيرته تاسو کفر ته راګرزوي ، يعني ستاسو له يووالي ځينې وروسته مو سره بيل بيل خواره واره کوي.

همدا راز رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي: (( لا ترجعوا بعدی کفارا يضرب بعضکم وجوه بعض.))

ژباړه: زما نه ورسته بيرته کفر ته رجوع مه کوئ، چه يو د بل مخونه وهی، دلته د کفر په کلمې سره د تفرقې او اختلاف ځينې تعبير شوی.

زه په دې عقيده يم چې پارلماني او غير پارلماني نيابي حکومت ددې ډول وحدت سره څه اختلاف او ضربيت نه لري، خصوصا که چيرته د اجتماعي ژوندانه رنګ په اصولو او عامو اړخونو کې يووي، او د ا لکه څنګه چې زمونږ د ټولو اسلامي امتونو اوسنی حالت او شان دی، اما دا ګونديتوب او اختلاف او ډلې ټپلې د بې نظمی سره په اروپا او داسې نورو ځايونو کې پيوسته شويدي ځکه چه دا د هغې په ماتوولو او نړولو سره منځ ته راغلې دي، هلته د ولسونو او د هغوي د حکومتونو ترمنځ پرله پسې خونړي اختلافات موجود ، او همدا اوس هم دنيا بي نظام د منځ ته راتلو اصلي سبب همدا دی ، سره له دې چه د نظري او درائي يووالی او اختلاف لا اوس هم شته، اما اسلامي امتونه الله پاک ددې ټولو مصيبتونو نه په خپل حمايت کې ساتلي دي، او داسلام په يوالې او پراختيا او اسانتيا سره يې له دې پريشانی او د رايو له فساد ځينې محفوظ کړيدي.

بيا هم نيابي حکومتونه په خپلو اصلي وطنونو کې په داسې زياتو او متعدد ګوندونو باندې ولاړ نه دي، په برتانيه کې دوه ګوندونه دي چه په خپلو کې يو  بل پسې د چارو واګې په لاس کې نيسي، او ګونديتوب يې يواځې په داخل کې دی، او هميشه په قومي موهمو چاروکې سره يو وي او ګونديتوب وربانديې هيڅ اغيزه نه کوي ، همدا راز په امريکا کې هم دوه ګوندونه دي او د انتخاباتو له مراسمو ځينی پرته په نورو وختونو کې د هغوي په باب هيڅ هم نه اوريدل کيږي او بې له انتخاباتي مسائلو نه نور نه ګوند شته اونه

ګونديتوب، او هغه هيواد ونه چې په ګونديتوب کې وړاندې تللې دي او زيات ګوندونه يې جوړ کړي دي د سولې او جنګ دواړو حالتونو کې يو شان يي د هغې تريخ خوندڅکلی دی او فرانسه ددې خورا ښه مثال دی.

نو کله چې مسئله داسې ده، او د امت يوالې د اسلامي اجتماعي نظام لپاره بنسټ دی او نيابي نظام هم ورځينې انکار نه کوي نو بيا خو دا لازمه ده چې څومره زر کيدلاې شي په مصر کې ددې ګونديتوبونو د تباهئ نه بيرته خپل وحدت ته راوګرزوو.

مصري ګوندونه

په دې خبره د ټول ملت اجماع ده چې همدا مصرې ګوندونه ددې لوی هيواد اساس او خرابي ده، او دا همغه اجتماعي فساد دی چه نن يي په اور مونږ وريته کيږو، او دا په حقيقت کې په هغې معنی او مفهوم سره ګوندونه نه دي کوم چه په نوره دنيا کې موجود دي بلکه دا ګوندونه پرته له يو لړ تضادونو او اختلافونو تر منځ د شخصي اختلافونو په نتيجوکې مينح ته راغلې دي، نور څه نه دی، داپه يو وخت کې د شرايطو او قواعدو غوښتنه وه چه د هغو په نوم دې خبرې وکړاى شي او د هغو د قومي حقوقو مطالبه دې وکړاى شي، اوس هغه شرائط او ظروف بدل شوي دي، هم د ټولو اجماع ده چه دا ګوندونه نه کوم پروګرام لري او نه کومه منظمه برنامه ، او ددوي تر مينځ نور هيڅ اختلاف نشته يواځينې اختلاف په شخصيتونو کې دی، او ددې نښې هغوی **بيانيوی جه د اقتدار او حکم نه بهر او د اقتدار له تخت نه په داخل د حکومت کې خپريږي په ډاګه ښکاري، او بل** دا چه دولسي جرګې او مشرانو جرګې غړي وړاندې کوي، او همدوي دي چه په پارلماني ژوند کې د حکومت بيړۍ روا نوي، نو دا واضحه خبره ده جه د بيړۍ **روانوونکو** دا حال وی دحکومت چاري کله هم سميدلی نشی.

او دا پاسنۍ د ټول ملت د اجماع خبره ده، وکيلانو ، سناتورانو ، فقهاو او قانون پوهانو په پوره وضاحت سره اعلان کړيده، او چاچې د علو په باشا، مبادي وطنيه، او د استاذ حسن الجداوبز (( عيوب الحكم فی مصر)) نومي کتابونه لوستلي وي هغه ته به زمونږ د وينا صداقت معلوم شوی وي، دلته به دا بس وی چه ستر قانون پوه استاذ سيدصبری د (( مبادای القانون الدستوری)) نومې کتاب ځينې يوه جمله چې دمصري ګوندونو په هکله ليکل شوې ده رانقل کړيده، هغه وايي: (( واقعيت دادې چه په مصر کې زياتره سياسي ګوندونه څه منظم او اساسي پروګرام او کړنلاره نه لرې چه د هغوي ملګري ورځينې دفاع وکړي، بلکه هر کوند عبارت دی له پخواني وزير ځينې چه ملګري او مريدان لري، او اهميت يي هم ددې نتيجې لپاره دی، او انتخاب کله هم د پروګرام او کړنلاري د ښه والې په اساس نه وی بلکه په شخصيتونو باندې د باور او يو پربل باندې د بهترۍ په اساس وي، او ډير زر به انتخابات شخصی وګرزي. نه په هغه معنی سره ګوندي کوم چه د عربي ولسونو سره دی، او دا بالکل يو واضحه خبره ده چه د ګوندونو په همدې حال باندې پاتـه کيـدل هيواد په ډلو او ګوندونو باندې ويشی او د افرادو او کورنيو تر مينځ اختلافونه او منازعي راپيدا کوي بې له دې چه کوم معقول اساس او د پوهيدني وړ سبب ولري.

او لا چه پدې باندې دا خبره هم وراضافه کړاى شي چه مصر لا تر اوسه پورې اشغال شوی هيواد دی او دا چه ددې ډلو ټپلو کيدلو نه ګټه هم يواځې غاصبانو او اشغالوونکو ته رسيږي او دا چه که اختلاف ته اجازه ورکړی شي په داسی حال کې چه په هيڅ حالت کې او په هيڅ امت کي هغه ته اجازت نه ورکولې کيږي ، نو د نيل دوادۍ ولس خو په تمامه معنی سره يووالې ته اړمن دي ترڅو خپل قوتونه دخپلواکۍ د مبارزې، او

داخلي چارو د اصلاح لپاره سره راټول کړي، نو دا گوندونه په مصیبت برسېره چه دا ټول ځیزونه هم وراضافه کړي شی بیا خو مسئله ډېره خطرناکه کیږي او دنه پاملرنې یا داسان گنلو هیڅ ځای پکې نه پاتې کیږي.

دمصري گوندونو منحل کول

کله چې مسئله داسې ده نو مونږ نه پوهیږو چه په دې پاک ، مجاهد او سخي مبارز ولس باندې څه شي دا لازمه کړیده چه د خلکو دا ډلې ټپلې چه ځانونه د سیاسي گوندونو په نوم سره یادوي هغوي دې یي په رسمیت وپیژني او اطاعت دي یي وکړي؟ خبره ډېره خطر ناکه ده مصلحینو دا کوښښ وکړ چه دادستونځواو سختو نازکو شرایطو سره د مقابلې لپاره چه نن زمونږ هیواد له هغو ځینې تیریږي یو ډول وحدت نه که څه هم مړقت وی سره ورسیږی خو نا امیده شول او یوې خواته سره غلي شول، او مسئله لا تراوسه پوري نیمایي حل شوې نه معلومیږي او س پرته له دي بله چاره نشته چه له یو مخه دا ټول باید منحل شي او د ملت ټول قوتونه په یوه گگوند کې سره راټول شي او د خپلې آزادۍ او خپلواکۍ د تکمیل لپاره کاروکړي او داخلي عام اصلاحي اصول وضع کړی او بیا تر دي وروسته حوادیث خلکو ته د تنظیمولو لپاره، د هغه دیووالې په سیوري کې چه اسلام یي لازم بولي لارې چارې وښا یي.

داملت راءی ته احترام- د انتخاب نظام

دملت راء ىته احترام ، د ملت د تمثیل او په حکومت کې په صحیح ډول سره شریکولو په هکله اسلام په هره پیښه او مصیبت کې د امت پد ټولو افرادو راءی معلوملو ي چه په نوی اصطلاح کې د ټولود پوښتنې یا ریفرینډم، په نوم یادیږي شرط کړي نه دی، لیکن په عادي حالاتو کي په ، (( اهل حل و عقد)) باندې بس والې کړیدي، نه یي د هغوی نومونه ټاکلي دی او نه یي د هغوی شخصیتونه په گوته کړیدي، د فقهاء له اقوالو نه چه د هغوی کوم وصف معلومیږي هغه په لاندینیو دري ډلو منطبق دی:

۱- مجتهدین فقاء ، هغه کسان چه په فتوی او د احکامو په استنباط کي د هغوي په قول باندي باور کیږي

۲– په عامو چارو کي اهل خیرته او متخصصین.

۳– هغه چه په خلکو کې یو ډول مشرتوب او ریاست ولري لکه د کورنو او کورنیو مشران، د قبیلو مشران او د ډلو رئیسان.

کولې شي چې دا ټول په حل او عقد کې شامل کړي.

اوسني نیابی نظام اهل حق او عقد ته درسیدلو لپاره یوه لاره ترتیب کړیده، او قانون پوهان ددې لپاره د انتخاباتو او انتخابي نظم او بیلا بیلي لارې هم وضع کړیدي، او تر هغه چه نتیجه یي د اهل حلو عقاد ټاکنه وی اسلام یي هم نه ردوي، او دا اسان کار دي، صرف دومره خبره ده چه دانتخاباتو په نظام کې د کاندید لپاره داهل حلو او عقد صفات په نظر کې ونیول شي او بل چاته اجازت ورنکړې شي چه د امت نیابت ته راوړاندي شي.

تعدیل او اصلاح

پرته له دې چه د انتخاباتو قانون اصلاح او تعدیل کړي شي بله چاره نشته او خورا اهم اړخونه یي چه باید اصلاح شي دادي.

۱ – باید چه کاندیدانو لپاره خاص صفات وضع کړي شي، او که کاندیدان د هیئاتونو او انجمنونه او ممثلین وی نو باید چې دغه انجمنو نه او هیئاتونه واضحه پروګرامونه او ټاکلي تفصیلي اغراض او مقاصد ولري ترڅو د هغې پا اساس خپل کاندیدان وړاندې کړي ، او که د هیئاتونو او انجمنو نماینده ګان نه وی، نو با ید چه دوی پخپله د داسې صفاتو او اصلاحې پروګرامونو لرونکي وی چه دوی ددې اهل وګرزوي چه د امت دنیابت لپاره راوړاندي شي او دا مسئله تر ډیره حده پورې په مصر کي دسیاسي ګوندونو او په هغو کې د سیاسي هیئاتونو په اصلاح پورې اړه لري.

۲ – باید د انتخاباتې تبلیغاتو لپاره حدود وټاکل شي ، او څوک چه له دغه ټاکلو حدودو څینې تیرې وکړي دهغه لپاره سزا او ټاکلې شي، او دا په دي ترتیب چه د انتخاباتې تبلیغاتو اصلي محور د کاندید پروګرامونه او اصلي نقشي وی نه د هغه شخصیت او کوی او نی اوایل.

۳ – انتخابا تې جدودلونه باید اصلاح شي او د کاندید شخصیت دپلټنې نظام عام کړي شي، په دي وروستنې وختونو کې حکومتي مقصدونو او د ګوندیتوب خواهشاتو، او جبرې ووټ ورکولونه اودانتخاباتې جدولونو کار څه عجیبه شانته باتي رشوتونو لپاره باید سخته سزا و ټاکلې شي.

٤ – په انتخاباتو کې دهرډول جعلګاری لپاره او همداراز د انتخاباتې رشوتونو لپاره باید سخته سزا وټاکلې شي.

۵- کله د فردي انتخاب پرځای انتخاب د ورقی پرمخ وشي دا به ډیره ښه وی ترڅو نائبان (( د شوری وکیلان)) د خپل ټاکنو له فشار نه ازاد وی او د وکیلانو سره د اړیکونوعیت او د هغوی د شخصیت په اندازه کولو کې عامه ګټې د شخصې منفعتونو ځای ونیسی.

په هر حال د اصلاح او تعدیل لارې ډیرې دي دا صرف د هغې یوه نمونه ده. او کله چې عزم ریښتنې شي نو لاره پخپله واضح کیږې، او په همدې حالت باندې پریښودل او پرې راضي کیدل او د اصلاح کولو له کوښښ نه مخ ګرزول قطعا . خطا خبره ده.

د حکومت ضعف

په دي کې د هیڅا خلاف نشته چه داوروستني حکومتونه د خپل مسؤلیت په سرته رسولو کې پاتي راغلي دي او دیو حکومت په حیث یې د خپل هیبت زیاتره برخه د خلکو په زړونو کې له لاسه ورکړي ده او ددې یوازینې سبب همدا په حق او باطل یو شاني جرحه ده چه د سوچه ګوندیتوب روحیه یې املا کوي او همدا ناتواني ده چه د مسؤلیتا د نه تحدید او پوره سرته نه رسولو په نتیجه کې مینځځ ته راغلي دي، اوکه داسي نه وی نو د صره په خلکو کې خو داطاعت او خبري منلو روحیه ډیره قوي وه  لیکن چارې همغسي بې له کوم نوښت او ابتکار نه په زاړه تعامل سره چلیږي، ځکه چه د څه  تعطل په حال کې دي او اداري څرخ دومره کمزورې او ناتوانه دي چه نشي کولای چه دولس اړتیاوی ترسره کړي او یا دخلکو لپاره کوم کار وکړی.

د قانون هیبت

په دي کې څه شک نشته چه د قانون قوت او غلبه متزلزل شوی ده او همداراز خپل زیاته برخه احترام یې له لاسه ورکړي دي او د هغي وجه همدا بي ځایه استثناءت ، او بي ځایه بر شمیرني او یو په بل پسي حیلي باني او کله نا کله د خپلو شخصې اغراضو لپاره دقانون منسوخ کول دی.... که څه هم. دا منسوخ کول د یو بل قانون په تکیه سره وی خو ددې اصلي انګیرني همیشه په زړونو کې د قانو ن هیبت او د نظام احترام له مینځه وړي.

ورِوند کندیتوب

په دي کې هيڅ شک نشته چه د خصومت او کيني او د حاکيمنو او محکومينو په سينو کـي لالهانـد دي ده، او ددې اصلي او يوازينې سبب همدا غلط او خطا گونديتوب دی ، ددې گونديتوب نه خـو کلـه هـم مونږ په مصله کې داسي مفهوم ونه ليده چه دا صرف دراءی خلاف دی او پـه دوسـتانه اړيکـو څـه اغيـزه نـه کوی بلکه مونږ چه کومه نتيجه ورځينې ليدلې دهغه داسي بغض او عداوت دې چـه پـه عامـه مصـالحو کـي دراءی او نظر له خلاف نه يو گگام وړاندې تيريږي او خبره په عامو او خاصو چارو کې پريکړې او مقاطعي تـه رسيږي آن تردي چه د گوندي خصم ترڅنگه حق هم راته نـا حـق معلـوميږي. او همـدا شـعور زمـونږ پـه ټولـو تصرفاتو او اړيکو باندي حاکم دي ، او دا ناروا غتلياه همداسي پسي لوئيږي او خپريږی او تردې چه پـه ډيـرو سختو حلاتو او دريځونو کې هم همدا حال وی. نو له دې کبله مونږ نشو کلـولای خپـل صـفونه سـره پـه هـيڅ دريځ کې يو کړو که څه هم په دې پورې زمونږ د چارو اصلاح او د هيواد راتولونکې تړلي ده.

او همدا کرکجن او د بغض او کيني نه ډک شعور د گونديتوب نه همدوي غلط مفهوم اخيسـتي چـه تبا ه هکوونکي دښمني ورځينې جوړيږي ، د هغو له نتيجو ځينې دا هم دي چه لوی فکـري زيارونـه او عملـي کوښښونه ددې د چارو خواته واوښتل او زمونږ د ټولو کسانو ټوله توجه يي ځانته راواړولـه او هغـه دا چـه پـه کوندي دښمن باندې حمله کول، او د هغه له چالونو او تدبيرونو ځينې ځان ساتل. حاکم او واکمن خپلـه ټولـه توجه او پاملرنه همدې دوه اړخونو ته راگرزوي او د واکمن په دې پاملرني سره په معارضه او کشـاله کـې څـه کمي هم نه راځې، او په همدې لاره کې حقوق ضائع کيږی او مصالح معطل پاتی کيږي ، دوسـتان پـرې خفـه کيږي او دښمنان پرې خوښيږي او د وطن په سينه پروت ښامار دښمن ترينه گټه اخلي.

او د همدې حالت نتيجه داشوه چه دملت معنويات مات شول او پـه ماديـاتو کـې فسـاد او گـډوډې مينځ ته راغله او خبره دي حد ته ورسيده چه نور د صبر په لينده کې هم څه غشي پاتي نـه دي، او پـر تـا لـه قاطع او سريع او موثوق بدلون نه بله جاره نشته .... يا به د جارو واکمنان دا حقيقت درک کړی. او په خپلـه راءی او خپلو لاسونو به په بيړه سره د صالحو تغيراتو اجراءت اوکوی او په همدي کې استقرار او سلامتيا ده او دا اصلاح لپاره لا تر اوسه کافی وخت شته دي، او يا به همداسي په همدې اصراف کې پاتي کيږي او حواديث به پرې مخکي کيږي او د چا رو واگي به يې له لاس نه وځي او بيابه ددې پـه نتيجـه پرتـه لـه اللهجـل جلالـه ځينې بل څوک نه پوهيږي.

نـو ال ددې وطـن واکمنـه!..... ای د حکومـت رئيسـه!..... ای دا زهـر خلکـو...... ای د گونـدونو انجمنونو مشرانو ..... ای په دي غمجن وطن باندې غيرت کونکو.

د فرضت دلاسه تلونه مخکې د چارو تدبير وکړی آو ستاسو په مخکي د اسلامي نظام د نجات کشتۍ ولاړه ده او د چاور پای د خدای سره دي.

خدايه! ته گواه اوسه چه ما دوی ته حق ورساوه.

پای

درسول الله صلي الله عليه وسلم د حکومت نظام

يادونه

دا د مولنا صاحب د هغه تقرير پوره متن دې چه د پاکستان د راډيـو لـه لارې د هغـې د خبريـالانو د پوښتنو په ځواب کې ويل شوي او خپور شوي دي.

دراډيو خبرايال: ښاغلې د اسلامي تحريک مشر سيدابوالاعلى مـودودي! د پاکسـتان دراډيـو لپـاره دا يوه مبارکه لحظه ده چه د راډير خبريال. (( اشاره خپل ځان ته)) ستاسو په خدمت کې حاضر دي، هيله ده چه د پاکستان مسلمان ولس د ديرش کاله بې لاري توب نه وروسته داللهجل جلاله د رسۍ نيول غواړي، او د لوی خدابجل جلاله په فضل نن په دي هکله هيڅ اختلاف نشته دي، قدرمنه مولنه صـاحب! پيشـوايان خـو نـورهم دي خو ليکن زمونږ د پريشان خيال ، حال دادې چه. زه اوس خپل رهبر نه پيژنم. (( د شعر معنی))

نن مونږ په سـمه لار بانـدې د ګـام ايښـودلو لپـاره دهـادي حـق رسـول اللهصـلي اللـه عليـه وسـلم د لارښوونې غوښتونکي يو تر څو چه زمونږ دين او دنيا دواړه : منظم کړي شـي. عزتمنـد مولنـا صـاحب! لمړنـي عرض دادې چه تاسو مونږ ته د رسول اللهصلي الله عليه وسلم د حکومت د طـرز پـه هکلـه معومـات راکـړئ، دويمه خبره داده چې په ننئ زمانه کې د يو پرمخ تللي هيواد د ښوالې او بد والې د معلومولو لپاره د لانـدنيو څلورو اړخونو د هغه تحقيق او معلومات کيږي.

١اقتدار اعلى د چادي؟

٢ – د مفننى ډول او اختيار څه دی؟

٣ – عدليه ترکومه حده پورې ازاده او خپل واکه ده؟

٤ – د اجرائی حدود، اختيارات او ځانګړتياوي څه دی؟

ستاسو نه غوښتنه ده چه له دی اړخه د رسول اللهصلي الله عليه وسلم په مبارکـه زمانـه بانـدې رڼا واچوئ مونږ دنن لپاره دسباليارة او د تل لپاره داللهجل جلاله او د هغه روسولصلي الله عليه وسلم د احکامو او لارښونو سره سم ژوند سرته روسلو لپاره د يوي خزانې په لټون کې يو، زما ره په دی کار کې ملګري عبدالوحيد خان صاحب، دی چه له تاسو نه به ضمنا پوښتنې وکړي قرمنا زما لمړې عرض پاي ته رسيږي.

ځواب: زه ډير خوښ يم چه تاسـو ماتـه دا موقـع راکـړه چـه د هيـواد مسـلمانانو تـه پـه عـام ډول او واکمنانو ته په خاص ډول دا وښايم چې رسول اللهصلي الله عليه وسلم چه کوم نظام قايم کړي ؤ د هغه بنسټ او شکل څه ؤ.

په اساسي ډول کوم څيز چه رسول اللهصلي اللـه عليـه وسـلم وړانـدې کـړي ؤ داؤ چـه اقتـدار اعلـى يواځې دالله دی بل څوک پکې شريک نشته ، زمکه دخدای ده، هوا، اوبه ، او رڼا او ره هغه څيز چـه مـونږ يـي لرو او په هغه کې چه کوم قوتونه دی، د هغه چه کوم غړي دی ټول اللهصلي الله عليه وسلم مـونږ تـه راکـړي دي، مونږ دا هيڅ حق نلرو چه پخپله د اقتدار دعوی وکړو يا د کوم داسې شخص يا ډلي دعوی قبوله کړو چه د اقتدار اعلى مدعې وي، هغه لمړنۍ خبره چه انحضرتصلي الله عليه وسلم کوښښ وکړ چې د خلکو پـه ذهـن کې کيښينوي او په هغې باندې ايمان راولو ته يې خلکو ته بلنه ورکړه هغه دا وه چه ملک هم دالله تعـالى دی او حکم هم دالله تعالى دی او له دې نه پرته هيڅ انسان د قانون جوړونې حق نه لری.

دویمه خبره چه هغه همداراز بنسټیز ارزښت لري داده چه انحضرت صلي الله علیه وسلم خلکو ته دا وښودل چې الله تعالی مستقیما نیغ په نیغه خلکو ته قانون ورکوی بکلی د خپلکو استاځو په وسیله یې ورکوی ، رسول اللهصلي الله علیه وسلم د چاکلی واکمن نه و او نه پخپله جوړ شوی حکمران ؤ بلکه الله تعالی هغه په دی منصب باندې ټاکلي ؤ چه خلکو ته تعلیم ورکړي د هغه روزنه هم وکړی ، د هغوی ذهن او فکر او اخلاق هم سم کړي هغوی ته ادالله تعالی احکام هم ورسوی، او کومو خلکو چه د هغه د احکامو په منلو سره د هغه په حق والي باندې ایمان راوړې وي د هغو په ذریعه الهی احکام نافذ کړی.

دریم مهم څیز چه رسول اللهصلي الله علیه وسلم دالله تعالی له لوری انسانانو ته وښوده او په هغه باندې یي د ایمان راوړلو دعوت ورکړ هغه د اخرت تصور دی، که انسان خپل ځان دالله تعالی په مقابل کې ځواب ویونکې ونه ګڼې او د هغه دا یقین نه وی چه یوه ،ورځ به مړکیږي او خپل خدای خضورته به ورځې او د خپلو اعمالو ځواب به ورکوی نو هغه نه د اسلام په لاره تلې شو، نه په حقیقي معنی سره انسان ورځینې جوړیدلې شي.

دا عقائد رسول الله صلي الله علیه وسلم پوره دیارلس کاله خلکو ته ددعوت او تبلیغ په ذریعه وړاندې کړل، او هغه خلک یي د یو جماعت او یو امت په شکل کې منظم کړل.

په مکه کې د انحضرت صلي الله علیه وسلم وروستنې دري کله داسې ؤ چه په هغې کې د مدینې منوري په اوسیدونکو کې یوی کوچنۍ شانته ډلې ایمان راوړو او انحضرتصلي الله علیه وسلم ته یې بلنه ورکړه چه د خپلوټولو مسلمانانو سره زمونږ ښارته تشریف راوړی، حضرت عایشی رضی الله عنها ډیر صحیح فرمایلي دی، چه(( مدینه قرآن فتح کړیده. یعنې هیڅه توره په منځ کې نه وه، کوم زور او قوت په منځ کې نه ؤ چه د هغې له مخي د مدینې خلک د اسلام تابع شوی وی، بلکه کله چه هغوی ته قران ورسیده او په مکه معظمه کې چه کوم سورتونه نازل شوی ؤ د هغوی په علم کې راغلل نو هغوی نه یواځې دا چه صحیح ایمان یې ورباندې راوړو، بلکه هغوی خپل ورکوټې شانته کلې ته رسول اللهصلي الله علیه وسلم او د هغه ملګروته دراتلو بلنه ورکړه، دا ددې خبري دعوت ؤ چه انحضرتصلي الله علیه وسلم او د مکي مسلمانان دې د هغوی تر څنګه پناه واخلي، بلکه ددې خبرې دعوت ؤ چه حضورصلي الله علیه وسلم دي د هغوی ښوونکې، روزونکې، او واکمن وی، د مهاجرینو او انصارو نه دي یو مسلمان امت جوړ شي او په مدینه کې دي د ژوندانه هغه نظام قایم شي په کوم باندې چه دې امت ایمان راوړی دي،په دې ډول کله چې انحضرت صلي الله علیه وسلم مدیني ته ورسیده په همغه ورځ د اسلامي حکومت بنسټ کیښودل شو.

ددې حکومت لمړنې کار دا ؤ چه په خلکو کې د اسلام علم خور کړي شي، ځکه چه اسلام د جهالت نوم نه دي د علم نوم دي، انحضرت صلي الله علیه وسلم او د هغه ملګرو خپل ټول قوت په دې خبره مصرف کړ چې خلک په دي پوه شي، او چه پوه شي ایمان راوړي ، څومره چه دا علم خوریده او خلکو پیژانده او ایمان یي پرې راوړو داسلام قوت هم مخ په وړاندي ولاړ او بنسټ یې مضبوط شو.

دویم لوی کار چه انحضرتصلي الله علیه وسلم وکړهغه داؤ چه د مسلمانانو اخلاق درست کړی شي او یوه داسې ټولنه مینځ ته راشي چه د هغې هرڅیز په نیکو اخلاقو باندې بنا وی. کوم نظام حکومت،چه هغه هرڅومره د ښې مرتبې وی، او د هغه قوانین چه هرڅومره بهتروی که چیرته د هغه مانۍ څښتن د اخلاقو په مضبوط بنسټ باندې ولاړه وی، که د هغه حکومت چلوونکې د لوړو اخلاقو او سیرت څښتنن وی، او هغه ټولنه چه په هغې کې دا نظام قایم کړي شوي وی ایمانداره او له خدای نه وریدونکې نه وی هغه کله هم په

برياليتوب سره چليدلې نشي، له دې کبله د ايمان د دعوت او علم له خوريدلو نه ورسته چه انحضرتصلي الله عليه وسلم تر ټولو زيات په کوم څيز باندي زور اچولې ؤ هغه د اخلاقو صفايې وه، د انحضرت صلي الله عليه وسلم د قائم کړی نظام حکومت فطرت همداغوښتنه کوی چه د خلکو اخلاق دی بالکل ددې نظام د مزاج سره سم وی، په دې صورت کې د احکامو د نافذکولو لپاره د قوت استعمالولو ته اړتيا نه پيښيږي، په جبر او زر سره د اطاعت منلو او فشار سره دتابع کولو ضرورت مينځ ته نه راځې ، بس همدومره ويل بس وی چه الله تعالی د فلانې څيز حکم کړی دی او د فلانې څيزنه يې منع فرمايلي دهٔ تردې وروسته خلک پخپله په دې فرمانونو باندې عمل کوی، د رسول اللهصلي الله عليه وسلم په حکومت کې نه کوم پوليس ؤ ، نه کوم زندان او ، نه د جاسوسئ کوم نظام ؤ، نه ددې خبرې هيڅ تصور نشو کيدای چې د هغه مبارک له خولي نه دی کوم حکم خلکو ته ورسيږي او هغوی دی ورځينې سر وغړوی.

د مثال په توګه د شرابو د ممانعت مسئله واخلئ، کوم وخت چه د مديني په کلې کې دا اعلان وشو چه شراب حرام کړي شوې دی، هغه وخت د شرابو چاټي ماتې کړي شوی او د څښونکو لاس چه چيرته ، هملته ودريد، د قانون ددې ډول پابندئ مثا ل د ټول انسانيت په تارخ کې نشې موندل کيدلې، ددې برعکس په امريکه کې په ملياردونو روپئ په دې کار خرڅ کړي شوی چه خلک د شرابو په بدئ او د هغې په نقصاناتو باندې قائل کړي شي، په ډيره لوړه پيمانه د شرابو پرخلاف تبليغات وکړی شول او د عامه رای يو په بل تائيد سره د امريکا په قانون کې به ترميم کولو سره د شرابو د منع کولو قانون منظور کړای شوو د هغې په دويمه ورځ. په هيواد کې د هغې نه خلاف کول پيل شول ، ډول ډول زهر لرونکې شراب وڅښلې شول، او دې وبا دومره خطرناک صورت اختيار کړ چه دا قانون او په هغې باندې عمل کول سملاسی بنديږي او بل ځای د ډير تياري نه وروسته د خلکو په خوښه قانون جوړيږي او بيا هم خلک هغه ماتوی، د حکومت د صالح نظام بنسټ په ايمان او اخلاقو باندې ولاړ وی، چيرته چه دا دواړه څيزونه نه وی هلته که تاسو د کاغذ پرمخ هرڅومره ښه قانون جوړ کړئ په زمکه باندې هغه کله هم نافذ کيدلې نشي.

پوښتنه: په اوسنئ زمانه کې د غربي جمهوريتونه چه کوم څلور خصوصيتونه دی، درسول اللهصلي الله عليه وسلم په زمانه کې دا څلور خصوصيتونه په څه کې ؤ؟

ځواب: ترکومه پورې چه د اقتدار راغلې تعلق دی هغه ما ښودلې دبې چه رسول اللهصلي الله عليه وسلم د تعليم سره سم دا اقتدار يواځې د اللهجل جلاله دی، پاتي شو د حکومت د نظام په دريو څانګو کې ويشل يعنې اجرائيه، معننه او قضائيه، دا درسول اللهصلي الله عليه وسلم په حکومت کې نه ؤ، انحضرت صلي الله عليه وسلم قانون ورکونکې هم ؤ او حاکم هم، دالله تعالی د ټاکلې نبی په خيث سره داټول اختيارات د هغه صلي الله عليه وسلم په ذات کې راټول شوی ؤ.

ليکن د انحضرت صلي الله عليه وسلم دستور دا ؤ چه کوم حکم چه به الله تعالی له لورې نه ورکول کيده په هغه کې به يي له خلکو نه بی د چون و چرا اطاعت غوښتنه کوله، په دې کې به د هيڅ چا لپاره دخبري کولو ځای نه و ، ، ليکن په کومه معامله کې چه به لپاسه حکم نه ؤ راغلی په هغې کې به يي پخپله خپلو ملګرو سره مشوره کوله او اصحابو ته يي دا حق ورکاوه چه ددهصلي الله عليه وسلم له رای اختلاف وکړي او ډير ځله داسې شوی دی چه هغه صلي الله عليه وسلم خپله رای پريښې د هغوی رای يې منلي ده. مشهوره وقعه ده چه د بدر د جګړي په موقع کې چه په اوله کې انحضرت صلي الله عليه وسلم په کوم ځای کې ديره اچولي وه يو صحابی راپورته شو او پوښتنه يي وکړه چه دا ځای تاسو دالله په حکم سره ټاکلې دي او

که ستاسو خپله راءی ده؟ حضور صلي الله علیه وسلم وفرمایل: چه نه ما پخپله تجویز کړي دي، په دې سره بیاهغه صحابی عرض وکړچه د جنک له نقطه نظره ددې په ځای هغه فلاني ځای ډېر موزون دی او انحضرت : د هغه راءی ومنله.

له دې نه تاسو پوهیدلي شئ چه انحضرتصلي الله علیه وسلم خلکو ته دوه ډوله روزنه ورکوله، یوه ددې خبرې روزنه وه چې کله دخدابجل جلاله له لورې کوم حکم راشي نو بې له ځنګه او ولې ځینې یې اطاعت کوئ، دویمه رزنه ددې خبرې وه چه په کومه معامله کې د خدابجل جلاله حکم نه وی په هغې کې دي د راءی لرونکو کسانو سره سلا وکړي شي. د انحضرتجل جلاله د راءی سره په اختلاف کولو پوره حق ورکړي شي، د انحضرتصلي الله علیه وسلم د راءی سره په اختلاف کولو سره دې بله رایه ورکړي شي او د مشرئ نه ورسته چه په کومه خبره فیصله وشي په هغې دی عمل وکړي شي.

یو بل مثال وګورئ.

د احزابو د جنګ په موقع کې چه کله حالات ډېر نازک شول نو رسول اللهصلي الله علیه وسلم داسې اراده وفرمایله: چې ددښمنانو څو قبایلوته ، چه د هغو لوی قوت هلته راټول شوی ؤ، د مدینې د حاصلاتو د یوی برخي په وړاند کولو سره دي هغوی د مخالفینو له ډلې ځینې جلا کړي. د انصارو مشرانو عرض وکړ چه د ا معامله تا د الله تعالی په حکم سره په دې ډول فیصله کوئ او که نه دا ستاسو خپل خیال دی؟ انحضرتصلي الله علیه وسلم وفرمایل: چه دا زما خپله راءده، زه تاسوله دې خطرې نه ویستل غواړم په کومه کې چه تاسو پراته یاستئ، هغوی وویل: ای دخدای رسول! هغه وخت چه مونږ کافر ؤ په هغې زمانه کې هم دا قبائل زمونږ نه د یوی دانې په اخیستلو سره نه دي بریالي شوی، او اوس خو لا مسلمانان یو اوس له مونږ نه کوم څیز څنګه اخیستلي شي؟ چنانچه همغه وخت دا معامله د هغوی د وینا سره سمه ختم کړي شوه . له دې مثال هم تاسو درسول اللهصلي الله علیه وسلم په طرز حکومت باندې په ښه ډول پوهیدلې شی په کومو معاملاتو کې به چه د الله تعالی حکم ؤ هلته هیڅ جمهوریت د خلکو رایه نه ؤه، او په کومو معاملاتو به چه له پاسه حکم نه ؤ په هغې کې پوره جمهوریت ؤ.

اوس قضائیه واخله، رسول الله صلي الله علیه وسلم د الله تعالی مقرر کړي قاضي ؤ ، له همدې کبله ټوله قضائیه قوه د انحضرت صلي الله علیه وسلم په لاس کې وه په دې معامله کې د هغه طریقه دا وه چه نه یواځې انصاف وکړی شي بلکه خلک دا هم ویني چه انصاف کیږي ټول موضوعات به په ښکاره ډول سره فیصله کیدل، د پټو فیصلو هیڅ مثال د انحضرتصلي الله علیه وسلم په قضائې سیستم کې نه لیدلې کیږې ، مشهوره واقعه ده چه د مکې د فتح نه مخکي یو صحابی د مکې مشرکانو ته یو خط ولیکه چه په هغه کې یې مشرکینوته اطلاع ورکړي وه ( چه پر تاسو حمله کیدونکي ده هغه خط بیا ونیولې شو) او دا په ښکاره په ډاګه د جاسوسئ معامله وه، په اوسنئ زمانه کې خوبه خلک وایي چه دداسې خطرناکې معاملې تحقیق او فیصله دي د تړلو دروازو تر شا په بنده کوټه کې وکړي شي، مګر رسول اللهصلي الله علیه وسلم په نبوی مسجد کې د هغه خلاصه او په ډاګه محاکمه او فیصله وکړه، د هغهصلي الله علیه وسلم دویمه قاعده دا وه چه هیڅ شخړه او مسئله دی د دواړو اړخونو(( مدعي اومدعی علیه)) د خبرو له اوریدلو نه پرته غائبانه د فیصلې لپاره د بحث لاندې ونه نیولې شوې تورن ته دی د خپلې صفایې او د ځان نه د قانوني دفاع کولو پوره حق ورکړي شي او د یوی لحظي لپاره دی هم له خپل دي اساسي حق ځینې بې برخي نه کړي شي انحضرتصلي الله علیه وسلم چه د مدینې نه بهر کوم قاضیان ټاکلي ؤ هغو ته یې همدا هدایت ورکړي ؤ، چه د دواړو اړخونو د خبرو

له اوريدولو پرته په هيڅ معامله کې فيصله ونه کړئ، په قضائي چارو کې د سپارښتني دروازه انحضرتصلي الله عليه وسلم ډير کلکه تړلې وه، د مکې د فتح کيدولو نه وروسته د قريشو د يوی پټمنې کورنۍ يوی ښځي غلا وکړه، د هغې ښځي کورنۍ ډيرې هلې ځلې، منډې تړړي وکړي چه د هغې لاس پرې نه کړې شي،د حضرت اسامه بن زيدرضي الله عنه لـه لارې، چـه حضورصـلي اللـه عليـه وسـلم تـه ډيـر ګـران ؤ سـفارش وکـړي شـو، انحضرتصلي الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل: چه ته داللهجل جلاله د حددو په معامله کې سپارښتنه کوی؟ له تاسو نه مخکې چه کوم قومونه تيرشوي دي هغوی له همدې کبله تباه شول چه که د هغوی کوم عام سړی به جرم وکړ، هغه ته به د قانون سره سمه سزا ورکول کيده، او که کومو لويو خلکو به همغه جرم وکـړ نـو د هغـو سره به رعايت کيده، زما دي په خدابجل جلاله سره سوګند وی که د محمدصلي الله عليه وسلم لور فـاطمې رضی الله عنها غلا کړی وي هم ما به يې لاس پرې کړی ؤ ، په دې توګه هغهصلي الله عليه وسلم نه يـواځي د سپارښتنې دروازه وتړله بلکه دا اصول يې هم قايم کړل چه د قانو په مقابل کـې ټـول خلـک سـره برابـر دی، دا اصول يي هم قائم کړل چه که څوک محکمې ته په دوکي او فريب ورکولو سره په خپله نفـع غلطـه فيصـله تـر لاسه کړي د هغې فائده يواځې دنيوی وی په اخرت کې يې هيڅ څيز هغه د خدای: له نيولو نـه خلاصـولې نـه شي.

تردې ورسته د مقنني مسئله مخي ته راځي ، کوم دين چې رسول اللهصلي الله عليه وسلم راوړي ؤ په هغې کي د انحضرتصلي الله عليه وسلم حيثيت د قانون جوړونکې نـه ؤ، بلکـه د قـانون د تطبيـق کـوونکې ، د قانون د تشريح کوونکې او خلکو ته د هغه مطابق د عدل او د انصـا ف چلولـو تربيـت ورکـوونکې حيثيـت يـې درلود، هغه صلي الله عليه وسلمس خلکو ته دا وښودله چه د الله جل جلاله قانون څه دي؟ او بيـا يـې د هغـه تشريح او تفصيل وفرمايلو چه په سنتو کې موجود دي، د مثال په توګه په قرانکريم کې د غلا د سزا حکـم پـه ډيرو لنډو الفاظو کې بيا ن کړي شوې دي چه د غله لاس پرې کړئ، تردې زيات په قرانکريم کې څـه تفصـيل نشته دی اود رسول اللهصلي الله عليه وسلم سنت دی چه مونږ ته يې ته راوښودل چه په څه وخت او حالت کې به په دی حکم باندې عمل کيږي او په څه ډول حالاتوکې په نه کيږي ، غلا څه ته وايي، د څه قسم مال او څومره مال د غلا کولو لپاره دا سزا ده او په دې به عمل څه ډول کيږي چه حضورصلي الله عليه وسلم په خپله د قانون جوړوونکې نه ؤ، بلکه اصلي قانون جوړوونکې الله تعالی ؤ او هغه صلي اللـه عليـه وسـلم داللـه رسـمي مقرر کړې شارح ؤ، همداراز کوم څيز چه مونږته اسلامي قانون وايې هغه د قران او د سنتو د مجمـوعې نـوم دی.

د قانون د تنفيذ او تطبيق په هکله چه هغهصلي الله عليه وسلم کوم نظام مقرر کړي ؤ د هغې عمده اصول دا ؤ چه تر څو کيدلې شې خلک له سزانه بچ کړی، د قاضي لپاره د کوم مقصد په پرېښودلو کې غلطـي کول له دې نه بهتر دی چه بې ګناه ته د سزا په ورکول ک غلطي وکړي، د خپل منځئ شخړو فيصله دي خلک پخپله وکړی، يا که د چا قصور د معاف کولو وی معاف دی کړی، يا د چا په جرم او ګنـاه بانـدې پـرده اچـول وي نو وادی چوی، دا ټول هرڅه محکمي ته معاملې د رسيدلو نـه مخکـې مخکـې کيـدلې شـې. خـو چـه کلـه معامله قضاته ورسيږی نو بي هيڅ معافی او هيڅ پرته اوچونه او پټونه نشي کديلئ تـردی ورسـته بـه يـواځی د قانون سره سم فيصله کيږي په محکمه کې په فيصله باندې د اغيزي کولوهر کوښښ انحضرتصـلي اللـه عليـه وسلم په کله منع وفرمايه قاضي ته يي دا ازادی وکړه چه د قران او سنت او د خپـل علـم او پـوهی سـره سـم خپلواکه او ازاده فيصله کول يا د علم سره غلطه فيصله کوله سخته کناه ده، صـحيح قاضـي هغـه دی چـه پـه

قانون بانې د علم او پوه ولري او د خپل دی علم او پوهی سره سمه بي له څه رعايت او لحاط ځينې فيصله وکړی.

په دې لړکې څو نورو خبرو باندېد هم ځان پوهول په کار دی چه په اوسنۍ زمانه کې سياسي نظريات په بنسټ ګرځول و سهر د رسالت د زمانې معاملاتو بانې د په ښه توګه پوه نشې حاصيلدلې نو د مثال په توګه : په دی زمانه کې د حکومت دوری عمده څانګې وی، اجرائيه ، مقننه ، او قضائيه، بيا په قانونې لارو چارو سره دا ټاکل کيږي چه ددی څانګوحدود او بريدونه څه دی؟ مګر په هغه زمانه کې دمعاملي صورته دا ؤ چه د رسول اللهصلي الله عليه وسلم مديني ته د تشريف وړلو نه مخکې هلته د لويو لويو کورنيو جلا جلا احاطي وی چه د هغې د ننه به د هغو باغونه، د هغو کورونه او چوپالونه ؤ، هلته قبايلې نظام رواج در لوده او د هری قبئلي خلکو به خپل معاملات او چارې په خپله چلولي، په مکه معظمه کې چه کله د مدينی والو يوی لوئي ډلی د انحضرتصلي الله عليه وسلم په مبارک لاس باندې بيعت وکړ، نو د هغوی په خپله غوښتنه باندې انحضرتصلي الله عليه وسلم له هغوی ځينې دوولس تنه نقيبان چه خپلو خپلو قبيلو کې زيات قابل و دير اغيزمن او زيات باوری کسان ؤ، وباکلی و او د هر نقيب دا مسئوليت ؤ چه د خپلي قبئلي په بيلا بيلو کونيو کې چه کوم صالح او معتبر مشران وی د هغوی په مرسته دی اخلاقي او نو معاملات سموی ، او په قبيلو کې او کورنيو کې چه کوم خلک په فرضی ډول سره مشران ؤ له هغوی ځينی ايمان راوړونکې کسان انحضرتصلي الله عليه وسلم پخپله مشران کړی ،، بيا کله چه انحضرتصلي الله عليه وسلم مديني ته تشريف يووړ نو همدانظام يی بر قرار وساته، کوم توپير چه راغي هغه دا وه چې په شاکې د مشرکينو سردار انو پرځای ايمان راوړونک کسانو ته د مشرئ مقام حاصل شوو دا تغيرد قوتونو په ذريعه منځ ته رانغې بلکه دا داسلامي انقلاب فطرې وړاندې راغلل، د شاری چارو د چلولو لپاره حضروصلي الله عليه وسلم د مهاجرينو د اهل رائ او انصرو د مشرانو سره سلا کوله ، دې داوسنۍ زمانې د مقننه قوی يا پارلمانه څه مشابهت او ورته والي نه درلودو په مسلمانان کې چه به څوک اغيزمن او وړو ؤ هغه به د مهاجرينو ځينې او کـه لـه انصارو ځينې پـه هـر مهمه موقع ، هره مهمه معامله کې، لکه چې به ضرورت پيښيده د سلا مشورې لپاره رابلل کيدل هغه د خلکو له خوا ټاکلې شوي نه ؤ، د هغوی لپاره کوم منظم انتخابات نه ؤ شوی. ليکه هغوی داسې اغيزمن د علم خښتن او پوهه خلک ؤ چه که داوسنۍ زمانې په طريقي سره انتخابات هم وای نو همغوی ټاکل کيدل په هر معامله کې د هغوی ټولو رابلل ضروروي نه ؤ، کوم وخت چه به په کومه مسئله کې سلا مشورې ته اړه پيدا کيده په همغه وخت چه به کوم خلک موجود ؤ د هغوی رائ په اخيستل کيده او په ډيرو لويواو مهمو مسائلکو کې به صرف دا اعلان کيده چه خلک دی نبوي جومات ته حاضر شې.

د مديني نه د باندې چه کله د اسلامي مملکت خوريدل پيل شول نو په بيلا بيلو سيمو کې واليان وټاکلې شوو هغوی د خپلو سيمو اداره کوونکې هم ، او پوځې قوماندانان هم، په هغه زمانه کې کوم ځانګړي پوځ نه ؤ، کوم وخت چه به ضرورت پيښيده په دا وطلبانه ډول به خلک د جهاد لپاره راتلل، انحضرتصلي الله عليه وسلم په بيلا بيلو سيمو کې قاضيان هم مقرر کړي ؤ د هغه په قضائي چارو کې هيڅ والي لاس نو وهلې ، حضورصلي الله عليه وسلم په هره سيمه کې داسې کسان هم ټاکلې ؤ چه د هغه ځای اوړ سيدونکو ته د اسلام تعليم ورکړي، د تعليم نه مراد نه ؤ چه خلکو ته ليک لوست ورزده کـړي، بلکـه د تعليـم نـه مـراد دا ؤ (( چه خلکو ته قران واوروی، د هغه په مفاهيمو او معانيو باندې يي پوه کړي او د انحضرتصلي الله عليه وسلم له سنتو نه يي خبر کړي، دا کار به زياتره د ژبی په ښودنه سره کيده او معلمينو به د خلکو اخلاقي او ذهني

روزنه په هغه طريقه سره کوله په کومه طريقه چه انحضرتصلي الله عليه وسلم پخپله دوی روزلې ۀ، د مثال په توګه کله چه مکه فتح شوه انحضرتصلي الله عليه وسلم حضرت عباس بن اسيد د مکې والې او حضـرت معـاذ بن جبل يي معلم وټاکه.

د زکوة نظام صورت دا ۀ چه په ځينو ځايونو کـې انحضرتصـلي اللـه عليـه وسـلم خپـل باقاعـده مـالې مسؤلين ټاکلی ۀ او په ځينو ځايونو کې د زکوع رد راټولو چاري د قبيلـو مشـرانو تـه سپارل شـوي وي. کومـو ځايونو کې چه غير مسلم کسانو د اطاعت په قبلولو سره د خرج دا دا کولو معاهده کړي وه هلته هم د خـراج د اخيستلو لپاره کوم منظم ځانګړی مالې مسؤل مقرر نه ۀ، کله چه خيبر فتح شو او د هغه ځای اوسيدونکو د خپلو محصولاتو په نيمه ادا کولو سره سوله وکړه، د فصلونو د لو کولو او شول، ميوه راټوله شوه، پـه دی وخـت کې به انحضرتصلي الله عليه وسلم کوم صحابی ورولېږه او محصولات به يـي نـيم کـړل او يهودوتـه بـه يـي دا اختيا رورکړ چه په دواړو ډېريو کې چه يي کومه يوه خوښه وي هغه دی پورته کـړي. پـه تـاريخ کـې دا واقعـه موجو ده ده چه کله به دی طريقه سره خراج واخيستلی شو نو يهودو چيغي کړي چه په همدې انصاف باندې زمکه او اسمان ولاړ دی.

دا وه د انحضرت صلي الله عليه وسلم د حکومت د نظام لنډه شان خاکه.

پوښتنه: مولنا! ددی ټول تفصيل نه ورسته تاسو چه درسـول اللهصـلي اللـه عليـه وسـلم د حکومـت د نظام په هکله څه وفرمايل: د سړی په ذهن کې دا سوال پيدا کيږي چه نن خونه د انحضرتصلي الله عليه وسلم غوندې جامع سخصيت موجود کيدلې شي نـه نـن داسـې کومـه روزل شـوی ډلـه شـته دی لکـه څرنګـه چـه انحضرت صلي الله عليه وسلم د خلفا راشيدينو په صورت کې تيار او جوړه کړي وه او نه هغه ټولنـه شـته دی لکه چه رڅرنګه رسول اللهصلي الله عليه وسلم تياره کړي او جوړه کـړي وه، اوس کـه نـن مـونږه پـه دی رنګـه شوی جامعه کې داسلامي نظام د نافذکولو لپاره تياری وکړو نو په هغې کې اول ددې څلورو خصوصيتونو کوم چې په ننې دور کې د حکومت خصوصيات ګڼل کيږي څرنګه به ننې دور کې د څرنګه به د اسلامي نظـام پـه قالب کې واچولي شي، بله دا چه دا :دا وړه او ړنګه شوی ټولنه به په هغه معياري ټولنه باندې په څه ترتيب او تدريج سره تبديل کړي شي. په دي هکله به د خپل خيال اظهار وفرمايي؟

ځواب: په دي معامله کې ترټولو لمړنۍ خبره چه بايد ورباندې پوه شو هغه داده چه د کوم څيز نـوم چه اسلامي نظام دي هغه د کوم بي ايمانه او بد عمله حکومت په لاسونو سره چليدلې نشي، کومه له خداجل جلاله نه نه ويريدونکې بيرکراسي هغه نشي چلولې ، په کوم داسې ولس کـې هغـه چليـدلي نشـي چـه د هغـو اخلاقي حالت په عام ډول خراب وی او خربول کيږي ، مونږ تريو وخته پورې د يو داسې پاجا يي نظـام لانـدې ژوند تير کړي دې چه په پوره ډول اسلامي نظام نه وه، خو بيا هم پـد غـي کـې اسـلامي قـانون رواج درلـود او دعامو خلکو تعليم او تربيت علما ۀ او صوفيانو سر ته ر ساوه، له دی کبله که څه هم هغه ټولنه په هغه درجه کې نه وه په کومه درجه کې چه  درسول الله صلي الله عليه وسلم او د خلفای راشيدينو په زمانه کې وه لـيکن ددې سره بيا هم د خلکو عام اخلاقي حالت دومهر خراب نه ۀ لکه چه څومره وروسته خراب شو.

او نه خلک د اسلام له علم نه دومره بي برخي ۀ څومره چه ورسته بي برخي شول، شراب څښل تقريبا په مسلمانانو کې ورک ۀ، خلکو ګناه کوله مګر په ښکاره او بې باکئ سره يي نه کوله ، د اتلسمي پيړۍ پـه نيمـه کې کله چه د انګريز حکومت اول اول په بنګال کې قايم شول د هغه زمـاني ځينـې انګريـز مسـنين ليکـي چـه هلته غلا نه وه او د غله لاس پريکول کيده، د مسلمانانو چاد دروغو ويلو هيله نـه کولـه، هيڅـا دا خيـال نشـو

کولای چې یو مسلمان دي په محکمه کې د د دروغو ګواهې ورکړي، د مسلمانانو عام خلک لیکونکې لوستونکې ؤو بلکه سل په سلو کې سواد لرونکې ،ږ دا د اتلسمي پیړۍ تر نیمائي پورې زمونږ حالت ؤ ورسته چه کله د انګریز دور راغې نو هغوی زمونږ قوانین بدل کړل، مومږ اقتصادي نظام یې بد کړا وزمونږ په اجتماعې نظام باندې یې ډیري بدې اغیزي وکړي اسلامي تعلیم بلکې په دې پورې منحصر شو څه لرونکې کسان مرسته وکړي نو اسلامي مدرسي وچلیدلې شي، حکومت ددیني درسو تعلیم یافته کسانو پرمخ د روزنې دروازی وتړلي ، برعکس د تعلیم کوم نظام چې انګرز رواج کړ، هغه د مسلانانو له ذهن نه د خدای او رسول او اخرت تصورات بالکل له منځ وړونکې ؤ، او دروازې د هغو پرمخ خلاصي وی، دا ټول هرڅه مونږ ته د انګریز میراث پاتې دي، دیر د افسوس ځای دی چه دپاکستان د جوړیدو نه وروسته ددې صورت حال د بدلولو کوښښ وکړې شو، بلکه د انګریز په زمانه کې چه مونږ څومره خراب شوی ؤ په دې ورستیو دیرشو کلونو کې تر هغې لا زیات خراب شو، اوس که کوم اسلامي حکومت قایم شي نو د هغه نه دا هیله نشي کیدلای چه سمدلاسي د مثالي نظام لوري ته وګرزي، د کار په پیل کې چه کوم شي کیدي شې هغه له دې نه پرته کیدي نشی چه حکومت د داسې کسانو په لاس کې وي چه د هیواد ټول ذرایع او وسائل و د ملک ټول تبلیغاتي او د خلکو سره د رابطی وسایل: د ملک ټول تعلیمی نظام او د حکومت ټول اجرائي پالیسي ددې غرض لپاره په کار واچولی شي چه په مسلمانانو کې اسلامي علم په پراخه پیمانه باندې خور کړي شي، او د هغوی عام اخلاقي حالت درست کړي شي، په کومه پیمانه چه اسلامي علم خور شي او عام اخلاقي حالت اصلاح شي په همغه اندازه به د اسلامي نظام لپاره زمینه برابره شي.

همدا څیز ؤ چه مونږ یي هیله لرله چه د انګریز د حکومت د پای ته رسیدونه وروسته کله چې د پاکستان حکومت د مسلمانانو په لاس کې ورشي نو هغوی به د کار همدا طریقه اختیار کړي ، د خلکو سره د رابطی او تبلیغاتو عام وسائل به په پوره شدت او قوت سره په عامو مسلمانانو کې دایمان او صحیح اخلاقو دراپیدا کولو لپاره استعمال کړي، د تعلیم نظام به دیو اسلامې حکومت او ټولني د کار کوونکو او تابعیت لرونکو د تیار ولو قابل وګرزولې شي، الحاد پیدا کوونکې تعلیم به بدل کړي شي او د هغه په ځای به د خدای پرستي تعلیم رواج کړي شي، په عامو خلکو کې به د حلالو او حرامو د تمیز پیدا کولو کوښښ وکړي شي.

خو دا زمونږ بد مرغي ده چه په دې ټولو کې یوه هیله هم تر سره نه شوه، که د هغه وخت حکومت خپل ټول وسائل په دې کار کې استعمال کړي وی نو نن به حالت بالکل مختلف ؤ اوس مونږ باید کار له سره پیل کړو بیشکه د اسلامي قوانینو دنافذ کولو کوښښ وکړې، اسلامي قوانین مدون هم کړی ترڅو زمونږ فضایي محکمي د هغه سره سمې فیصلې وکړای شي، خو بس همدا یو داسې کار نه دی چه د هغی نه دی اسلامي نظام شي، تر ټولو زیات چه په کومه خبره باندې زور اچول په کار دی هغه داده چې زمونږ په ابتدایي او ثانوی ښوونځیو او کالجونو او پوهنتونو نو کې اسلامي تعلیم ورکړی شي د ډله ایزو ارتباطو وسائل ږ فحش او بې حیایۍاو بد اخلاقۍ او جرمونو د خپرولو پرځای په ایمان او عقائدو باندې د مسلمانانو په پوهولو او د هغوی په ذهمن کې ځای په ځای کولو مصرف کړی شي عامو خلکو ته دا وښودهل شي چه اسلامي اخلاق څه دی او کافرانه اخلاق څه؟ او د دواړو تر مینځ توپیر څه دی؟ دمخه ما دا خبره واضح کړیده چه اسلامي نظام په هغه ټولنه کې قائم شوی ؤ چه په هغې کې ترټولو د مخه ایمان ټینګ او مستحکم کړی شوی ؤ.

بیا د همدې ایمان په قوی نبنسټ باندې دپوره اخلاقې نظام پوره اجتماعي نظام ، پوره اقتصادي نظام د پورې سیاسې نظام او ټول قانونې نظام عمارت او درولې شوی ؤ، اوس که مونږ هغی مثالی درو ته

ورکړزیدل غواړو نو باید په همغه ترتیب سره وروګرزو د عامو مسلمانانو په زړونو کې که په خدائصلي الله علیه وسلم ایمان په رسول باندې ایمان، په قران باندې ایمان او په اخرت باندې ایمان په ټینګه ځای په ځای نکړی شي نو یواځې د قوانینو په بدلولو سره کار نه چلیږی تاسو ته معلومه ده چه د دروغو په دوسیو جوړولو کې زمونږ پولیس دومره مهارت لری چه ټولی نړی ته چلینج ورکولې شي چې زمونږ په مقابل کې دی بل هم څوک داسې د دروغو دوسیه جوړه کړی، د ګواهانو حال دادی چه محکمې ته ولاړ شي نو صحیح ګواهی ورکول ګوندي ګناه ګڼل کیږي خلک په دې پوهیږي چه محکمه ده دروغو د ګواهی ورکولو ځای، پولیس پخپله د دروغو ګواهانو پوره ډله تیاره ساتي که یواځې همدا څیزونه په نظر کې ونیول شي نو تاسې اندازه وکړی چه زمونږ په خاوره کې به اسلامي قانون په صحیح ډلو سره څنګه نافذ شي. خو په داسې حال کې چه د هغه نافذوونکې ټول ماشین پخپله خراب وی، د اسلامي قوانیونو د نفا ذ تدبیر په ښوولو سره د موجوده حکومت لپاره هم او د راتلونکې حکومت لپاهر هم دا ضروروی ده چه د ملک انتظامیه هم اصلاح کړي، د تعلیم نظام هم اصلاح کړي، او د ملک ټول ډله ایز وسائل په دی لګیاکړي چه د خلکوپه زړونو کې ایمان کښینولې شي، د خلکو اخلاق درست کړی شي او په هغو کې د خدائجل جلاله نه ویره پیدا کړی شي.

پوښتنه:

جناب علی! ویل کیږي چې دا قوم د سوټي غلامان دی، دا یو عام متل دی چه د خلکو په ژبه ویل کیږی لیکن ایا اسلامي نظام به هم د سوټی په زور قایم کړي شي؟

ځواب : په اسلامي قانون کې د سوټي هم یوه مرحله او ځای شته خو دا دټولو نه په اخر کې راځې، په اسلام کې د کار ترتیب دا دی چه لمړې د تعلیم او تلقین په ذریعه د ذهنونو اصلاح وکړی شي، د خلکو خیلالا بدل شي او په هغو کې د اسلامي اخلاقو د پیدا کولو لپاره په لویه پیمانه کار وشي، چم په چم، کلي په کلې او په هره کوڅه کې داسې خلک پیدا شي چه بدعملي د خلکو په مرسته وځپوي او د خپلو خپلو سیمونه په اوسیدونکو کې ددین د رائ او امانت دارئ دراپیا کولو کوښښ وکړی په دې ډول به په ملک کې یوه داسې عام رائ او عام ذهنیت راپیدا شي چه بدیوته به د سر پورته کولول اجازت ورنه کړی څوک چه بیا د دغسې عامه راءی د شتوالې په صورت کې خرابی او بد عمل وغواړي نو د هغه په لار کې به بې شمیره خنډونه راپیدا شي او څوک چه صحیح ژوند اختیار کړي د هغه به ټوله جامعه مرستندوی وی، ددې ترڅنګه اسلام دا هم غواړي چه ټولنه داسې وی چه د هغی یو له بل سره همدرداو زړه سواندې او غمشریک وی د مصیبت په حالت کې یو د بل په غم او درد وخوری، هر څوک د انصاف او عدالت حمایت کوونکې او د بې انصافې سره مخالف وی، هر سړی خپله خیټه ډکولو حرام وبولې په داسې حال کې په ترڅنګه یې ګاونډي وږې تږې لوغړن ویده کیږي، بیا اسلام ددې سره یو داسې اقتصادي نظام هم شاملوي چه په هغی کې سود حرام وی، زکوة فرض وی، د حرامو خوړلو ټولې دروازی وتړلې شي او حلالی روزئ ګټلې لپاره ټول مواقع او فرصتونه د خلکو مخې ته کیښودلې شي، او هیڅوک د خپل ژوند له ضروریاتو بې برخې پاتې نشي، تردی تدبیرونو ورسته د سوټي مقام راځې ، یو سړی چه دایمان ،اخلاقو، انصاف د اقتصادي حالت د سنبالښت او یوی پاکې او ستره عامه راءی د فشار په تنیجه کې هم اصلا نشي و نو هغه بیا دسوټي مستحق دی او دا سوټي بیا په داسې بې رحمی سره په ډاګه ورایږي چه د هغه ټولو خلکو د ماغی عملیات وکړی چه د جرائمو لورې ته میلان لري.

خلک هم دیره بي انصافي کوي چه د اسلام د پروګرام ټول تفصیلات پریږدی او یواځې د هغه په سختو سزاګانو باندې بحث کوي، اسلام خو ترټولو د مخه په خلکو کې ایمان پیدا کوی. بیا د خلک اخلاقي

تزکیه او صفائي کوی، بیا د ټولو تدبیرونو په نیولو سره یو داسې قوی عامه ذهنیت جوړوي چه په هغې کې نیکې رشد او نمو وکړي او بدي سر پورته نه کړي شي، بیا هغه اجتماعي او اقتصادي او سیاسي نظام داسې قایموي چه په هغې کې بدي کول گران او نیکې کول اسان شي. هغه ټولې دروازې تړی له کومو نه چه فحش او بي حیائي او جرمونه راپیدا کیږي ونه مومي،تردی وروسته د سوټی هغه ورستنې څیز وی چه په ټولنه کې یوه یوه بدی او نا پاکې چه کله سر راپورته کوی د جرړي یي له مینځه وړی، او له هغه چانه به زیات ناپوه او جاهل نور څوک کیدلې شي چه دداسې برحق نظام د بدنامولو لپاره وروستنې څیز لمړني څیز بولي او د مینځ په نورو ټولو څیزونو یي سترگي پټوی.

پوښتنه:

د حکومت په هکله چه تاسو څه وفرمایل: په خدای چه ټولی صحیح خبري دی، ترڅو چه یو داسې نظام مینځ ته رانه شي او هغه نظام په داسې خلکو باندي مشتمل نه وی چه په ایمانداریٔ او امانت داریٔ سره نه یواځې دا چه د اسلام نافذول غواړی بلکه په اخاقي لحاظ سره هم هغوی ددې منصب او معیار خلک وی چه دا کار وکړي شي، دلته داسوال پیدا کیږي چه اوسنیٔ زمانه کې د حکومت د بدلولو لپاه ره یواحینۍ لاره انتخابات گڼلې کیږي دانحضرتصلي الله علیه وسلم د حکومت په نظر کي نیولو سره به تاسو په دې خبره باندي رڼا واچویٔ چه د انتخاباتو غربي طرز تر کومه حده پورې د اسلام شورائي نظام سره هم اهنگ کیدلې شي او په څه ډول؟

ځواب

دا خبره په ذهن کې کښینویٔ جه دا وخت جه مونږ په کوم ځای ولاړیو له همدي ځای نه په مخ په وړاندي تلل وی او کوم منزل ته چه مونږ رسیدل غواړو هغه په صحیح ډول مخي ته کیږدو، ترڅو چه زمونږ گامونه د همغه  منزل په لورې پورته شي، هغه زمونږ خوښه وی که نا خوښه وی. د پیل نقطه به هرومرو دا انتخابات وی ځکه چه زمونږ د خلکو په نزد د همد ې لارې نه د حکومت نظام بدلیدلې شي او واکمنان هم بدلولې شي، بله کومه داسې کومه بیعه دا وخت نشته دې چه په سوله ایزه طریقي سره دی د سمي لارې مونږ د حکومت نظام بدل کړي شو او د حکومت د چارو جلوونکي وټاکلې شو، اوس بیا چه زمونږ کوښښ دا وی چه مونږ په انتخاباتو کې جعل کاري ، فریب دوکه سیمه ایز مذهبي یا قبیلوي تعصبات دروغژن تبلیغات یو پربل  ختې اچوني ضمیرخرڅوني او په بي ایمانۍ سره دانخاباتي نتائجو د بدلولو غلطي طریقي استعمال نه کړي شي، انتخابات په دیانت داریٔ سره وشي، خلکو ته ازادې ورکړي شي چه د خپل موښې نمایندگان وټاکي گوندونه او اشخاص او بل هرڅوک هم چه انتخاباتو ته ودریږي، په معقوله طریقه سره خپل اصول ، مقاصد او پروگرامونه خلکو ته وړاندې کړې، او دا خبره د خلکو رایٔ ته پریږدی چه هغوی څوک خوښ وی او څوک نه خوښوي کیدای شي چې مونږ په لمړنیو انتخاباباتو کې د خلکو د طرز فکر او انتخاب د معیار په بدلو لو کې په پوره ډول بریالي شو، لیکن که انخابې نظام صحیح کیښودل شي او وساتلې شي نو یو وخت به داسې راشي چه د حکومت ټول نظام به دایمانداره خلکو لاس ته روشي تر هغې ورسته بیا مونږ د انتخاباتو په نظام باندې له سره  نوي کتنه کولې شو اوله سره  نوی کتني  نه د هغه مثالي نظام د انتخاب  په قائمولو باندې بریالې کیدلې شي چه د اسلامي طریقي سره بالکل سمون ولري، په هر حال تاسو په ټوپ وهلو سره خپل اخري  منزل ته رسیدلې شی.

پوښتنه:

مولنا! دلته که څه هم نورې پوښتني راپیدا کیږي خو الله تعالی دې تاسو ته صحت درکړي ، او کـه خدای کول په کوم بل نوبت کې به د پوښتنې کولو فرصت لاس ته راشي، به پای کې زه له تاسو نـه یـوه خبـره معلومول غواړم چه تاسو چه کوم هدف د خپل ژوند نصب العین گرزولې دي او د هغې لپاره مو په خپـل ټـول عمر کې جدو جهد وکړو او الحمد لله هغه کار او زیار نن داسې حدته رسیدلې دې چه هغه نصب العین اوس خپل منزل ته نږدي شوي ښکاري، زه اوس په دې خبره ځان پوهول غواړم چه تاسو دا ټول صورت حال د خپل کار او زیار په رڼا کې څرنگه محسوسوئ؟ او آیا ستاسو په نظر کې ستاسو دا ټول جـدو جهـد پـه واقعیـت کـې خپلې منطبقي نتیجې ته رسیږي او ایا تاسو په واقعي ډول په خپل هدف کې کامیاب شوي یاستئ؟

ځواب:

زمالپاره دا ډیره گرانه پوښتنه ده، زه نه غلطه دعوه کولې شم او نه د ځان ستاینه کول غواړم البته زه داسې محسوسوم چه د تیرو دیرشو کلونو په دوران کې چه پـه کومـه پیمانـه د اسـلامي خیـالاتو او نظریـاتو د خپروني کار سرته رسول شوي دی، او هغه یواځې مانه دې کړي نورو خلکو هم کړي دې دد غې په تنیجه کې زمونږ د تعلیم یافته پرگنۍ زیاتره کسان او س د اسلام غوښتونکي شوي دي که څه هم د هغې اخلاق بیخي د اسلامي تعلیم سره مسه شوي نه دی لیکن په هغوی کې د اسلام پوهی او اسـلامي نظـام قـائمولو لپـاره تلوسـه ضرور پیدا شوي ده زمونږ کوم داسې ځایونه او تعلیمي مرکزونه چه په ملکي نظام سره قائم ؤ ، د لوی خدای: په فضل سره اوس په هغې کې یوه داسې لویه ډله پیدا شوي ده چه د زړه له کومي له اسلام سره عقیدت هـم لري او تر زیاته حده پورې په اسلام باندې هم پوهه لري او تر زیاته حده پورې په اسلام باندې هم پوهه شـوي دي اوس زمونږ مخي ته دا لویه مسئله ده چه زمونږ د عام ولس زیاته برخه چه بي سواده ده، په څـه ډول پـه هغوی کې د اسلام علم او پوه خپره کړې شي ځکه چې د راءی ورکوونکو زیاته برخه بي سواده ده.

په څه ډول په هغو کې د اسلام علم او پوه خپره شي، ځکه چې د راءی ورکوونکو زیاته برخه بي سواده او بې تعلیمه ده، له دې کبله که تعلیم یافته خلک سل په سلو کې هم صحیح انتخاب کول وغواړي نو په هغې کې هغوی بریالي کیدلې نشي، زما په عقیده په دې مرحله کې دا خبره ضروري ده چه تعلیم یافته ځوانـان او علماء کرام د ښارونو، کلیو، او قصبونو په بې تعلیمه او بې سواده خلکو کې د اسلام ددین په خپرولـو او خلـک په هغې باندې پوهولو کې بوخت شي، ددې کار لپاره د خلکو باسواده کیدل ضـروري نـه دی، د انحضرتصـلي الله علیه وسلم په زمانه کې دین د کتابونو په ذریعه نه ؤ خور شوی یواځې د خولې وینا او ژبی په تلقین سـره خور شوي ؤ اوس هم دا څه ضروري خبره نه ده چه اول دوی ټولو ته لیک لوست ورزده کړي شي او بیا د بـې دین پوهه کړي شي، د نبوت د زمانې په څیرنن هم عامو خلکو ته د وینا له لارې ددیـن تعـلیم ورکـول کیـدې شي د اسلام د عقائدو او اخلاقو له اصولو ځینې هغوی خبریدلې شي. د فرائضو او دددین د ارکـانو اهمیـت د هغوی په ذهن کې کښینولې شي په هغوی کې د حلالو او حرامو توپیر کول پیدا کیدلې شي، د لویـو گنـاهونو نه د هغوی په زړونو کې ویره ځای په ځای کیدلې شي ، هغوی ته د نیکیو د اجرا کولو لورې ته رغبت ورکـول کیدلې شي، قرآني ایتونونه او د رسول الله صلي الله علیه وسلم رسالت کوم چه د عربو دنیا بدله کړه نن هم د معجزو نه ډکې اغیزي ښودلې شي په دې شرط چه مونږ د هغو نه د ټولنې د اصلاح کولو لپاره کار واخلو.

دا خبره ډیره ارزښت او اهمیت لري چه دا قرانکریم اوصافو احدیثو تعلیماتو پـه وړانـدې کولـو سـره مونږ د خلکوپه زړونو کې دا یقین پیدا کړو چه تاسې د ټولو د نظرنو نه پټیدلې شئ ، خو د خـدای لـه نظـر نـه پناه کیدلې نشئ، د نور هرچا له سزا نه بچ کیدلې شي خو د خدایجل جلاله له سزا نه خلاصیدلې نشئ ستاسو

د ټولو کارونو اعمال نامه تیاریږي ، یقینا یوه روځ به مړه کیږي ، د قیامت په ورځ د الله جل جلاله په دربار کې حاضریدل شته دی، دانشي کیدلې چه تاسې دی لمونځ پریږدئ، د روژې په میاشت کې په ښکاره خوراک څښاک سره د خدابجل جلاله ددین سپکاوی کوي په بې باکئ سره دې د ګناهونو په ګندګئ او چټلئ کې لت پت کیږئ،اود خلکو د حقوقو په خوړلو سره د خدابجل جلاله حضورته ورشئ، د خلکو ابرو او عزت دی لوټ کړې وي او د الله جل جلاله دربار ته ورشي، د خلکوورمیږونه د مروړلي وی او خدالله ورشي او بیا هلته دی هم د الله جل جلاله د قضاوت له محکمي نه خلاص نه شي، په دې دنیا کې خو په حیلو او چلونو سره د محکمو د قضاوتونو نه بچ کیدلې شې ، خو د الله تعالی جل جلاله د قضاوت نه به څنګه بچ شي او دا څیزونه تاسې دخلکو په ذهنونو کې کښینوئ چې تاسې به وګورئ چه په قراره سره زمونږ په عام ولس کې صحیح پوهه او اخلاقي ښکلا را پیدا شي.

تردې وروسته کله چې خلکو ته دا معلومه شي چه اوس زمونږ په خپل ملک کې اسلامي نظام قایمول دی نو دراءی ورکولو په باره کې به هغوی پخپله دا فکر وکړی چه ددې کار لپاره باید مونږ څه ډول خلک راوړاندې کړو،، عام خلک په دې پوهیږي کله چې ناروغه شي نو ډاکټر ته ورشي، چه کله کومه قانونې مسئله او دوسیه ورته پیدا شي، په دې پوهیږې چه کوم وکیل مدافع ته ورشي په دې ډول چه کله تاسې په خلکو کې اسلامي شعور او پوهه پیدا کړئ نو هغوی پخپله په دې خیال کې شي چه د اسلامي نظام د چلولو لپاره کوم کوم خلک وټاکي، په لمړی ځل که څه غلطي هم وکړي نو انشاءالله په دویم ځل به یې ونه کړی، په دې شرط چه د خلکو د تعلیم کار په پرله پسي او منظمه توګه سره روان وی او حکمران چه د اسلام له سمي لاري نه پرته کوم بل کار وکړی په هغه باندې مدلل او معقول تنقید وکړي، داسې فرض کوو چه که چیرته د غلطو خلکو اکثریت انتخاب شي او د دویم ځل انتخاباتو ګټلو لپاره په ناجایزو طریقو سره لاس پوري کړی نو هغوی به د یو داسې تحریک سره مخ شي کوم چه د بوټو غوندې جابر شخص پشان چې پښې یې ورپه سر کړي،

د عوامو د تعلیم څه ځینې ځانګړي صورتونه هم شته دی چه د هغوی خصوصیتونه باید په نظر او خیال کې ونیولې شي د مثال په توګه د کار ګرانو اتحایه شوه، په کارګرانو کې په عام طور سره دا نظریه او خیال خور کړې شي چه ستاسو لپاره منصفانه اقتصادي نظام سوسیالیزم نه دی. د سوسیالیزم په پیروې کول سره ستاسې مشکلات او بې وزلي توب نه رفع کیږي ، سوسیالیزم تر اوسه پورې د کار ګرانو سره نه کله انصاف کړي دی، او نه نن کیږي ، او نه بې په راتلونکې کې وکړي کومو څوانانو چه د سوسیالیستی، کمونیستی او اشتراکي هیوادونو مطالعه کړیده، هغوی په انکار نه کونکو دلائلو او شواهدو سره کار ګران په دی پوهه کولې شي، په دې ډول د کارګرانو نهضتونه په قراره قراره سره په اسلامي تحریکونو باندې بدل کړي شي، او په کار ګرانو کې دا شعور پیدا کړي شي چه په کره کتنې سره وګورې چه د هغوی نهضت یا اتحا دې مشر د لینن او مارکس پیرو دی او که د الله جل جلاله اود هغه درسول صلي الله علیه وسلم منونکې او پیرو دی، بیا دا فیصله هغوی ته پریښودلې شي چه د قیامت په ورځ دلینن او مارکس تر څنګه راپورته کیدل غواړي او که د رب العلمین او رسول الله جل جلاله تر څنګه.

همدراز بزګران هم ځانګړې او جلا مسائل لري، دهغې په اسلاح باندې باید هغوی پوهه کړي شي، رسول الله : چې کله مدینې ته تشریف راوړ ۀ نو د هغه ځای بزګران او د کرکلي خلکو، د اسلام نه د مخه هلته د زمکي د څښتن او دهقان ترمینځه ډیري شخړې رواني وی، او د کلو او اطرافو نه غله راوړنکې کسان به د ښارې تاجرانو له خوانه په بد شکل سره لوټ کیدل ،حضور صلي الله علیه وسلم چه کله تشریف راوړو نو د

انصارو دا ټولي خرابۍ یې اصلاح کړي او ددې اصلا تفصیلات په احادیثو کې شته، بزگران او دهقانان نن هم ددې حل لارو په ښودلو سره په دې ډاډه کیدلې شي چه د هغوی د مسائلو عادلانه حل یواځې اسلام وړاندې کړي او هغه یې حل کولې شي،

دا کار چه هرڅومره مخ په وړاندې ولاړ شي تاسو به وگورئ چه په قراره قراره به د انتخاباتو نتایج هم مخ په سمیدو شي، اوهر څومره چه په دین پوهیدونکي شي نو زیاتره ایمانداره کسان انتخابیږي په هغه پیمانه مونږ هم د خلافت راشده مثالې نظام په لور مخ په وړاندې ځو.

پوښتنه:

قدرمنه! دلته یوه پوښتنه پیدا کیږي ، تاسو وفرمایل: چه اسلام نظام باید په تدریج سره پړاو په پړاو مینځ ته راوستلې شي او قائم دي کړی شي ایا ددې مطلب دادي چه ددې تدریجي بدلون په دوران کې دي زمونږ اوسنې موجوده قوانین او د غربي طرز جمهوریت لاندې جوړ شوي قوانین وچلیږي؟ ایا دا دوه متضاد څیزونه څنگ په څنگ سره را تللې شي؟

ځواب:

زمونږ د مودو مودو راهیسي ژوند خراب شوي اود نظام بدلون به په تدریج سره وی. د انگریزي دور تعلیمې نظام یو په یو بدلول او په یوه ورځ کې د تعلیم اسلامي نظام رواج کیدای نشي د عامو خلکو اخلاقي حالت هم چه د کلونو کلونو راهیسي د سینما گانو فحش تصویرونو، شپه او ورځ سازونو او سندرو، او د ښځو او نرو گډی وډې ټولنې، او د شرابو او قیمار او نور حرامو کارونو په تنیجه کې خراب شوي دی په یوه ورځ کې بد لیدلې شي، لیکن د هغې د بدلولو لپاره به سرله نن نه کوښښ شروع کول وي او د کومو بدیو چه څومره زرله مینځه وړل ممکن وی، د هغو په له مینځه وړلو کې یوه لحظه هم ډیل کول په کار نه دی، د قانون په هکله هم بالکل همدغه طریقه ده، د کافرانه دور د کومو قوانینو په اسلامي قوانینو باندې بدلون چې همدا اوس ممکن وی، همدا اوس دی بدل کړي شي، او څومره زرچه د اسلامي قانون نافذول امکان ولرې د هغه په نافذ کولوکې دي یوه لحظه وخت هم تیرنه کړای شي، ځکه یو حکومت چه مسلمان وی او د هغه قصد د اسلام راوستل وي نو د هغه لپاره به په ټولو ځانگو کې یو شان او یو ځای بدلون مینځ ته راوړل وی. داسې فکر کول غلطه خبره ده چه ترڅو پورې ټول اصلاحات مکمل شوي نه وي زمونږ قاضیان دی د غیر اسلامي قوانینو پرځای د اسلامي قوانینو سره سمې قیصلي کول پیل کړي د نورو ټولو دا خیال راپیدا کیږي چه اوس به دلته نور کافرانه نظام نه چلیږي او یواځې اسلامي قانون به رایج کیږي دا د هغه څیزونو له جملې څخه یوه ده چه د خلکو د خیالاتو په بدلولو کې ورځینې مسرسته اخیستل کیږي.

چه کله چې یي زمونږ قوانین شاته پریښودل اوپرځای یې خپل قوانین رایج کړل او د هغوی څارنوالانو او قاضیانو نو د هغوی د قوانینو سره سمي فیصلي شروع کړې، نوپه قراره قراره زمونږ معیار هم ورسره بدل شو حرام حلال شوو او حلال حرام، او کوم خیزونه چې د انگریزې قانون په اخلاقي اقتصادي اجتماعي او د ژوندانه په نورو چارو کې روا کړي ، هغه زمونږ د ژوندانه په نظام کې رواج شوي، هغه که هر څومره د اسلام له نقطه نظره د کرکي وړدي،، مونږ ته خپل قانون زوړ اوله کاره لویدلې ښکاره شو، زمونږ په مغزوکې دا خبره کښینولې شوه چه د اسلام قانون خو یواځې د نکاح او طلاقو او میراث او داسې نورو لپاره دی، ددنیوي چارو د سنبالولو صلاحیت نه لري، اوس چه څنگه خلک اسلامي قانون په محکمو او عدالتونو کې د چلیدلو په حالت کې ووینی ، تاریخ به بیا څنگه تکرار کړي ، او د خلکو ذهنونو ته به انگریزي قانون بیرته په راستنیدو شي، له

دې کبله دا خیال  کول صحیح نه دی چه د ژوندانه په یو اړخ یا ځینو ځانګو کې دې داصلاح کار وکړاې شي او په نوور اړخونو کې دې د پخوانۍ طریقې جارې پرېښودلې شي.

همدا د انتخاباتو معامله واخلئ په ښکاره داد ژوندانه یو اړخ دی مګر ددی اصلاح د ژوندانه په ټول نظام باندې اغیزه کوی، زمونږ سره چه په انتخاباتو کې کومي طریقې روان ج دي هغه دادي چه د درواغو وعدي وکړه، د خلکو نه احمقان جوړ کړه او ویي غولوه ، د هغو د کمزورویو او ناروا فائده واخله د خلکو ووټونه په پیسو واخله، د بیلابیلو لارونه فشار واچوه او ووټ ترلاسه کړه، په مخالفینو باندې ښي ختې پورې کړۀ، قبیلوي او سیمه ایز تعصوبونه راوپاروه، مذهبي جګړي او شخړی شروع کړه ، غرض دا چه په کومه طریقه سره ممکن وی د خلکو په ځتونو ورسورشه و داټول صورت حال تاسو تبدلي کړي، د هغوی د ناروان چلونو مخه بنده کړئ او عامو خلکو ته د ازادانه او خپلواکې منصفانه انتخاباتو کولو موقع ورکړی، تاسو یقین ولري چه په دې سره به ډیره لویه اصلاح مینځ ته راشي، بدو او ناکاره خلکو ته به وړاندې راتګ ګران شي او د ښو خلکو مخې ته راوړاندې کیدل به اسان شي.

پوښتنه:

جناب علی! د اسلام د تبلیغ او خورولو لپاره موجوده اوس څه ځینې ذرایع شته دی چه په هغی باندې کار کیږي ، د کلا لپاره بله کومه طریقه باید اختیار کړي شي، په دې هکله به تاسو څه نصیحت وکړئ؟

ځواب:

تریوه حده پورې خو دا ټول ځیزونه ما په خلو کتابونو کې لیکلي دي او زما لپاره دا ډیره ګرانه ده چه د مخه چه ما څه لیکلي دي اوس هغه په ژبه سره بیان کړم.

پوښتنه:

قدر من  او عزتمن مولنا صاحبه! زه دا عرض کول غواړم چه مونږ ته لاښوونه وکړه ، چه په دې کې مونږ راډیو څنګه استعمالولې شو.؟

ځواب:

درادیو د استعمالولو لپاره دا خبره ضروري ده چه داسې کاسن ولټولې شي چه په یوه یوه موضوع باندې د تیاری کولو نه وروسته راشي او په راډیو باندې تقریر وکړي، دمثال په توګه څه کسان باید داسې وي چه تساو یي په ښه سوچ او فکر سره وټاکي چه د اسلام د ایمانیاتو و تشریح وړوی او د هغی هر هر اړخ د خلکو په ذهنونو کې د کښینولو کوښښ وکړي، که یو سړی دا کار وکړي نو خلک تنګیږي ،  که د بیلا بیل قابیلتونو او صلاحیتونو لرونکې خلک په خپلو خپلو طریقو سره د مطلب په پوهولو باندې خبری وکړي نو خلک به په مینه سره د هغوی خبری واوری ، اسلامي عقائد د خلکو په ذهنونو کې ځای کول ترټولو لمړی او مهم کار دي، په دې سره د خلکو ذهني حالت بدلیدلې شي، او هغوی د اسلام په نور و حقائقو باندې پوهیدلو لپاره اماده کولې شي، په همدي ډول څه کسان داسې باید انتخاب کړي شي چه د اسلامي عباداتو اهیمت د هغو بي شمیره د نیوي او اخروي ګټو او د هغو د پریښودلو نقصانات، په زړه پوری انداز او طریقو سره خلکو ته واضح کړی او پری پوه یي کړي، خه نور مقرر ین د اسلام اخلاقي اصولو ډ دهغه د احکامو او د هدایاتو د بیانولو لپاره وټاکلې شي، څه ځینې نور کسان په ټولنه کې په خور شوو بدیوباندې په داسې اغیزمن انداز کې تقریرونه وکړي چې د هغی له مخې په هغه کسانو کې دا احساس راوپاریږي چې ریښتیا دا مونږ په څه چټلیو

کې پراته یو. څه نور کسان په خصوصیت سره په لویو کناهونو کې پـه یـوه یـوه بانـدې پرلـه پسـی تقریررونـه وکړي، چه د هغی په مخې په خلکو کې دا احساس رابیدار شي، چه دا څنګه سخت ګناهونه دی چـه د خلکـو دنیا او اخرت تباه کوي او د خدابجل جلاله په نزد به د هغه لپاهر څومره عذابونه وي، دمثـال پـه توګـه قتـل واخلئ، د هغی یویوه نتیجه بیان کړي، یو سړی که لس کسان ووژنې نو په دنیا کې هغه ته د یوه د مـرګ سـزا ورکوله کیږي . د پاتې نه(۹) کسانو عذاب او سزا ددنیا عدالت نه بلکه دخدای عـدالت بـه یـي ورکـوي. دیـو سړی په مرګ به د نیا عدالتونه هغه ته بس بس یو واری د مرګ سزا ورکړی، لیکن د مقتول کورنۍ او د هغـه راتلونکې کول ته چه ددینه څومره تاوان رسیږي او رت څو پورې چه ورته رسیږي د هغی حسـاب هـیڅ محمـه په هیڅ ډول سره تعینولې نشي دا حساب  به الله تعالی لګوي او په جهنم کې به قاتل ته پوره پوره بدله ورکړی شي.

په راډیو باندې که د داسې ډول تقریرونو سلسله پیل شي او موزون سړی په خپلو موضوعاتو باندې په مناسب او اغیزمن انداز او طریقي سره خبری وکړي نو تاسو به وګورئ چه په شپږو میساشتو کې به لوی قرق راشي راډوي خو خلکو ته د تعلیم ورکولو ډیره ښه ذریعه ده، نن خو تر څو چـه دا خلـک ددی راډیـو ګانونـه د ښځو سندری او د هغو نه هم لا څه زیات فرمی  او فرمایشی سندری اوری، په اینده کې که همدا خلک په زړه پورې او عام فهم انداز سره د خپل دني خبری هم واوری نو ددې څه امید نشته چه د خدای نوم پـه اوریـدلو سره به خپل راډیو بنده کړی، اخر  دا خلک خو د خدای او رسولولانواو اخرت نه منک خـو نـه د، تاسـې داسـې کولې شئ چه په دوی کې د مینی او دلچسپی پیدا کولو لپاره ددی پروګرام پیل د رسالت د زماني، د خلافت او اصحلبو د زماني له واقعاتو او د نیکو خلکو له کیسونه وکړئ، په قرار قرارا سره له دی نه وروسته هغوی د د اسلامي تعلیماتو اوریدلو او په هغی باندې پوهیدلو ته تیاریدلې شو په دې ساده ډوله کلیوالو کې په ښـايي یـو هم  داسې نه وي چه په رسول الله صلي الله علیه وسلم باندې قربانیدونکې نه وی، تاسو هغوی تـه دا ښـودلې شئ چه په کوم رسول صلي الله علیه وسلم باندې چه تاسو د خپل ځان او مال قربانوولو ته تیار یاستئ د هغه د حکمونو پیروي هم وکړئ. په هغوی کې داسې څوک دې چه دانه ښانه منې چه له مړیني نـه وروسـته یـو بـل ژوند هم شته دی؟ تاسو هغو ته وښايي چه له مرګ نه وروسته بـه څـه وی، د قـران او حـدیث لـه مخـې ددې تفصیلات هغو ته واوروئ، دا هیڅ لري خبره نه ده چه ددې په اوریدو سره یې غونې را زیګ شي. یوازې د قبر عذاب چه واوری وبه رپیږی.

پوښتنه:

عزتمنده! مونږ دراډیو له لارې د بزګرانو او کرکیله کووونکو کسانو لپاهر یوځـانګړي پروګـرام لـرو، د زیار ویستونکو لپاره هم، د کوچنیانو لپاره هم پرورام لرویو یواځې سـندرې خـو نـه اوراو دا بیلـه خبـره ده چـه ددې پروګرامونو نوعیت به داسې نه وی لکه څنګه چې مطلوب دی؟

ځواب:

زما مطلب دادې چه له اسو سره په راډیو کې زیاتره عنصر د ساز او سرود او غزلو او سـندرو وی، او ډیـر کـم عنصر دددین او اخلاقو د تعلیم وی، که لمړی عنصر یو مخ له مینځه یوسئ نو خلک به د نورو ملکونو سندرې اوری ددې په ځای تاسو لمړی عنصر په قرار سره راکم کړی او دویم عنصر ورزیات کړی، کله چه خلکوته پـه صحیح طریقه سره دین وروښودلې شي او هغو ته په زړه پوري طریقه سره بیان  کړی شئ، نه به بیا د سندورو مینه وال پاتې شي او د بهرنیو ملکونو د راډیونه د سندرې په اوریـدو سـره بـه سمدسـتې هغـوی تـه دا خبـره

وریادیږي چه د قیامت په ورځ به دا غوړونه ګواهی ورکوي چه زمونږ نه یي د څه څه ځیزونو په اوریـدلو کـې کار اخیست.

دنبوت د زماني دحکومت نظام

پیژندنه

شهید امام حسن البنـا رحمةاللـه علیـه او اروا ښـاد سـید ابـوالاعلي مـودوي رحمةاللـه علیـه دواړه د اسلامي تحریک هغه ځلانده ستوري دی چه په نړیواله سطحه یي د دوستانو په نسبت دښـمنان ښـه پیژنـي ، اود دواړو په لاس تحریکونه ایښودلې نیالګې اوس ثمرته رسیدلې او د محصولاتو په ورکولو یې پیـل کـړي دي، خو د سید سلمان ندوي شخصیت په هندوستان کې د انګریـزي اسـتعمار او هنـدوایزم د متعصـب نظـام پـه نتیجه کې دې ته پرینښودل شو ه د نړیوال شخصیت حیثیت ځانته غوره کړی او د نړی مسـلمانان یـي د یـو قدر وړ شخصیت په صفت وپیژني له دې کبله د نومړي شخصیت لنډه پیژندنه وړاندې کیـږي ترڅـو زمـونږ مسلمان وروڼه د هغی په رڼاکې دده علمی اوزښت او سیاسې قیمت وپیژني.

علامه سید سلمان ندوی د ١٨٨٤ م کال د نومبر د میاشتی په ٢٢ نیټه د هندوسـتان د بهـار ایالـت د لینه په قصبه کې وزیږدید پلار یې سید ابو الحسن یو ممتاز عالم او فاضل شخص و او د رامپور په ایالـت کـې یي د شاهي طبیب په حېث هم وظیفه اجرا کړي وه.

سید سلیمان ندوی خپل ابتدایي تعلیم د مولنا ابو حبیب نه حاصل کړ، بیا د خپل پلار سره رامپورتـه ولاړ په پنځلس کلنئ کې په لکنهو کې د ندوة مؤزغ بي مثله ادیـب فلسـفې او مفکـر علامـه شـبلي نعمـاني د کابلي تفسیر په نوم مشهور شوي تفسیر مفسر، تر پالني لاندې یي په ١٩٠٦ م کال کې د فضیلت سند تر لاسه کړي، د فراغت د اسنادو د تقسیم په وخت کې علامه شبلي نعماني د سید سلیمان ندوي له تقریر نه دومـره اغیزمن شو چه خپل پټکي یي له سر نه شکته کړ او د هغه په سریي کیښود او ویـي ویـل: چـې ، کـه د شـبلي نعماني کوم جانشین وي هغه سلیمان ندوي دي.

سلیمان ندوي تر څلویښت کلنئ پورې په علمي مطالعاتو، تححقیق او تاءلیع او تصـنیف بوخـت ، پـه ١٩٢٥ م کال کې د هندوستان د علماء له خوا نه د اورپا په مطالعاتي دوره ولیږل شو.

سید د شاه اشرف علي تهانوي او علامه شبیر احمد عثماني تر څنګه په مسلم لیګ کې شـامل شـو او یو ځانګړی اسلامي دولت د جوړیدو کلک ملاتړ یي وکړ، نومـوړی د شـبلي نعمـاني پـه ژونـدکې د (( النـدوة)) دیني جریدي سره تړون پیدا کړي، په ١٩١٣م کال کې یي د مولنا ابو الکـلام آزاد پـه بلنـه د (( الهـلال)) پـه اوه نیزه جریده کې په کر پیل وکړ،

سید په ١٩١٤م کال کې حج ته ولاړ، او د علامه شبلي نعماني له وفات نه وروسته په ١٩٥٠ م کال کـې د مهاجر په حیث پاکستان ته راغې، او په همدې کال کې چه د پاکستان لپاره د اسلامي قـانون د جوړولـو پـه خاطر په کراچې کې دممتازو علماؤ له خوا نه چه کومه کمیټې جوړه شوي وه مشری یـي د سـید پـه غـاړه وه، کله چه لاهور ته راغي د سید ابو الاعلي مودودي سره دڅه وخت لپاره پاتې شو.

سید د ختیز د نابغه شاعر او فیلسوف علامه اقبال ډیر نږدي ملګري او سلا کار وؤ او د افغانستان د باچا نادر خان به بلنه دواړه یوځای کابل ته هم تللی ؤ، علامه اقبال د سید په هکله داسې لیکلـی ؤ، پـه ننـی هندوستان کې د اسلامي علومو بهینده چینه یوازې سید سلیمان ندوي دي، سید بهترین خطیب او سیاسـت داو ؤ د علامه شبلي نعماني، د سید په څیر شاګرد دباندې زیات باور او فخر ؤ او دومره مینـه یـي ورسـره وه

چه کله علامه شبلي نعماني د خپل ژونداخري پړاوته ورسيد او په خپل قلم پيل کړی سيرت النبی ورځينې نيمګړې پاتې شو نو سيد ته يي د هغه د پوره کولو هدايت وکړ، او سيد هم د خپل استاذ سره دومره مينه وه چه د هغه تر مړينې وروسته يي د هغه وصيت ډير ښه په ځای کړ او سيرت النبی صلي الله عليه وسلم يي په شپږو ټوکونو کې پوره کړ، سيد غوښتل چې د سيرت اووم ټوک د اسلام په سياسې نظام او حکومت باندې وليکې خو د مرګې بي وخته يرغل فرصت ورنکړ چه هغه پوره کړي ، بالاخره د ۱۹۵۳م کال د نومبر د مياشتې په ۲۲ نيټه يي د اجل داعي ته لبيک ووايه ، سيد د زماني په بي مثاله شخصيتونو کې يوازنې شخص دي چه د پيدايښت او مړينې نيټه يي يوه ده.

لاندنې رساله د سيد د سيرت النبی صلي الله عليه وسلم د نيمګړې نا چاپ شوي اووم ټوک يوه برخه ده چه د هغه مانديني د سيد د نورو اثارو سره يوځای د اعظم ګړ دارامصنفين ته د چاپ لپاره ورکړي دي.

اروا دی ښاده او جنت دی ځای وی.

ق- ح – صافی

بسم الله الرحمن الرحيم

عام خيال دادی چه په عربي سيمو کې چه د اسلام د عادلانه نظام د حکومت د قايمولو په لار کې چه کوم مشکلات او خنډونه راپيدا شوي ؤ و داد غربو د وحشي توب او ناپوهۍ نتيجه وه ، ليکن په حقيقت کې د وحشي توب نه زيات يا لږ ترلږه د هغی برابر په خپله د هغه وخت تمدن هم د اسلامي حکومتي نظام مخالف او دښمن ؤ و او دا مخالفت د عربو له وحشي توب نه زيات دوام لرونکې وو. په کال ۸هـ د مکې له فتحي نه وروسته که څه هم وحشي عربانو د اسلام په مقابل کې د تسليمۍ سرونه ښکته کړل، ليکن د تمدن کيرجن سر لا همغسي نيغ ولاړؤ، چناچه د حضورصلي الله عليه وسلم د سپيڅلی ليک په ځواب کې د ايران د شهنشاه ځواب او د ځواب طرز ، د روم د قيصر د پلويانو په مقابل کې چه په سنه ۹هـ کې د موتي غزوه او داسې نوري مينځ ته راغلی او په دي پسي وروسته چه د راشده خلافت په دور کې د ايرانواينو د روميانو سره کومې جګړې مينځ ته راغلې د ا ټولي د همدي سرګشۍ نتيجه وه.

ددې اجمالي تفصيل دادی چه په شپږمه عيسوي پيړۍ کې چه د حضرت محمدصلي الله عليه وسلم د بعثت او داسلام د ظهور زمانه وه د ټولي نړۍ سياسي قوتونه د ختيځ او لويديځ د دوه لويو طاقتونو تر سيوري لاندې ؤ، د ختيځ نمايندګي د فارس کسری او د لويديځ نمايندګي د فسطنطيني قيصر کوله. او په عربي سيمو کې ددې دواړو بريدونه د عراق او سورۍ په پولو کې سره يوځای کيدل ، د عربو بيلا بيل قبائل چه د تمدن او تهذيب هيڅ نوم قدر نه هم پکې نه ؤ همد دي دواړو د اغيزي لاندې او تابع ؤ، يمن، بحرين، عمان او عراق د ايرانيانو اود منځينيو سيمو عرب او سوريايي برخي د روميانو تر قابو يا اغيزي لاندې وي.

لخمی کورنۍ په حيره کې د ايرانيانو تر قابو لاندې يوه پخه پاچايي جوړه کړي وه په مشر يي نعمان بن منظر او داسې نور ؤ، عسائي کورنۍ چه د انحضرت صلي الله عليه وسلم تر زماني پورې دوام وکړ د روميانو تر پالني لاندې يي په سوريايي برخو باندې حکومت کاوه، په يمن کې ترڅه وخته د سيمه ايزو عربی کورنيو رياستونه چليدل ليکن په ورستي وختونو کې بيا يمن هم د ايرانيانو تر بيرغ لاندې راغي، لکه چه معلومه ده دانحضرتصلي الله عليه وسلم په زما نه کې په يمن کې د بازان په نوم ايراني حاکم موجود ، په عربو باندې ددې سلطنتونو د ومره اقتدار قائم شوي ؤ چه پخپله د عربانو په ذهن کې چه په کله د کوم سلطنت

نظام د تمدن د نظام خیال را پیدا کیده هغه به هم دهمدې ایران یا رومي سلطنتي نظام او تمدني نظام نقالي او تصویرؤ ، له دینه بیل یا تر دینه لوړ د ژوند کوم نظام د هغوی د خیال او ذهن نه لوړه خبره وه.

دصالح ډلي په ذریعه اصلاحي حکومت

بنا پردی عرپو کې ه اسلام د حکومت کوم نظام قائمول غوښتل د هغی لپاره دا خبره کافي نه وه چه پخوانې وحشي توب له مینځه یوسي او د اسلامي تهذیب او تمدن بنسب کیږدي بلکه ترټولو لمړي ضرورت دا ؤ چه د عربو د پردو قومونو د ذهني غلامي ، سیاسي حکومت او د هغوی د اخلاقي او تمدني اغیزونه ازاد کړي شي، او لا تردې هم زیات دا جه نه یوازې عربیان بلکه ټوله نړی د انسانانو د خپل ځانه جوړ کړي قانون د غالمئ نه راوویستل شي، او دالهی قانون د اطاعت په کړی کې داخل کړي شي، او دوی په دا وښودل شي د الهی قانو ن پرځای د انساني قوانینو پابندې کول د شرک دریمه لاره ده، لیکن څرنگه چه د اسلام په ټولو فرائضو او اعمالو کې د ترتیب او تدریج لحاظ ساتل شوي پرمختگ شوي دغه راز د اسلام حکومتي نظام هم په تدریج سره پرمختگ وکړ، او لکه چه څرنگه د انحضرت صلي الله علیه وسلم که څه هم د ټولي نړی د اصلاح لپاره راغلي ؤ مگر هغه صلي الله علیه وسلم خپل کار د عربو نه پیل کړو ترخو یو داسې صالح ټولې مینځ ته راشي چه پخپله د انحضرت صلي الله علیه وسلم په وخت کې هم او ترهغه وروسته هم پیړی په پیړی ددې مسئولیت په سرته رسولو کې بوخت وي د قران کریم په دې ایت کې دي ټکې ته اشاره شوي.

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا [البقرة: ١٤٣]

ژباړه: او همدارنگه گرزولې یي مونږ تاسو یو مینځینې امت ((غوره ټولې)) ترڅو تاسو خلکو ته ښودونکې شئ او رسول تاسې ته ښودونکې شي.

له دي ایت نه دا معلومه شوه چه رسول الله صلي الله علیه وسلم ددې امت او د مسلمان امت د نوور قومونو د هدایت او لارښوونې او روزنې لپاره مینح ته راوستلې شوي دي، ((تفصیل په بل ځای کې راځي))

لیکن همدا تدریجې او پړاو په پړاو روزنه پخپله د عربانو په هکله هم په نظر کې نیول شوي وه، لکه چه ترټولو د مخه حضورصلي الله علیه وسلم د عربي سیمو په دنني برخو کې یعني د تهامه، حجاز او نجد اخلکو ته اسلام وړاندې کړ او د اسلام په دوه ویشت کلن ژوند کې تقریبا شپاړس او ولس کاره د همدې قبائلو د اصلاح او هدایت قربانې شول، همدا وجه ده چه د مدینې د خرما د باغو په څیر که خه هم د هجر او یمامي تازه او شني سیمي هم اسلام ته پخپله غیږه کې پناه ورکولو ته تیاري وي. او د یمني قبائلو لوري مشر(( طفیل دوسي)) د خپلي قبیلي په لویه کلا کې د حضورصلي الله علیه وسلم د ساتنې مسؤلیت په غاړه اخیستل غوښتلي ؤ، لیکن حضورصلي الله علیه وسلم ددغه شنو او تازه او متمدتو ځایونو او سیمو پرځا د مدیني کنډې کپري زمکه د خپل هجرت ځای لپاره وټاکله :ه څه هم د یهودو او منافقینو له کبله د مکې په نسبت مدینه لا د خطر نه ډکه وه او په اول اول کې د اصحابو او مهاجرینو د ژوند سره ددې سیمي اقلیمي شرایط هم برابر نه ؤو خو بیا هم انحضرت صلي الله علیه وسلم په همدې لوري ته هجرت وکړ، څو کله چه په ارام ارام سره د عربو په دې سیمه کې اسلامي نظام خور شو، او د حدیبیي سولي د مرکز یعني د مکې د فتحي لاره ثواره کړه نو دعربو نورو برخوته د توجه کولو وخت راغي په دې اساس د اسلام د کار دایري ته نوره هم پراختیا ورکړي شوه او نورو عربی سیمو خواته توجه وکړي شوه.

د عربو په دننه برخه کې د اسلام خپریدل زیاتره د قومونو د مشرانو او قبائلو د رئیسانو له لارې شوي ۆ، انحضرت صلي الله علیه وسلم په دغه برخو کې هم د دعومت همدا طریقه اختیار کړه، ترټولو دمخه یې د شاوخوا نږدې ګاونډیان نو پاچا یانو او واکمانانو ته د اسلام دعوت ورکړ او د هغه وخت په لحاظ سره په هغو کې د یوه له خوا نه د اسلام قبلول ، په زرګونو او لکونو خلک د اسلام قبلولو ته تیارل ، لکه چه د روم قیصر ته دحضورصلي الله علیه وسلم په لیک کې دا فقره هم وه چه: که تا اسلام قبول نکړ نو ستا د ټول رعیت د اسلام نه قبلولو ګناه به هم ستا په غاړه وي دد په ځواب کې پخپله قیصر په زړه کې د اسلام شمع روښانه شوي وه، خو هغه دومره کمزوري رڼا وه چه د تخت او تاج او اقتدار د زرین ځرک په مقابل کې د هغی رڼا تته شوه، نجاشي د حبشي پاچا د انحضرت صلي الله علیه وسلم د رسالتت تصدیق وکړ او د خپلي کورنۍ دڅه کسانو یو وفد یې د حضورصلي الله علیه وسلم خدمت ته ورولیږه، په قرار قرار سره د یمن ټولو رئیسانو اسلام قبول کړ، د عربو په حدودو کې یو هم غساني پاچا یې وه که خه هم د انحضرت صلي الله علیه وسلم په دور کې په پوره ډول سره له جرړې ونه وایستل شوه، خو بیا هم دتبوک غزوی د هغه : د خلیفه ګانو لپاره تر ډیره حده لاره هواره کړي وه، او اوس ګوندې ټول عرب د اسلام ترسیوري لاندې وو، اوس نو د انحضرت صلي الله علیه وسلم د ژوند تر ټولو وروستنې مسؤلیت د الهی شهنشاهیت اعلانوول ۆ چناچه انحضرت صلي الله علیه وسلم د حجة الوداع په ورځ په دې بلیغو الفاظو سره د هغی داسې علان وکړ. (( الیوم استدار الزمان کهیئة یوم خلق الله السموات والارض))

ژباړه: زمانه بیرته خپل همغه مرکز ته راوګرځیده په کوم باندې چه د ځمکې او اسمانونو د پیدایښت په ورځی وه.

دا یو ډیرر لوي بدلون او داسې ستر انقلاب ۆ چه ټول د خپله ځانه جوړ کړي شوي قوانین د سیاسی تکلفاتوو بدعتونو او ظلمونو نه ډک شاهانه نظامونه یې له جرړې نه وویستل ، دې انقلاب نه یواځې د کسری او قیصر شخصیتونه له مینځه یووړل بلکه پخپله کسری توب او قیصر توب یې د ځمکې تر مخ پای ته ورساوه، دا پیش ګویي په دې الفاظو سره ظاهره شوي ده چه فرمایي: (( اذا هلک کسری فلا کسری بعده و اذا هلک قیصر فلا قیصر بعده))

ژباړه: کله چه کسری هلاک شو تر هغه وروسته بل کسری نشته او کله چه قیصر هلاک شو تر هغه وروسته بل قیصر نشته.

او تر هغی وروسته بیا دا یو داسې عادلانه سلطنت بنسټ کیښودلې شو چه د هغه قانون د خدای قانون ا د هغه حکومت د خدا حوکومت ۆ، او په هغه کې هرڅوک د خدای نه وروسته پخپله یو ډول د خپل ځان حاکم او پخپله د خپل ځان محکوم ۆ، دا ځکه چه اسلامي سلطنت ، د پاچایانو د هغه د کورنۍ ملکیت نه ۆ، لیکن د هغه نیابت د ټولو مسلمانانو یو شانې مقصود وو چه په هغه کې د خدای نه پرته د کوم بل اساني او یا ځمکني طاقت سلطنت نه وي، نه د بل کوم چاقانون پکې چلیږي او په هغه کې د افرادو او حاکم شخصیت، د قومیت ، ژبي، نژاد او وطن او رنګ سره څه تعلق ونه لري بلکه د هغه د جد او جهد ټوله منشاء د سلطنت قانون، د سلطنت ډول، د حکومت کولو طریقه ، عدل او انصاف او د احکامو د حق او باطل سره وي.

ددې مقصد په لحاظ سره ددنیا په ټولو قومونو کې د عربو انتخاب د هغو د ظاهري او معنوي ځانګړتیا او له امله وشو، ظاهري له دې کبله چه هغوی د ایران او روم تر مینځه چه دغه وخت د فاسد دنیوي طاقت ښکارندوي ۆ، او د هغه ماتول او له مینځه وړل ډیر ضروري ۆ، او له همدې کبله همداسې د رمیانه

ګاونډي قوم ته ضرورت ،، او معنوي له دې کبله چه د يو داسې قوم د انتخاب لپاره کوم چه الله تعالی د وخت فاسد سلطنتی نظام د ختمولو لپاره په کار اچوي يو څه فطري استعداد ضرورت ؤ، او دا استعداد په هغو کې دازل نه په د يعت سره ايښودل شوي ؤ، د عربو د فطري شجاعت، غرماتوونکې عزم او استقلال و او زلزله راوستونکې ارادي قوت نه تر ټولو لوی مقصد دا ؤ، چه د عربانو دا اخلاقي عناصر د اسلامي حکومت په جوړولو کې په کار راشي او ددې او صافو جلا او صيقل کول يواځې په اخلاص، خاص د الله لپاره توب، صبر توکل او په الله جل جلاله باندې د باور او تکيې او داسې نورو اخلاقي او روحاني اصولو سره ممکن ؤ، له دې کبله تر ټولو دمخه هغوی د هغه ډول حکومت نه پاک وساتلې شول چه سلطنتونو د خپل شخصي کورنۍ او قومي جاه او جلال رعب او اقتدار او شاهانه هيبت فرضي شکل او صورت لپاره مينځ ته راوستلي ، ددې اخلاقي نيکيو د شتو او بقا بلکه د پرمختګ او ددوي د لپاره يواځې همدا يو صورت ؤ چه د يوه خدای د استازې د الله تعالی د لورې مسئول کړي شوي پاک فطرته مشر، يو مقدس او سپيڅلی امير او معصوم امام د ملګرئ او ښوونې او روزنې له نور څخه په هغوی کې يو داسې تقوی يو داسې احساس يو داسې روښانه ضمير او د ايمان يو داسې نور پيدا کړي شي چه پرته له هيڅ ډول زور زياتې ځينې هر فرد پخپله خپل ځان د الهی احکامو تر لاندې د سلطنت د قوانينو په پابندي مجبور کړي.

په دې اصولو باندې چه د سلطنت کوم نظام قائم کړي شي د هغه لپاره دوه لازمي شرطونه دي:

١ – دا چه هغه په څو اساسي اصولو باندې بنا وي.

٢ – دا چه دا اساسي اصول يواځې په وچ انساني قانون باندې ولاړ نه وي بلکه د هغه لمړني بنسټ خاص د زړه اخلاص او د الله تعالی اطاعت وي.

د اسلام سلطنتي نظام په همدې اصولو باندې قائم کړي شو او د خلفاء راشيدينو تر زمان پورې همداسې ثابت پاتې شو، ددې سلطنتي نظام لويه نتيجه دا وه چه په دې کې د قانون له مخې د کوچنې او لورې ، لوړ او ټيټو تور او سپين او عربي او عجمي تر مينځ توپير بيخي له منځه ولاړ ، ديمن او بحرين اياني نژاده د نجد او حجاز عرب او د حبشي حبشيان ټول په يوه سطح کې سره ودريدل ، او د پاچايي او شهنشاهي هغه تخت چه په ختيځ او لويديځ کې خور وو رانسکور شو او د اسلام د سلطنت امام او د حکومت نور اهل کار په حقوقو کې د عامو مسلمانانو سره براب کړي شول.

## محمدي مساوات

عام خيال دادي چه اسلام چه د قانوني مساوات کوم سلطنت قائم کړي هغه د عربو لپاره کوم نوي څيز نه وه ځکه چه عرب پخپله په فطري ډول سره پخپل ځان متکي ؤ، او د هغوی د قبيلو او ايلونو د شيخانو رياست نږدې همدې ډول ته ورته ؤ، خو دا خبره ډيره سخته تاريخي غلطي ده، په عربو کې له څه وخته درې سلطنتونه قائم ؤ، او داټول په همغه ډول حکومتونه ؤ، لکه څرنګه چه په دنيا کې نور شاهانه حکومتونه ،، په يمن کې د سبا او حمير، سلطنتونه هم دا ډول ؤ، د اسلام نه لږ څه دمخه چه په کنده کې د روميانو د اثر لاندې کوم نوي رياست جوړ کړي شوي ؤ، هغه هم په همد نقشه ؤ ، د قبائلي مشران که څۀ هم د خلکو په خوښه يا شخصي کردار لکه شجاعت ، سخاوت او داسې نورو په بنا ټالکل کيدل ليکن د هغوی حقوق به هم د عامو خلکو نه ممتاز وو، لکه کله چه به په جګړو کې د غنيمت څه مال لاس ته رواغي په هغه کې به د قبيلو د مشرانو لپاره ځانګړي حقوق مقرر و ، ډ ا صفيه ، مرباغ، نشيطه او فقول په نوم يادېدل، او نور خلک به

ورځینې بې برخې ؤ، اسلام دغه امتیازي حقوق له مینځه یووړل او په غنیمتي مال کي یې پنځمه برخه د بیت المال لپاره وټاکله ، همداراز په عامو مجلسونو کې خلکو دا حق نه لاره چه د قبیلو د سردارانو او مشرانو په مخکې په ازاد ډول خبرې وکړي، لکه چه یو یهودې مذهبه شاعر په د ې کله داسي وایي:

وننکر ان شئنا علی الناس قولهم

ولا ینکرون القول حین نقول

ژباړه: که مونږ وغواړو د خلکو خبرې رد کولې شو او که چې مونږ خبره وکړو نو خلک هغه رد کولې نشي.

د قبائلو مشرانو چه به د خپل ځان لپاره کو څرځایونه ټاکلې ؤ هلته د نورو خلکو لپاره د قدم ایښودلو اختیار او مجال هم نه وي. لکه چه د بسوس، جگړه په همدې وجه سره پیښه شوي وه، او حضورصلي الله علیه وسلم په دې هکله داسې فرمایلي دې،

لا حمی الا ان حمی الله محارمه

ژباړه: دالله جل جلاله او دهغه د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه پرته هیڅوک دا حق نلري چه څرځایونه د ځان لپاره مخصوص کړي،

د حضور صلي الله علیه وسلم له دې وینا مقصد دهغه دوري او د ستول او رسمونه له مینځه وړل ؤړ کو چه د پاجایانو منځ ته راوستلې و، هغوی به په شاهانه شان او ښکلا او سینګار سره په د نګو دنګو مائیو کې د ډیرو قیمتي جامو چه په سرو زرو او سپینو زرو او ملغلرو او جواهراتو به شکلي کړي شوي ؤ په اغوستلو سره په لوړو لوړو قیمتي تختونو باندې کیښناستل، د هغوی د حکومت نور لوړ رتبه امران به د خپلو رتبو په مناسب د سرو زرو او سپینو زرو جړ او شوو چوکیو او وریښمي نالیو باندې کښیناستل، حضورصلي الله علیه وسلم یو مخ داټول مصنوعي امتیازونه له مینځه یوړل ، دا سرو زرو او سپینو زرو سامان او رویښمیني جامې او فرشونه حرام کړی شول، د سرو او سپینو زرو ګانې د سړیو لپاه ممنوع کړی شوي، د وخت امیر المؤمنین او د هغه د حکامو لپاره جومات او د هغه د اعلان خاص دفتر ؤ ، د دروازونه پیري او محافظان پورته کړي شول، د رباری نقیبان رخصت کړي شولو طلائي، زمردي او نقره او تختونه پورته کړي شول، امام او دهغه حکام به د خلکو سره بالکل یو شاني کښیناستل او پاڅیدل ،لوړ او ټیټ توپیرونه پاتې نشول ، لکه چه د ظاهري وضع او جامو په لحاظ .

دحضور صلي الله علیه وسلم او د هغه  د اصحابو ترمینځ هیڅ ډول د مراتبو توپیر موجود نه ؤ، یو ځل یو صحابي یو سوریایي جبه راوړه، څرنګه چه دحضور صلي الله علیه وسلم په خدمت کې به د عربو د بیلو بیلو سیمو وفود حاضریدل نو حضرت عمررضي الله عنه عرض وکړ چه یا رسول الله صلي الله علیه وسلم دا تاسو واخلئ او چه کله د عربي قبائلو له وفودو سره ملاقات کوئ دا به اغوندئ، یا به یې دجمعی په ورځ چه د مسلمانانو د دربار ورځ ده په غاړه کوئ، دغه وخت د حضرت عمررضي الله عنه نظر هم د اسلام په هکله هغه ظاهري جاه و جلال پسې ولاړ کوم چه د وخت په پاچایانو کې یې رواج درلود، لیکن حضور صلي الله علیه وسلم دا پرده زرڅیری کړه چه د مسلمانانو په یوشا د شاهانه جاه اوجلال لپاره نه دي مبعوث شوي، حضور صلي الله علیه وسلم وفرمایل: کوم خلک چه دا اغوندې په اختر کې یې هیڅه برخه نشته.

همداراز د کښناستلو ، پاڅیدلو او مجلس کې امتیازي حقوق یې تردې حده پورې له مینځه یووړل ه په مجلس کې به د حضورصلي الله علیه وسلم او عام سړی تر مینځ د ناستې ولاړې په اعتبار سره هیڅ فرق نه

ؤ، ان تردې چه كله به انحضرت صلي الله عليه وسلم او د هغه اصحاب په يو مجلس كې ناست ؤ، اول بهر نه به څوک راغلل نو پوښتنه به يې كوله چه په تاسې كې محمدصلي الله عليه وسلم كوم يو دي؟ خلكو به په اشاره سره ورپيژنده، ډيره ځلي اصحابو دا غوښتنه وكړه چه لږ تر لږه يوه صوفه د حضورصلي الله عليه وسلم د ناستې لپاره جوړه كړئ خو هغه دا خوښه نه كړه.

د هغه وخت شاهانه حكومتونو كې پاچا او شاهانه افراد به دقانون د محكوميت او ينولو نه مستثنې ؤ، بالمقابل دلته حال دا ؤ ، چه د لهى هر قانون د تعميل نمونه پخپله رسول الله صلي الله عليه وسلم او دهغه اهل بيت ؤ، او دالله گ دا حكم ؤ، چه كه چيرته((نعوذبالله)) په اهل بيتو كې له كوم چانه د الله تعالى د احاكامونا فرمانې صادره شي د هغه لپاره دوه چنده سزا ده، يووخت كې يوى مخزومي ښځې فاطمه بنت قيس غلا وكړه او حضورصلي الله عليه وسلم د هغى د لاس پرې كولو فيصله وكړه، څرنگه چه هغه د يوي معززي كورنۍ ښځه وه په اصحابو باندې دا خبره لږ گرانه تمامه شوه او ويې غوښتل چه د حضرت اسماه بن زيدرضي الله عنه له لارې سفارش وكړي، حضورصلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ستاسو نه مخكې قومونه له همدې كبله تباه شول چه په هغو كې به كله يو عام او معمولې سړى جرم وكړ هغه ته به سزا وركول كيده، خو كه همغه كار به كوم لوې سړى وكړ هغه به يې پرېښوده او سزا به نه وركول كيده، او بيا يې وفرمايل كه دا د محمد لور فاطمه وي ، هم ما به يې لاس پرې كړي ؤ (بخارى)

يو ځلې حضورصلي الله عليه وسلم اصحابو ته څه مال ويشه، په دې وخت كې يو حريص سړى راغې او په حضورصلي الله عليه وسلم باندې يې ورحمله كړه او د هغه صلي الله عليه وسلم په لاس كې د خرما ځانگه وه په هغى سره يې هغه سړى له ځانه دفع كړ او د خرما د ځانگې د لگيدپه وجه د هغه په مخ باندې زخم وشو، كله چې حضورصلي الله عليه وسلم هغه وليد سملاسې همغه وخت يې هغه سړى ته وفرمايل راشه زما نه خپله بدله واخله، هغه سړى وويل: اى د خداى رسوله! ما معاف كړى. (( ابو داود – كتاب الحدود))

يوځلې انحضرت صلي الله عليه وسلم ته ډيري وينځې راوستل شوي و د حضرت فاطمه رضي الله عنها لاسونه د ميچني دگرځولو له كبله تڼاكې كشوى ؤ، هغى خپل لاس حضورصلي الله عليه وسلم ته وښود او ورته يې وويل: چه د كور د كار خدمت لپاره د دوي نه يوه وينځه ماته راكړه، ليكن حضورصلي الله عليه وسلم ورته په ځواب كې وفرمايل: د بدر يتميان (( يعني د بدر په غزا كې د شهيدانو بچيان)) له تانه زيات مستحق دي.(( ابوداود))

همداراز كله چه د سود د باطلولو حكم راغې تر ټولو د مخه حضورصلي الله عليه وسلم د خپل تره حضرت عباسرضي الله عنه ټول سودى معاملات باطل وگرزول، د جهالت د زمانې د كسانو(( انتقامونو)) د ختمولو حكم چه له نافذ شو انحضرت صلي الله عليه وسلم تر ټولو د مخه د خپلي كورنۍ بدلې چه په نورو قومونو پاتې وي معاف كړي، د اسلامې ماليانو، زكوۀا و صدقات، عشر او داسې نورو څيزنو په وجوب او ادا كولوكې نبوي كورنۍ د نورو عامو خلكو سره يو شان شريک وو،

همداراز پاچايانو د خلكو په زړونو كې د خپل منصب د لوړتيا تصور پيدا كړي ؤ چه گوندې دوي له نورو عامو خلكو ځينې لوړ او بهتر دى، برعكس كله چه حضورصلي الله عليه وسلم ته دالله جل جلاله له لوري كوم خاص خطاب وركړاى شوو ، هغه دا ، چه ته دخداى بنده يې- او همغه بنده گي هغه كمال وگرزولې شوه، دا اعزازاتو ټولي هغه اهومي او خيالي طريقي چه پاچايانو رائج كړي وى او ځانونه يې د هغې مستحق گرزولي ؤ انحضرت هغه ټولي يو مخ له مينځه يووړي او ويې فرمايل: چه تر ټول بدنوم دادې چه څوک ځانته شهنشاه

ووايي: يو ځلې چا ورته د سيدنا خطاب ورکړ، هغه ورته وفرمايل: دا خو دالله جل جلالـه لپـاره دی، پـه داسـې مواقعو کې هغه صلي الله عليه وسلم دا نه خوښوله چه ده ته دي په نورو انبياؤ باندې فضيلت ورکړي شي.

يوه ورځې لمر تندرنيولېو، او تقديرا، په دغه ورځ د حضورصلي الله عليـه وسـلم زوی(( ابـراهيم)) هـم وفات شوي ؤ، او د عربو عام خيال داوه چه کله کوم لوري سړی وفات کيږي نو لمر تند نيسي له دې کبله په دغه ورځ د لمر توريدل خلکو د حضرت ابراهيم مړيني ته منسوب کړل، ليکن کله چه حضورصلي الله عليه وسلم د کسوف د لمانځه نه فارغ شو نو يوه خطبه يې ورکړه او د هغې په ترځ کې يې دا خيـال رد کـړ او ويـې ويل: لمر او سپوږمي دواړه د الله جل جلاله د قدرت نښي دې د چا په مرگ يا ژوند سره هغـه نـه تـوريږي. (( بخاری))

يو ځل يو سړی د انحضرتصلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضـر شـو او پـه هغـه بانـدې د نبـوت دومره ويره پريوته چه وجود يې په لړزيدو راغې، حضورصلي الله عليه وسلم چه د هغه دا حالت وليد نـو ورتـه يې وفرمايل: ويريږه مه، زه خو د هغې ښځې زوی يم چه وچه کړي غوښه به يې خوړله.

يو ځل د رسول الله صلي الله عليه وسلم حضورته يوبندي راوستل شو هغه وويل: چـه خدايـه! زه سـتا لوري ته رجوع کوم ، د محمـد صـلي اللـه عليـه وسـلم خواتـه رجـوع نـه کـوم. ددې خبـرې پـه اوريـدو سـره حضورصلي الله عليه وسلم وفرمايل: چه ده ته دا معلومه شوه چه داد چا حق دي ،. (( مسند اسوبن الشـريح)) په داسې حال کې چه داهغه فقره ده چه د پاچايانو په محکموکې په هغې اعدا م کيدای شـو ځکـه چـې ددې فقري نه د هغو په نزد د شاهانه ذات توهين تصور کيده،

يو وار رسول الله صلي الله عليه وسلم لمونځ کاوه ، همداسې د لمانځه په حالت کې ؤ يوبدو(( ددښتی اوسيدونکې عرب کوچي)) وويل: خدايه! په ما او محمد صلي الله عليه وسلم باندې رحم وکـړه. او زمـونږ سـره شريک په بل چا رحم مه کوه! انحضرت صلي الله عليه وسلم چه کله سلام وگرزوه سملاسـي يـې هغـه بـدو وه دگه چه تا خو يو پراخه څيز يعنې الهې رحمت محدود کړ، بخاری. په داسې حال کې چه په شاهانه حوړه کې د شاهانه ذات سره د وفادارئ دالوي نښې اظهار هغه په دې فقره کې کړي و کوم چه د زما نې پاچايانو به په داسې خبرو سره د انعامونو بارانونه کول.

## د قوي دولت نوې تصور

د سلطنت فتحه کړي ځايونه او محصولات او شتمني د دنيا پاچايانو هميشـه خپـل شخصـي ملکيـت گاڼه ، او د خپل ځان او خپلې کورنۍ د عيش او ارام نه پرته د هغې د مصرف بل کوم ځای نه ؤ او کـه هغـوي به په دې کې نورو ته څه ورکول نو هغه به يې پرې خپل احسان باله ، ليکن اسـلام چـه د سـلطنت کـوم نظـام مينځ ته راووست په هغه کې سلطنت ټول شته او ثروتونه او محصولات دالله جـل جلالـه مـال گڼـل کيـده او يواځې د بيت المال ملکيت ؤ او د همدې مسلمانانو لپاره ،، زکوة، صدقه، خراج، او جزيه چه په څـه اخيسـتل کيده که څه هم د سلطنت د امير په حيث ټوله به دانحضرت صلي الله عليه وسلم لاس ته راتلله ليکن هغه دا شخصي نه گڼله بلکه د شرايطو په اختلاف سره يې هغه د ټولو مسلمانانو ملکيت وگرزوله او کلـه يـې هـم پـه خپل شخصي تصرف کې رانه وستله، د زکوة ټوله شتمني يې په خپل ځان، پـه خپـل اهـل وعيـال او خپـل بنـي هاشم کورنۍ باندې حرام کړل او د الهې حکم سره سم يې هغه د عامو غريبـانو او محتاجـانو حـق وگـرزاوه او دايې په ډاگه وويل: (( ما اوتيکم من شئ وما امنعکم، ان انا الاخازن اضع حيث ما امرت))

ژباړه: زه نه تاسو ته څه درکولې شم او نه څه منع کولې شم زه صرف خزانچې یم ، چیرته چه ماته د مصرف کولو حکم راکړي کیږي هلته یې مصرفوم.
په بل ځای کې داسې فرمایي: انما انا قاسم والله معطی))
ژباړه: زه صرف ویشونکې یم ورکوونکې خو الله جل جلاله دی.
د غنیمت مال به هم مجاهدینو ته ورکول کیده انحضرتصلي الله علیه وسلم په خمس یعنې پنځمه برخه باندې د تصرف اختیار لره، ددې تصرف داختیار معنی داده چه ددې برخې نه حضورصلي الله علیه وسلم د خپل اهل بیتو نه علاوه نورو کومو محتاجو او بې وزلو مسلمانانو ته چه د جنګې قواعدو له مخې د غنیمت له مال څخه هغوی ته څه نه رسیدل ورکول ، همداراز کومه سیمه به چه بې له جګړي د اسلام په تصرف کې راتله هغه به مستقیما د انحضرت صلي الله علیه وسلم په تصرف کې ورکول کیده لیکن ددې تصرف مقصد به هم دا وه چه حضورصلي الله علیه وسلم به د خپل لزوم ید سره د خپلې کورنۍ ضرورتونو د صرف کولو نه وروسته د هغې محصولات هم د اسلام په ضرورتونو کې مصرفول او دا یې په ډاګه اعلان کړل ، چه دا به هم د مسلمانانو په ضروروتونو کې مصرفیږي.

گنډاغوستونکې واکمن

په اصحابو کې چه کومو کسانو د ایران او روم د دربارونو ظاهرې جاه او جلال او ښکلا لیدلې وه هغوی هم په دې مغالطه کې پراته ؤ چه د اسلام ظاهرې رعب او وقار لپاره هم ظاهرې شاهانه دبدبه او رعب داب ضرورې دی. چنانچه هغوی ته به په وار وار خیال پیداکیده چې انحضرت صلي الله علیه وسلم د سادګۍ، تواضع او زهد او قناعت په ځای کاشکې هغه په عیش او عشرت کې د آرام ژوند تیرولې ، لکه څرنګه چه د روم قیصر او د ایران شهنشاهان ژوند کوي.
یوه روځ حضرت عمرصلي الله علیه وسلم د حضور صلي الله علیه وسلم هغه کوټې ته ورننوت چه هلته دده د ضرورت څیزونه پراته ؤ، هغه ولیدل چه انحضرت صلي الله علیه وسلم د څرمني یو بالښت ته چه د خرما له پاڼو او پوټکونه ډک کړای شوي ؤ تکیه وهلې وه او په یوه داسې زیږپوزکې باندې پروت وو ، چه د هغه د اوبدلو نښې د هغه په بدن باندې ښکاریدې. حضرت عمررضی الله عنه د کوټې شاوخواته وکتل، هغه ته پرته له درې وچو څرمنو ځینې نور د خوني څه اثاث او سامان په نظر ورنغي یو خواته یې لږ څه وربشې پرتې وی. ددې منظر د لیدلو نه هغه ډیر سخت اغیزمن شو لیموته یې اوښکې راغلې، انحضرتصلي الله علیه وسلم ورڅخه د ژړا سبب وپوښت، هغه عرض وکړ ای د خدای رسوله! زه به ولې نه ژاړم څرنګه چه ګورم، (( د بستر د نشتوالې له کبله)) د پوزکې نښې ستا په مبارکه شا باندې ښکاري او ستا د خزانې چه په هغې کې څه پانګه ده هغه زما مخې ته پرته ده زه یې وینم اخوا قیصر او کسری دي چه په باغ او بهار کې د عیش او ارام خوندونه اخلې او ته دخدای استاذې یې او ستا دا حال دي هغه ورته وفرمایل: ای دخطاب زویه! ایا ستا دا خوښه نه ده چه هغو ی دنیا واخلې او مونږ اخرت ، حضرت عمررضی الله عنه عرض وکړ چه هو بیشکه ای د خدائصلي الله علیه وسلم پیغمبره خوښه می ده.
په بل روایت کې داسې دي چه حضرت عمررضی الله عنه عرض وکړ چه ای د خدائجل جلاله رسوله! ته دعا وکړه چه الله جل جلاله ستا امت هم اسوده کړي ځکه چه رومیان او ایرانیان سره له دې چه د خدای پرستش نه کوي بیا هم خدائجل جلاله هغوي ته د نیوي ساز وسامان ورکړي دی. حضورصلي الله علیه

وسلم فورا. د تکيې وهلونه راپورته شو او ورته ويې وويل چه : ولې د خطاب زويه ته په دې خيال کې يې، چه رومې او ايرانې خو هغه قومونه دي چه هغوی ته ټولي مزي او خوندونه په همدې دنياکې ورکړل شوي دي((بخاری او مسلم))

ددې خوند لرونکې لنډ تقرير اغيزي ته گوره چه همغه حضرت عمررضی الله عنه چه د رسول الله صلي الله عليه وسلم لپاره يې دجاه او جلال او عيش او آرام ژوند هيله ښکاره کوله، کله چې د هغه د خلافت وخت راغې نو هغه هم گنډ لي او پيوندي جامي واغوستي په جونگړه کې ناست ؤ د سرو او سپينو او جواهر لرونکې روم اوقيصر او د ايران په شهنشاه يې حکم چلاوه، او په هر ډگر کې يې ماتي ورکولي.

قيس بن سعد يو صحابي ؤ هغه په حيره کې څه وخت تير کړ او هلته يې وليدل چې خلک د هغه ځای مرزبان ( سرحدي رئيس) ته سجده کوي دې کار په هغه باندې ځانگړې اغيزه وکړه او په خپل زړه کې يې وويل: چه انحضرت صلي الله عليه وسلم ترټولو زيات د سجدي مستحق دي ، همداؤ چه هغه د حضور صلي الله عليه وسلم خدمت ته حاضر شو او دا خپل خيال يې هغه ته ظاهر کړ انحضرت صلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل: داسې هيڅکله ونه کړي که ما چاته د سجدي کولو اجازه ورکولې نو ښځوته به مي ورکړي وي، چه خپلو ميړونو ته سجدي وکړي.

په يو بل روايت کې دي چه حضرت معاذ رضي الله عنه يو ځل شام (( سوريه)) نه بيرت راغې نو انحضرت صلي الله عليه وسلم ته يې سجده وکړه، انحضرت صلي الله عليه وسلم ډيرپه حيرانتيا سره ورته وويل: معاذه دا څه کوي؟ هغه عرض وکړ چه ای د خدا رسوله ما روميان وليدل چه خپلو پيشوايانو او واکمنانو ته سجدي کوي نوزما زړه هم وغوښتل چه زه هم تاسو ته سجده وکړم ، هغه ورته وفرمايل: خدای جل جلاله نه پرته که ما بل چاته د سجد ي کول ويلې وي نو ښځې ته به مي ويلې وي چې خپل ميړه ته سجده وکړئ.

په دې ټولو پيښو کې دا په ډاگه ښکاري چه عرب پخپله ددې سره اشنا ؤ چه خپل پاچا او پيشوا د شاوخوا پاچايانو په څير په عيش او آرام او رعب داب کې وويني خوانحضرت صلي الله عليه وسلم په خپلو تعليماتواود خپلې تزکيي، او د خپل فيض اثر او خپل نمونه ائ ژوند سره د اوښودله چه دا د کبر او لوړتيا او اسراف او بې ځايه خرڅونو ژوند د خدای خوښ نه دي او اسلامي تعليم ورته په ښه نظر نه گورې ددنيا دژوند د ا ښار او رونق د شگو گل، سراب ليدلونه پرته بل څه نه دي ، الله پاک دا حقيقت په قرانکريم کې ځای په ځای ښکاره کړې دي او حضرت محمد صلي الله عليه وسلم عملا د هغه کامله نمونه وښودله او د هغه نه وروسته د هغه خليفه گانو او اصحابو هم دهمدې پير وي وکړه او همدا سادگې او تواضع د اسلام يو ځانگړې کارنامه وگرځيده.

دخدای جل جلاله د بندگانو دحقوقو ادا کول.

په عامو سلطنتونو کې د لاس ته راغلو غنيمتونو ورکړه او بخشش په شاهانه نړدې والې او عياش اميرانو ميراثي حق ؤ او د زيار او سفارش په بنا سرته رسيده ، د هغې نتيجه به داوه چې د شتمنو په ثروت او د بې وزلو په اړتيا وکې به لازياتوالې منځته راته او پرگنيز نظام به لاپسي قوت مونده، ليکن انحضرت صلي الله عليه وسلم چه د الهې احکامو تر سيورې لاندې کوم نظام قايم کړ په هغه کې شتمني او قرابت نه بلکه حاجت او ضرورت د ورکړي لپاره معيار وگرځولې شوؤ، ځکه چه د ضعيفانو او کمزورو حق د غوښتلو او

شتمنو په مقابل کې زيات د پاملرني وړ ؤ د عربو په رواج کې وينځـو اوغلامـانو هـيڅ حـق نـه درلـوده ، لـيکن انحضرت صلي الله عليه وسلم هغوی هم د آزادو خلکو سره برخه وال کړل، په ابوداود کـې د حضـرت عائشـی رضی الله عنها نه روايت دي چه انحضرت صلي الله عليه وسلم ته يوه کيسه راوړي شوه چه په هغې کـې څـه مړی(مهری) وی. حضورصلي الله عليه وسلم په وينځو او آزادو خلکو باندې وويشلي، نغدي يا جنسـي مرسـتي به چه کله ويشل کيدي آزاد شوو غلامانو ته به تر ټولو د مخه د هغو برخه ورکول کيده.

## دشعور ازادي

د پاچايانو په دربارونو کې بې له اجازت نه خبره کول جرم ؤ، او چه اجـازت بـه هـم ورکـړي شـو نـود تکلفاتو او القابو او دغلامئ او بندګۍ دا سلو بو نو د سرته رسولو نه ورسته به چيرته د مدعا اصلي ټکې په ژبه راته، بالمقابل د اسلام د حکومتي نظام حال دا ؤ، چه که څه هم د حضور د عظمت او جلالاو عزتمنـدې سـره، د نبوت په دربار کې د هغه ملګري ډير غلي کړي ؤ ، خو هر سړې ته دا اجازت ، چه بې له څـه تلکـف ځينـې خپل مقصد بيان کړي ، نا بلده بدو(( دښتې عرب کوچي)) به راغې د يا محمد! په کلمه سره به يـې انحضـرت صلي الله عليه وسلم مخاطب کاوه هغه صلي الله عليـه وسـلم پـه ډيـره خوښـۍ سـره هغـه تـه ځـواب وايـه؟او مسلمانانو به د يا رسول الله صلي الله عليه وسلم لفظ په ويلو سره خبره پيل کوله ، دهغه صلي الله عليه وسلم د احکامو سرته رسول د هر مسلمان ايمان ؤ، خو کله چه به ورته معلومه شوه چه د حضورصلي الله عليه وسلم دا حکم د مشوري په ډول دې نو بيا به يې په ډيره ازادئ او بې تکلفۍ سره د هغه په هکلـه خپـل نظـر بيـانوه، حضورصلي الله عليه وسلم به هغه په ډيره توجه او شفقت سره اوريده، او که د هغه راءی به د حضورصلي الله عليه وسلم دراءی سره مخالفه هم وه نو حضورصلي الله عليه وسلم به هغه د خپلې راءی په منلـو نـه مجبـوره وو، دا د اسلام قانون دې چه که کوم مالک د خپلې وينځې نکاح دکوم مريي سره وکړه، د آزاديدونه وروسته د هغې ښځې حق دی چه که غواړي هغه نکاح باقي وساتي او يا يې ماته کړي، حضرت بريـرة د حضـرت عائشـی رضی الله عنهاوينځه وه کله چه هغه آزاده کړي شوه هغې له خپل ميړه نه ځان جلا کـړ، د هغـې ميـړه بـه پـه هغې پسې ژړل، بالاخره انحضرت صلي الله عليه وسلم حضرت بريرة ته وفرمايـل: هغـه بـه دې پـه خپـل ميـړه توب سره اخيستې ؤاو منلې ؤ، هغې عرض وکړ چې ای دالله پيغمبره! دا ستا حکم دي؟ حضور ورته وفرمايـل: نه دا سفارش دی، هغې عرض وکړ نو زه يې له قبلولو نه معذوره يم(( بخاری)) انحضرت صلي الله عليـه وسـلم هغه په دې کې راونه نيوله او هيڅ يې هم ورته ونه ويل:

د بدر په غزا کې حضورصلي الله عليه وسلم په يو ځای کې ديره واچوله د جنګې فنونـو ځينـې مـاهرو اصحابو عرض وکړ چه يا رسول الله! تاسو دا ځای د وحی په بنـا ټـاکلې دي او کـه پـه خپلـې راءی سـره؟ هغـه وفرمايل: په خپلې راءی سره ، اصحابو عرض وکړ ای د خدائجل جلاله رسول صـلي اللـه عليـه وسـلم! د جنـګ لحاظه دا ځای مناسب نه دی بلکه مونږ بايد د بدر دکوهی ترڅنګه وړاندې تم شو، حضورصلي الله عليه وسلم له څه ډيله د هغوی په رای باندې عمل وفرمايه: ددې ډول چارو په هکله د هغه دا ارشاد دی، انتم اعلم بامور دنياکم. تاسو په خپلو دنيوي چارو کې د خپل تجربې له مخې ښه پـوهيږي، ددې ارشـاد پـس منظـر داو چـې حضور صلي الله عليه وسلم چه کله مديني ته تشريف يووړ، دهغه ځای خلک يې وليدل چې د خرما په ونو کې يې د ښځي اونر خرما قلم ايښوده، حضورصلي الله عليه وسلم ددې کار په ليدو سره داسې خيال وکړ چه دا به د څه ټوټکو لپاره وی له دې کبله يې مشوره ورکړه چه که دا مونه کولې نو ښه بـه ؤ، هغـه انصـارې دده صـلي

الله عليه وسلم په خبره عمل وکړ، په نتيجه کې چه دخرما حاصل ډېر کم او خراب راغې ، بله ورځ حضـور: د هغه ځای نه تيريده پوښتنه يې وکړه هغه انصارې ورته د خپلو محصولاتو د کمې او خراب حالت عرض وکـړو، هغه وخت انحضرت صلي الله عليه وسلم وفرمايل: چه ما دا خبره د خپـل گومـان نـه کړيـوه، تاسـو پـه خپلـو دنيوي چارو ښه پوهيږئ، په هغه چارو کې چه د هغې علم په وحی سره شوي وي زما پيروي کول ضرورې دی ليکن په دنيوي چاروکې چه په کومو کې زه په خپلې راءی سره څه وايم نو زه هم بشر يم.

دا حديث د هغه چارو په هکله دې د کومو تعلق چې ددنيوي معاملاتو د تجربو سره دی ډېر اهميت لري، ليکن په کومو چارو کې چه انحضرت صلي الله عليه وسلم ته په وحی سره علـم حاصـليده هغـه گويـا پـه الهی مصلحت مبني ؤ ، او د هغې خبر حضورصلي الله عليه وسلم ته د وحی په ذريعه کيده په هغې کې د چا مشورې ته هم توجه نشوه کيدلې.

د حديبي په غزوه کې چه کله انحضرت صلي الله عليه وسلم په ډېرو نرمو شرايطو باندې سوله وکړه، نو حضرت عمررضي الله عنه داسې محسوس کړه چه گوندې دا سوله د فشار په نتيجه کې وکړای شوه له دې کبله هغه د اسلامي غيرت له جذبي نه بې تا به شو او د انحضرت صلي الله عليه وسلم حضورته راغې او عرض يې وکړو چه ای د خدای رسوله! ته په حقه پيغمبره نه يې! هغه ورته وفرمايل: بې له څه شکه، هغه بيـا وويـل: ايا مونږ په حقه نه يو او زمونږ دښمن په نا حقه نه دی ؟ هغه ورته وفرمايل: بې له څه شکه: هغه بيا عرض وکړ نو بيا مونږ ددين په باره کې دومره فشار ولي منو، حضورصلي الـله عليـه وسـلم ورتـه وفرمايـل: زه د خـدانجل جلاله پيغمبر يم د هغه نافرماني نه کوم. هغه به زما مرسته کوی. هغه بيا عرض وکړ. ايا تاسو دانه ؤ ويلي چه مونږ به ځو او د کعبي د خوني طواف به کوو؟ هغه ورته وفرمايل: هو! ليکن ايا ما دا ويلې ؤ، چه په همدې کال کې به يې کوو؟هغه وويل، هو، نو حضور: ورته وفرمايل: نو بيـا بـه راشـئ او طـواف بـه وکـړئ. لـيکن حضـرت عمررضی الله عنه وسلم په دې سوال او ځواب سره مطمئن نه شو، حضرت ابوبکرصـديق رضـی الـله عنـه تـه روغې د هغه سر يې همدا خبرې وکړې او هغه هم هغه ځواب ورکړ کوم چه رسول الله صلي الـله عليـه وسـلم ورکړي ؤ، بيا چه کله په اصل حقيقت باندې پوهه شو نو پخپله يې د حضور صلي الله عليه وسلم سره دا سوال او ځواب بې ادبي وگڼله او دهغې په کفاره کـې يـې صـدقه ورکـړه، روژې يـې ونيـولي او غـلام يـې آزاد کـړ (( بخاری))

له دې پيښې نه دا ثابتيږي چه حضرت عمررضي الله عنه ډېر عرضـونه منتونـه وکـړه خـو انحضـرت صلي الله عليه وسلم خپله فيصله بدله نه کړه ځکه چه دا فيصله د الله جل جلاله په ارادي سره کړې شوي وه، همدا راز په همدې وخت کې چه د حديبي د سولي د شرطونو د فيصله کولو نه وروسته انحضـرت صـلي الـله عليه وسلم خلکو ته د احرام د ماتولو مشوره ورکړه، خو ځرنگه چه خلک د کعبي د خوني د طواف د حج کولـو په پوره جذبه او شوق سره راغلي ؤ او دلته د حـديبي د سـولې پيښـه مـنځ تـه راغلـه ، ددې خفگـان لـه کبلـه مسلمانانو د حضورصلي الله عليه وسلم په ارشاد په تعميلولو کې لږ څه نا زړه توب او تساهل وښود ه او ددې کار نه يې مطلب دا ؤ چه حضورصلي الله عليه وسلم دا حالت وگوري نو په خپلو پيروانو به شفقت وکړي او د هغو د ارزو سره سم به خپله فيصله بدله کړي ليکن کله چه انحضرت صلي الله عليه وسلم وليدل چه خلک په خپل راءی باند ولاړ دی او د هغوی د ټيگتيا د الهی مصلحت نه خلاف دي نو دا حالت په هغه صلي الله عليه وسلم باندې لږ څه دروند تمام شو. زړه يې خفه شانته شو، او دا م المؤمنين حضرت ام سلمی خواتـه ورغـې ، هغې بي يی چه دده په مبارکه څيره باند ې د غم او خفگان نښي نښانې وليدلې نو پوښتنه يې ورځينې وکـړه ،

هغه ورته ټول صورت حال بیان کړ حضرت ام المؤمنین ام سلمی رضی الله عنها د مشورې په توګه عرض وکړ چه ای د خدای رسوله ، تاسو چاته هیڅ مه وایې او خپل احرام ما ت کړی ، چنانچه انحضرت صلي اللـه علیـه وسلم همداسې وکړل، د نبوت د شمعي پتنګانو چه دا ولیدل او پوه شول چه اوس حضورصلي الله علیـه وسـلم خپله فیصله نه بدلوی نو بیا د اطاعت دا حا ل داؤ چه د احرام په ماتولواو د سر ویښتانو لنډولو کـې یـو پربـل باندې مخکې والې کاوه.

په دې پیښه کې دواړه ډوله مثالونه شته دی، د حدیبي د سولې فیصله څرنګه چـې د الهـی حکـم پـه بناوه په دې کې یې د هیچا د مشوري هیڅ پروا ونه کـړه او د احـرام د مـاتولو تـدبیر چـه حضـرت ام سـلمی وړاندې کړ هغه یو انسانې تدبیر ؤ چه د اسلام پوهني، اوروان شناسئ، په دقیق علم باندې مبنـي وو او تعلـق یې له تجربوې چارو سره ؤ، له دې امله یې بې له څه ډیله عمل ورباندې وکړ، څه ځینې نور ډیر داسې اقعـات هم شته چه په هغې کې خلکو د خپلې ناپوهئ، اوخپلې خبري ته د خیال نه ساتلو او انسـانې کمزوریـو پـه بنـا دغسي په هغې حالت کې په حضورصلي الله علیه وسلم بې ځایه اعتراضونه کړي دې لیکن انحضرت صلي الله علیه وسلم هغه په ډیر صبر او زغم سره اوریدلې دي او هیڅ اعتراض کوونکي ته یې د هغه په بـې ادبـئ هـیڅ سزا نه ده ورکړی.

یوځلې دحضرت زبیررضي الله عنه اویوه انصارې تر مینځه د زرعتي ځمکو پـه اوبولګولـو بانـدې څـه شخړه پیښه شوه، صورت دا و چه د حضرت زبیر رضي الله عنه پټې وړاندې ، او د انصارې وروسته و، انصارې غوښتل چه هغه لمړی اوبه ولګوي په پای کې خبره انحضرت صلي الله علیه وسلم حضـورت تـه یـوړل شـوه، د اسلام قانون په دې هکله دا دي چه کومه ځمکه چې کوهی ته نږدې وي اوبه لګول د هغه حق دي، د وړاندې ځمکه وال دا حق نشته چه بې له اجازته، کـوهی تـه نـږدې ځمکـه کـې خپلـو ځمکوتـه تـه اوبـه بـوزې ، لـیکن انحضرت صلي الله علیه وسلم حضرت زبیررضي الله عنه ته وفرمایل: چه ته خپل فصل خړوب کړه بیا پریږده چه ستا ګاونډ یان یې بوزې، دا یوه منصفانه فیصله وه، لیکن د انسانې کمزورئ په بنا هغه انصارې ډیر سخت په غصه شو اویې ویل چې ای د خدای رسوله تا دا فیصله یواځې په دې اساس کړیده چه زبیررضي اللـه عنـه ستاسو د ترور عمه زوی دی، ددې خبري په اوریدلو سره د انحضرت صلي الله علیه وسلم د څیرې رنګ بـدل شو ، هغله یې بیا د اخلاقو په ځای قانوني فیصله وکړه او حضرت زبیررضی الله عنه ته یـې وویـل: اوبـه خپلـې زمکې ته رابندی کړه، ان تردې چه اوبه د پټیو په پولو وانه وړې، او د نورو زمکو ته لاړې نه شي.

یو ځلې ا نحضرت : د غنیمت مال ویشه بنو تمیم د قبیلې یو سړ ی چه د ذوالخویصره په نوم یادیده راغې او ویې ویل: ای دخدای رسوله انصاف وکړه، انحضرت صلي الله علیه وسلم ورتـه وویـل: کـه زه انصـاف ونه کړم نو څوک به یې وکړې ذوالخویصره په دې بې ادبئ باندې حضرت عمررضي الله عنهـه غصـه راغلـه او حضورصلي الله علیه وسلم ته یې وویل: که اجازه راکوئ نوزه به یې سر ووهم، لیکن حضورصلي الله علیه وسلم هغه منع کړ او ورته یې وویل: دده په څیر ځینې داسې ملګري وي چه د هغو د عبادتونو په مقابل کې به تاته خپل عبادت ډیر نا چیزه ښکاره شي. دا به قران لورې خوله مری نه به یې نه ښکته کیږي، دا به دمسلمانانو د اختلاف په زمانه کې ځانګړې ډله جوړه کړي داله وخت نه دمخه وینا پیش ګـویې د امیـر المـؤمنین حضـرت علی رضي الله عنه په زمانه کې د خوارجو په راپیدا کیدلی سره پوره شوه.

دا دواړه اعتراضونه که څه هم د عرض له حد ځینې تیر شوي د کلک سترګی توب او بې ادبې حدتـه رسیدل او دا څه د حیرانتیا خبره نه ده. کیدای شي چه په دوي کې ځینې اعتراض کوونکې منافقان وي. پـه

صورت له دې نه دا خبره معلومه شوه چه که چا به د خپلې غلط فهمۍ په وجه سره په بد اسلوب او طريقى سره اعراض کاوه انحضرت صلي الله عليه وسلم به هغه په ډېر زړه سوی سره زغمه او تحمل کاوه، د انحضرت صلي الله عليه وسلم په دې ډول کړنه کې تر هغه صلي الله عليه وسلم وروسته راتلونکې خليفه ګانو او اسلامي اميرانو لپاره د حق پيژندنې ، حق لپاهر کار کولو ، حق ويلو، او د حق پيروي کولو کې د شخصي عزت او دبدبې غرور ته ددخل نه ورکولو څومره لوی تعليم دی.

مامورين يا حکام په حقيقت کې د پاچا قائم مقام وي، له دې کبله په هغوی باندې اعتراض کول ګوندې په خليفه يا پاچا باندې اعتراض کول وي، د نبوي حکومت په دور کې داسې دير مثالونه شته دي چه خلکو د نبوت د حکومت په مامورينو باندې شکايتونه کړيدي او انحضرت صلي الله عليه وسلم ددې په ځای چه د قانون د کومې ما دې په دليل نيولو سره هغوی چپ کړي يا يې د خپلو حاکمو په حمايت کې په اعتراض کونکې کوم قانونې جرم عائد کړي وي، په اخلاقي ډول سره يې دواړه خواوي پوه کړي دی او خپلو حکامو او مامورينو ته يې داسې فرمايلي دې، هو د مظلوم له خيرونه ځان ساتئ ځکه چه د هغوی د دعا او الهې دربار کې د قبليدو تر منځ کوم څيز پرده نه وي. او اعتراض کوونکو ته يې فرمايلي: تاسو خپل حکام په ښوروريو او عمل راضي ساتې.

ليکن ددې ټولو نه زيات سخت هغه حالتونه دی چه ځينو خلکو له حضورصلي الله عليه وسلم ځينې په ډيره ترخه او سختي رويي سره د څه غوښتنې وکړي او انحضرت صلي الله عليه وسلم د داسې سخت اعتراض کوونکې په مقابل کې هم لطف او مهربانې وفرمايله او له عدل او انصاف ځينې زيات خه يې هغه ته ورکړه.

يوه ورځ يو شپون راغې او حضورصلي الله عليه وسلم له څادرنه داسې ټينګ ونيو چه دهغه صلي الله عليه وسلم مرۍ سره شوه، حضورصلي الله عليه وسلم چه د هغه خواته وروګرځيده نو هغه ورته وويل: زما دا دواړه او ښان راته بارکړه، ځکه چه هغه څه چه پری بارکړی هغه به نه ستا مال وي او نه ستا د پلار ، حضورصلي الله عليه وسلم درې ځلي ورته وفرمايل: استغفر الله نه، استغفر الله نه، استغفر الله نه، او بيا يې ورته وفرمايل: تر هغی پورې به څه درنکړم ترڅو چه ته زما ددی ټينګ نيولو بدله رانه کړي او هغه له بدلي ورکولو نه انکار کاوه، بيا حضورصلي الله عليه وسلم هغه معاف کړ او حکم يې وکړ چه دده په يو اوښ باندې وربشي او په بل اوښ باندې خرما ورته بار کړي.

يوورځي يو بدو چه په انحضرت صلي الله عليه وسلم باندې يې سپورۀ راغي، بدويان په عام ډول سخت مزاجه وي. ده په ډير زياتو سپکو سپورو سره خبرې پيل کړې، د حضورصلي الله عليه وسلم ملګرو هغه په دې بې ادبۍ باندې وداګه او ورته يې وويل: چه تاته پته شته چه ته له چا سره لګيا يي خبرې کوي. هغه وويل: زه خپل حق غواړم ، انحضرت صلي الله عليه وسلم خپلو ملګرو ته وويل: تاسو بايد دده طرف داری وکړئ ځکه چه دده حق دی ا و بيا يي هغه ته د پورا ادا کوول حکم وکړ او له خپل حق نه يې څه لازيات ورکړه.

يو ځل يو بدو د اوښ غوښه پلورله، انحضرت صلي الله عليه وسلم دا خيال ورغي چه زما په کور کې چواري، ((يو ډول وچې خرما)) شته دي، په دې خيال يې د يو(( وسق)) چوارو په بدل کې غوښه ځينې واخيسته، کورت چه راغي نو ويي ويل: چه ما خو درځينې غوښه د چوارو په بدل کې اخيستې وه، ليکن

چوارې اوس زما سره نشته دی، بدو په دې خبره شور جوړ کړ چه اوهو دا څومره بد معاملگي ده، خلکو هغه ته قناعت ورکوول چه رسول الله صلي الله عليه وسلم څنگه بد معاملگی کوي؟ انحضرت صلي الله عليه وسلم خلکو ته وويل: چه نه هغه پرېږدی او هغه حق لري چه څه ووايي: بيا يې قصاب ته مخ کړ او همغه خبره يې ورته وکړه، بدوبيا ورته همغه کلمه استعمال کړی، خلکو بيا څه ويل غوښتل، خو حضور صلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هغه پرېږدی چه څه وايي حق يې دی، دا جملی څو ځلي ددوی تر مينځ سره اوريدلي شوي. په پای کې يې هغه يو انصارې ته ورولېږه او ورته ويې ويل: چې خپلی پوره چواری اخيستې وي او بيرته راغي نو حضورصلي الله عليه وسلم د خپلو ملگرو سره ناست ، د هغه زړه هم د انحضرت صلي الله عليه وسلم له حلم ، عفوی ، او نيکې څه اغيزمن شو و د حضورصلي الله عليه وسلم د ليدو سره سم يې وويل: محمدهَ تا له دې خدای خير درکړی ، تا قيمت پوره راکړ او ښه دې راکړ.

په هر حال دا خو د مسلمانانو معاملې دی. تر دې زياتې هغه پيښې دې چې د يهودو بې ځايه او ناروا وضقيتونو په مقابل کې پيښې شوي دی، په داسې حال کې جه يهوديانو د ذمي رعيت په توگه ژوند کاوه،

زيد بن سته چه په هغه زمانه کې يهودی ۇ خه د راکړی ورکړی کار کاوه، انحضرت: له هغه ځينې خه پور واخيست ، د پورد ادا کولو نيټی ته لا څه وخت پاتې ۇ، چه هغه د پورپه غوښتلو پسې راغې او د انحصرت صلي الله عليه وسلم څادر يې ونيو او رايي ښکود او په سپکو سپورو سره يې وويل: ای د عبدالمطلب کورنۍ تاسو تل داسې چټلۍ کوئ، حضرت عمررضي الله عنه له غصي نه بې تابه شو، يهودی ته يې مخ کړ او ورته يې وويل: ای د خدای دښمنه، ته د رسول الله صلي الله عليه وسلم په شان کې داسې بې ادبې کوي. انحضرت صلي الله عليه وسلم مسکې شو او ويې ويل: عمره! زما خوله تانه بل څه اميد ۇ، هغه دی بايد پوره کړی وی. چه خپل پورپه نرمۍ سره وغواړي، او ماته دی بايد ويلي وای چه دده پور ادا کړه، او بيا يې همدې حضرت عمررضي الله عنه ته ارشاد وفرمايه: چه زه ولاړ شه دده پور ادا کړه او شل پيمانې خرما ورپسې اضافه ورکړه ، يهودی چه د حلم او عفوی دا منظر وليده نو مسلمان شو.

يو ځلې د حضورصلي الله عليه وسلم سره د اغوستلو يواځې يوه جوړه جامې پاتې وی او هغه هم پيړی او چټلی وي چه خوله به شوی نو لابه درني شوی اتفاقا، يو يهودی ته د شام نه جامې راغلې، حضرت عائشی رضی الله عنها عرض وکړ چه يوه جوړه جامې له هغه يهودی نه په پور واخله ، انحضرت صلي الله عليه وسلم يو سړی په دی مقصد يهودی ته ورولیږه، هغی بې ادبه په ځواب کې وويل: زه پوه شوم مطلب دا دی چه زما مال همداسې والوزوئ او پور رانه کړي، انحضرت صلي الله عليه وسلم ددې بې مناسبه خبرې په اوريدو سره يواځې همدومره قدر وويل: چه هغه ښه پوهيږی چه زه تر ټولو زيات احتياط کوونکې او ترټولو زيات د امانت ادا کوونکې يم.

دولس د پوښتنې حال

ددې پيسو د يادول نه ددې خبرې ښودل مقصد، چې انحضرت صلي الله عليه وسلم د پيغمبرئ نه علاوه د يو امير حيثيت درلوده و، خلکو چه په همدې حيثيت سره په هغه باندې سختونه سخت اعتراضونه وکړل، انحضرت صلي الله عليه وسلم هغه په کوم حلم او عفوی سره واوريدل او معاملي يې فيصله کړی بيا يې د واقعی تفصيل وفرمايل: او خلکو ته يي قناعت ورکړ، لږ شاني د اسلام د امير دا حيثيت د هغه زمانې د پاچايانو او اميرانو د غرورو او خپل سرئ سره مقايسه کړئ ، چه د رعيت په لږ شانته بې دا بې او کلک سترگتوب به يې د سختونه سختې سزاگانې ورکولې او دا کار د هغوی قانون جائز بللې ۇ، بلکه تر دې هم

لازيات دا چه په قانون کې ترټولو لمړئ ماده مخکې همدا وه او اوس همدا ده چه شاهانه ذات د هرډول پوښتنې او رانيولو نه برى او د هرډول مسئوليت نه پورته دى، (( يو ه زمونږ د افغانستان په اساس قانون کې په لمړي فصل کې هم دا ماده ليکل شوي وه چه: شاهان واجب الاحترام غير مسؤل دى. – ژباړن)) د هغه چه ښه او بد هر څه وي هغه د قانونو د نيولو له حدنه بهر دى ، ليکن د اسلام د قانون په نظر کې امير او مامور حاکم او محکوم او راغې او رعيت د قانون په رانيولو سزا او پوښتلو کې بالکل يو اشانې دى.

دلته دا خبره هم بايد له ياده ونه ويستلې شي، چه انحضرت صلي الله عليه وسلم يو معصوم پيغمبر ؤ چه د هغه هيڅ قول او فعل دروا له حدودو ځينې بهر کيداى نشو بلکه ټول به نيک ؤ، او دهغه صلي الله عليه وسلم په پاک حضرو کې لږ شانته بې ادبي هم ددې سبب کيداى شوه چه هغه کس له ايمان نه محروم کړي او جهنم د هغه د ذاتي کار وبار او حاکمانه اقتدار د معاملاتو په هلکه د سوال او ځواب او پوښتنې جراءت کول جائز پريښودل ددې نه پرته بله معنې نه لري چه دا يې د اسلام د اميرانو د تعليم لپاره عملې درسونه وړاندې کول او ددې لپاره يې په انتهايي شفقت سره په خپله زحمتونه ګالل چه ترڅو د راتلونکې امت لپاره ورسته راتلونکې اميران او حکام ددې پوښتنې او راءى د اظهار ولو دروازې د خلکو مخ ونه تړي.

د نبوې تېه دوره کې چه کوم متمدن سلطنتونه ؤ په هغه کې ايران کله هم د شاهانه ذات سره مخ په مخ دسوال او ځواب او اعتراض خوب هم نه ؤ ليدلې، ديونان او روم په هکله او رو چه هلته يو وخت جمهوري حکومت قائم ، ، ليکن هغه جمهوري حکومتونه په حقيقت کې د اميرانو ؤ د ولس سره هيڅ اړيکې نه لري او نه يې د اميرانو په مقابل کې دا د پوښتنې او رانيونې حق درلود او نه د هغوى په اميرانو او حاکمو کې دا توضع، دا خاکساري عغوه او حلم او د انصاف او د اخلاقو ددې لوړتيا دا منظر چيرته ښاره شو او نه ښکاره کيدلې شو، هغوى د زړه اخلاقو او صداقت او د اخلاقو د پاکئ د هغه نصب العين کردته هنم نه ؤ رسيدلې، زيات نه زيات دا ؤ چه وطن د هغو معبود ؤ او هغوى يې پرستش کاوه، هغو ددې معبود لپاره هر څه کولې شول، د هغو د وطن حدود هم د شاهى قصر ونو تر څلورو ديوالونو پورې محدود ؤ ، له هغې حدودونه بهر ګوندې نور انسانان نه اوسيدل ، اسلام هغه لمړنې مذهب دى چه د امير د قانوني حيثيت هغه نظريې وړاندې کړ چه لانړئ سره نا اشنا وه په دې حقيقت باندې له يو بل اړخه غور وکړئ چه دا د نفس ذات نه پوښتنې وي چه د هغى د مينې او عقيدت خاورې د مسلمانانو د ادب او احترام د سترګو رانجه ؤ، او د هغه حيثيت يواځې ديو امير او حاکم حيثيت نه ؤ بلکه له هغى نه په مراتبو لوړ د يو معصوم رسول الله صلي الله عليه وسلم وي او پاک نبي حيثيت ؤ صلوات الله عليه.

دمملکت په چارو کې سلا

تردې وروسته د سلطنت او امارت په چارو کې د اهل راىٔ مسلمانانو اخيستلو مسئله دا دا ښکاره خبره ده چه رسول الله صلي الله عليه وسلم په هلکه د مسلمانانو عقيده داده چې قطع نظر له وحى نه هم انحضرت صلي الله عليه وسلم په عقل او پوهي او علم او سنجش کې تر ټولو زيات ؤو او د ا ښکاره خبره ده چه کوم سړى په عقل او ، فهم او د علم په داسې مرتبه کې وي هغه ته له خپل ځان نه ښکته خلکو نه په چارو کې د مشوري او سلام اخيستلو څه ضرورت نه ؤ، ليکن يو خو ددې لپاره چه د مسلمانانو په راءى اخيستلو کې د هغوى زړونه راپورته کړى او بل ددې لپاره څرنګه چې د حضورصلي الله عليه وسلم د هر فعل نه د اسلامي شريعت قانون جوړيرى ، دهغه دا فعل د راتولونکو خلفاؤ او اميرانو لپاره د نظير او مثال کار ورکړي، پخپله هغه ته دا لهى حکم وشو چه:

ﭼ ﯖ ﯗ ﯘﯙ ﭼآل عمران: ۱۵۹

ژباړه: ای رسوله! د سلطنت په چارو کې او په جنګ اوسوله کې د خپلو ملګرو نه سلاخله.

همداؤ چې انحضرت صلي الله عليه وسلم پخپله پدې حکم باندې عمل وړ او مسلمانانو ته يې پرې د عمل کولو هدايت وکړ، او په همدې بنا الله پاک د مسلمانانو صفت بيان کړ او دهغوی دا خصوصيت يې ظاهر کړ چه :

ﭼ ﮞ ﮟ ﮠ ﭼالشوری: ۳۸

ژباړه: يعنې ددې مسلمانانو چاري پخپل مينځ کې  سلا او مشوری سره سرته رسول کيږي.

او که څه هم د نبوت په زمانه کې د سلطنت او حکومت ټول اجزاء منځته نه ؤ راغلي او نه د نبوت په پاک عصر کې د هغی څه ضرورت ؤ ، خوبيا هم د احاديثو د لټون او استقرار ځينې دا معلوميږي چه انحضرت صلي الله عليه وسلم په څو ځايونو کې او د مهمو چارو په هکله د خپلو ملګرو سره سلا کړيده او د هغوی په راءی باندې يې عمل کړي دي، او ددې کار منشاء يواځې همدا کيدلې شي چه عامو مسلمانانو ته دا معلومه شي چه په دې ډول په نظامي چارو کې بايد خپل منځ کې مشوره سره وکړي او ددې لپاره چه ګټولی فيصلي ته رسيدلو کې اسانې وي، دا نهايت مناسب کار دي او که نه دا خوښکاره خبره ده چه حضورصلي الله عليه وسلم خو دې کار ته څه دومره ضرورت هم نه لرلو.

مدينې ته په ريسيدلو سره کله چه د مسلمانانو شمير مخ په زياتيدو شو او په جماعت سره لمونځ کول پيل نو لمړۍ مرحله دا مخې ته راغله چه ټول خلک څنګه يه يوه جومات کې راټول کړي شي، او ددې متعلق لا تر اوسه څه وحی هم نه وه راغلي له دې کبله انحضرت صلي الله عليه وسلم دخپلو اصحابو Ψ سره مشوره وکړه، يهودو او نصارو به ددې کرا لپاره د بوق او نافوس،(( يعني د رنګ اوتورم په غږولو سره د خپل عبادت وخت اعلانوه . څه خلکو د همدې کار مشوره ورکړه. ځينې خلکو د لمانځه په وخت کې د بيرغ پوره کولو راءی ورکړه، حضور: دايوه راءی هم خوښه نه کړه، حضرت عمرصلي الله عليه وسلم راءی ورکړه چه د لمانځه په وخت کې دې يو سړی بهر وليږلې شي چه د لمانځه اعلان وکړی ، دا راءی د انحضرت صلي الله عليه وسلم خوښه شوه او حضرت بلال ته يې حکم وکړه هغه رضي الله عنه په لوړ اواز سره، (( الصلات جماعة)) وويل: تردې وروسته بيا يوه ورځې انحضرت صلي الله عليه وسلم ته په خوب کې د اذان موجوده صورت وښودلی شو او د صحبت د فيض له اغيزی نه ځينو نوور اصحابو هم داډول خوبونه وليدل، اور اغلل حضورصلي الله عليه وسلم ته يې عرض کړل، چنانچه د همدې طريقي سره سم يې حضرت بلال رضي الله عنه ته د اذان کول حکم وکړ.

د بدر د غزوي په موقف هم کله چه د مدينې له ښار ځينې رابهر شول اود جنګ ميدان ته نږدې ورسيدل ، انحضرت صلي الله عليه وسلم د خپلو ملګرو سره مشوره وکړه چه ايا د دښمن سره مقابله وکړای شي او که نه، ورو ورو هر ممتاز صحابې خپله راءی ظاهره کړه، ان ترد ي چه يوانصارې صحابې رائيس راپاڅيده او ويې ويل: ای د خدای رسوله! مونږ د بنې اسرايلو په شان نه يو چه خپل پيغمبر ته ووايو چه ته او ستا رب د جګړي په ميدان کې د دښمنانو سره جنګيږی او مونږ به دلته ناست يوومونږ داسې وايو چه چه سوګند دی که ته د رياب ته درواخليدلو حکم راکړی نو مونږ به په درياب ورشو.تردې ورسته کله چه انحضرت صلي الله عليه وسلم د جګړي د ميدان په لور وروارلندې شو نو په يوځای کې يې ديره اچول غوښتله يوتجربه لرونکې صحابې راغې لکه چه دمخه وويل شول، عرض يې وکړ چه ای د خدای رسوله! دا دالله فرمان

دي او که ستاسو شخصي راءی ده؟ هغه ورته وفرمایل: دا زما خپل نظر دي، پدې سره هغه بیا عرض وکړ چه ای دخدای رسوله! مونږپیاده به په هغه ځای کې دیره واچوو چه اوبه په خپله قبضه کې واخلو، حضورصلي الله علیه وسلم دهغه راءی خوښه کړه او همهلته ولاړ او دیره یې وچوله.

د انحضرت صلي الله علیه وسلم حضور ته چه کله د بدر بندیان وړاندې کړې شول نو هغه د ټولو اصابوψ سره مشوره وکړه چه ددوی سره باید څه طرز عمل اختیار کړي شي. خلکو بیلي بیلي راءی ورکړې. انحضرت صلي الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د راءی سره سم فد یه واخیسته او هغوی یې خوشي کړل.

همداراز حضورصلي الله علیه وسلم د احد د غزوي په موقع کې هم له خپلو ملگرو نه مشوره وغوښته چه مونږ د ښارنه بهر د یرغل کوونکو سره مقابله وکړو او که په ښار کې دننه ، عبدالله بن ابی بن سلول منافق دا راءی ورکوله چه د مدینې په کوڅو کې دي مقابله وکړای شي او بیا د جذبي نه ډکو سرښندونکو عرض وکړو چه د ښار نه بهر دي باید مقابله وکړای شي اود حضورصلي الله علیه وسلم د خپلې راء ی نه خلاف او د هغوی د راءی سره سم د ښار نه بهر دیر غل کوونکو سره مخامخ کیدل دحکومت په چارو کې د سلا مشورې ډیر ښه مثال دی.

د حُنین په غزوه کې چه کله د هوازن جرگه د انحضرت صلي الله علیه وسلم په خدمت کې حاضره شوه او عرض یې وکړ چې زمونږ کوم مال چه په غنیمت کې ستاسو لاس ته درغلې دي هغه دي بیرته مونږ ته راکړای شي. نو حضور ورته په ځواب کې وویل: چه بندیان او مال دواړه بیرته درکول کیدلې نشي په دې دواړو کې به یو څیز ټاکئ هغو خلکو بندیان وټاکل او حضور صلي الله علیه وسلم هم د هغوی غوښتنه ومنله که څه هم د انحضرت صلي الله علیه وسلمله حکم نه هیچا هم سرنه شو غړولې خو بیا هم هغه صلي الله علیه وسلم ټول اصحاب راټول کړل او یوه خطبه یې ورته واروله چه په هغې کې یې وفرمایل: چه ستاسو دا ورونه د کفر نه توبه گار شوي راغللې دي ، او زما شخصي راءی داده چه د هغوی بندیان بیرته ورکړم په تاسو کې چه د چا زړه مني هغه دي زما په راءی عمل وکړي او څوک چه پرې خوښ نه وی هغه دي هغه وخت خپل بندیان ازاد کیږي کله چه د غنیمت لمړی مال راشي هغه ته به د هغې بدل او قیمت ورکړای شي، ټولو اصحابوψ په یو آواز سره وویل: چې ای دخدای پیغمبره! مونږ په دې راضي یو حضورصلي الله علیه وسلم ددوی په بیره اظهار کافي ونه گاڼه ویې ویل: مونږ ته فرد فرد معلومیدلې نشي چه څوک خوښ دې او څوک ناخوښ دې؟ له دې کبله هر څوک دي خپل یو قائم مقام کس د ټولو خلکو سره خبري وکړي او حضورصلي الله علیه وسلم ته دي د هغوی دخوښۍ خبر ورکړي.

د احادیثو په کتابونو کې داډول نور مثالونه هم موندل کیږي چه له هغو نه معلومیږي چه انحضرت صلي الله علیه وسلم پخپل مبارک دور کې مشورې اخیستلي. او چه هغه به یې خوښي شوي عمل به یې پرې کاوه.

عادلانه حکومت درحمت سیورې دي

دسلطنت د قیام او د سلطنت د قانون په هکله د اسلام یوه ځانکړتیا داده چه هغه سلطنت هم عبادت او مذهب وگرزاوه، اوهغه د انساني ژوند هغه څانگه چه په اصولو اوهرډول وحشت ، مکر، فریب دهوکه، سازش ، ظلم او تیرې شامل ؤ، او داسې گڼل کیده چه د سیاست په لار کې هره گناه ثواب ده، د ژوندانه دغه څانگه داسې پاکه کړه او دومره لوړ قیمت او ارزښت یې ورکړ چه د عرش سیورې وگرزیده، په

احاد يثو کې له متعددو اصحابو کرامو‌Ψ ځينې روايت دی چه حضور صلي الله عليه وسلم وفرمايل: (( السلطان ظل الله فی الارض يا دی اليه کل مظلوم من عبادالله))

ژباړه: د ځمکې پرمخ صالح حکومت د خدايجل جلاله د امن سيورې دي چه د هغه په لمن کې د خدای په بنداګانو کې هرمظلوم پناه اخلي.

د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه قول دي چه: (( السلطان المتواضع ظل الله ورمحه فی الارض))

ژباړه: عادل او متواضع حاکم د زمکې پرمخ د خدايجل جلاله سيورې او نيزه ده،

انحضرت صلي الله عليه وسلم فرمايلي دې چه: عادل امام ته به د قيامت په ورځ د خدايجل جلاله سيورې نصيب شي

د اخلاقو او نيکۍ حکومت عبادت دي

کوم خلک چه د سلطنت کارونه په ښو اخلاقو او نيکۍ سره سرته ورسوی په اسلام کې هغه ته د خپل دي نيک عمل ثواب ورکول کيږي لکه څرنګه چه د نورو عباداتو په سرته رسولو سره ورکول کيږي.

ددې تعليماتو اثر داشو چه سلطنت هم دعبادت په پراخه مفهوم کې شامل شو او هر ډول بد نيتي ، خيانت، فريب، سازش، ظلم او تيري په اسلامي سياست سره پای ته ورسيده خو حضرت معاويه رضي الله عنه په خپل وخت کې له روميانو سره تر يو ټاکلې وخت پورې سوله کړې وه ليکن خپل فوځونه يې څه حد ته نږدې په دې ارادې سره ځای په ځای کړي ؤ، چه څنګه د سولې موده پای ته ورسيږي په روميانو به حمله کوي. يونو موميالې صحابې رضي الله عنه چه په دې بحث کې شامل ؤ، فوراً، يې په دې جنګې چال باندې اعتراض وکړ او ويې فرمايل: چه زمونږ پيغمبرصلي الله عليه وسلم دا کار بي ايماني بللي ده چه مسلمانان بايد ځان ورځينې وساتي حضرت معاويه رضي الله عنه ددې خبرې په اوريدلو سره خپل فوځونه شاته کړل.

هر سلطنت د مالياتو او ټکس او خپل خرچ اصول کولو لپاره تل د سختۍ ځينې کار اخيستلو ته مجبوريږي او که د حکامو له لورې لږ شانته غفلت ، بې پروايې او چارو ته سپکه کتنه وشي نو ناڅاپه د حکومت خزانه خالې کيږي.

تورن چې کله کومي محکمي ته وړاندې کړای شي او هغه ته د حکامو د غوصي او غضب نه ډکو سترګو کې د رحم يو څرک قدرته هم شکاره نه شي نو هغه به د خپلې کناه پاکولو لپاره هرډول دوکه، فريب، مکر او حيله او درواغ ويلو نه کار اخيستل د ځان لپاره تر ټولو لويه فريضه وګڼي ، په دې کې د شخصي او جمهوري حکومتونو هيڅ دخل نشته ، بلکه په دواړو ډوله حکومتونو کې به دا نتائج يو شاني وی، اروپا چه نن په ظاهرې او نمايشي تمدن او تهذيب کې دومره پرمختګ کړيدي چه تعليم په ټول ملک کې عام شوی دی هر فرد د سياست له رمزونو څخه خبر دی، او په سلطنت باندې د جمهورو څخه منلې شوي دی، ليکن ددې ټولو سره بيا هم که حکومت له لږ څه غفلت او بې پرواې څخه کار واخلې نو هيڅوک به د خپل ټکس او ماليات پخله خوښه ادا کولو ته تيار نه وی، د مجرمانو هم دا حال دي چه د جرم د کولو نه وروسته کله پټيږي او کله په محکموکې د لکونو روپيو په خرچ کولو سره د جرم د سزا نه د بچ کيدلو کوښښ کوی، سره له دې چه په اروپا کې دنورو هيوادونو په پرتله د مجرمانو حالت ډيري سدمي او سزا له دې کبله نه ورکول کيږې چه دا يو د کسات اخيستنې څيز وي، بلکه هغه د اصلاح وسيله ګرځولې شوي ده، خو ددې ټولو سره سره بيا هم هيڅ اروپا په صداقت سره د خپل جرم اقرار نه کوی، بلکه د هغه په روغ بدن کېوينه د پښېمانۍ

او بې زړه توب په ځای د جرأت او زړورتوب عنصر غالب وی، او دا هم د جمهوریت او آزادۍ یو برکت ګڼلې کیږي، لیکن کله چه د یو سلطنت په اخلاقي اصولو باندې ولاړوی نو د هغه حالت د نورو نه بالکل بدل وی.

ددې ډول سلطنتي نظام هر فرد د سلطنت د ټولو احاکمو پابندي دمذهبي چارو په څیـر د ثـواب او عذاب موجب بولي، له همدې کبله بې له څه زور زیاتي په هغې باندې عمل کوی او دا نیجه یواځې له اخلاقو او روحانیت ځینې پیدا کیدلې شي، د اسلام سلطنتې نظام په همدې اخلاقي اصولو باندې ولاړ ؤ، او په همدې بنا هغه دې نیجي بهترین ښکار ندوی دي، صدقه او زکوۀ د عربـانو لپـاره بالکـل نـوی څیـز او د بـې وزلـۍ او غربت له امله د هغوی لپاره ډیر ګران کارؤ ، چنانچه د کعب بن اشرف په قتل کې چې د محمد بن سلمه چه په ظاهرې د اسلام د کومو سختیو ځینې ګیله کړې وه په هغو کې د صدقي او زکوۀ د درونـد والـې ګیلـه هـم وه، د صدقي او زکوۀد وصول کولو لپاره که څه هم د انحضرت صلي الله علیه وسلم په مبارکه زمانـه کـې څـه کسان مؤظف کړای شوي ؤ خو بیا هم ددې کار لپاره کوم منظم دفتر او باقاعده نظام قائم کړې شـوې نـه ؤ، په داسې حال کې که چیرته په عربو کې کوم دنیوي مادې سلطنت په جمهوري اصولو باندې منځ ته راوسـتل کیدلې نو هغه ته به د صدقي او زکوۀ په لاسته راوړلو کې ډیر سختي او مشکلات مخي تـه راتلـل ، لـیکن دا د اسلام د حکومتې نظام اخلاقي اغیزه وه چه فرد فرد او هرې قبلې به خپله صدقه د انحضرت صـلي اللـه علیـه وسلم خدمت ته راوړله او بدله کې به یې د انحضرت صلي الله علیه وسلم د برکت نه ډکـې دعاګـاني د ځـان سره وړلي په صحیح بخاری کې دحضرت عبدالله بن ابی اوفی نه روایت نقل دي چه: (( د انحضرت صلي الله علیه وسلم په خدمت کې چه به کله کوم قوم پخپله ذمه د څیزنو د ادا کولـو لپـاره حاضـر شـول نـو هغـه بـه فرمایل: ، خدایه د فلانې په ال باندې ورحمیږي.

چنانچه زما پلار هم د خپل ذمي څیزونه راوړل نو انحضرت صلي الله علیه وسلم وفرمایـل: خدایـه! د ابی اوفی په ال باندې رحمت راولیږي.

حضرت عدی ابن حاتم(( د حاتم طائی زوی. ) د طئ قبیلې مشر ؤ او هغه ته د خپل ټول ولس له لورې څلورمه ورکول کیده، چه دا په عربو کې د اسلام نه دمخه د قریشو د سردارانو خاص حق ګڼل کیده، خو کله چې هغه مسلمان شو نو ترټولو نه مخکې انحضرت صلی الله علیه وسلم ته د خپل ولس صدقه وړاندې کړه، په صحیح مسلم کې روایت دی چه یو ځلې هغه د حضرت عمررضي الله عنه په خدمت کې حاضر شـو نـو هغـه ورته داسې خطاب وفرمایه: د کومي لمړۍ صدقي د خوښۍ نه چه د انحضرت صلي الله علیه وسلم او د هغه د ملګرو څیري وځلید لي هغه د طئ دقبیلې صدقه وه چه تـا راوړه نـو هغـه صـلي اللـه علیـه وسـلم وفرمایـل: صدقات قومنا، دا زمونږ د قوم صدقه ده.

داشخاصو حالت له دې هم څه زیات نا شنا شانته ؤ د حضرت عبدالله بن مسعودرضي الله عنه بیان دی چه کله انحضرت صلي الله علیه وسلم د صدقي حکم وفرمایه نو مونږ به په بازار کې پنډې تـوب کـاوه او چه څه مزدورې به لاسته راغله هغه به مو راوړه. او په صدقه کې به مو ورکړه.

جرائم له منځه وړل

د جرمونو داحالت ؤ چه هغه ګوندي بیخې له منځ نه ؤ تللـې ځکـه چـه دا دانقـلاب فطـرت دی خـو تردې حده پورې راکم شو ؤ چه د نشتوالې برابر ؤ ، او تردې لازیات دا چه کومو کسانو چه په اتفاق کوم جرم وکړو نو د جرم د نیشی د ماتیـدلو نـه فـوراً وروسـته بـه پـه هغـه کـې د ایمـان نـور وځلیـده او د ګنـاه د داغ پریمنځلو ته به نا ارامه کیده، چنانچه ځینو اصحابوψد نبوت په دربار کې په کوم صداقت سره د خپلو ځینو

جرمونو اقرار کړيدي د هغې مثال ددنيا په مذهبي تاريخ کې لټول بې فايدي کار دي، د جرمونو په هکله دې خبرې ته په ځانکړي ډول خيال ساتل په کار دي چه په اسلام کې د يو حکومت په بنا د جرمونو سزا نهايت سخته کړای شويده، د غلا په جرم کې لاس پرې کول کيږي د زنا په جرم کې دُري وهل کيږي يا په تيږو ويشتل کيږي، ليکن ددې ټولو سره ددې جرمونو مجرم پخپله حاضريدل او ددې سختو سزاګانو د اوريدلو سره بيا به يې هم پخپله اقرار کاوه، او پخپل ځان باندې د سزا د تطپيق کولو غوښتنه به يې کوله.

معا دابن مالک رضي الله عنه يو صحابې ؤ، هغه د ويوي وينځې سره زنا وکړه، کله چه د هغه فکر سرته راغې نو پخپله د انحضرت صلي الله عليه وسلم دربار ته راغې او پخپله يې دخپل جرم اظهار وکړ او عرض يې وکړ چه ای د خدای رسوله په ما باندې حد جاري کړه، انحضرت صلي الله عليه وسلم ورځينې مخ په بلې خوا وګرزاوه، هغه بيا عرض وکړ چه ما زنا کړيده په ما باندې حد جاري کړه، په دې ډول هغه څو ځله دا وينا وکړه او حضورصلي الله عليه وسلم ورځينې مخ ګرزاوه په څلورم ځل يې ورته وويل: چا آيا ته د هغې سره ځملاستلې يې؟ هغه ځواب ورکړ چه هو، ا نحضرت صلي الله عليه وسلم بيا وفرمايل: آيا تا دهغی سره مباشرت کړي؟ هغه وويل:هو، حضورصلي الله عليه وسلم بيا ورته وفرمايل: ايا تا د هغې سره جماع وکړه؟ هغه وويل هو، تردې ټولو مراتبو وروسته انحضرت صلي الله عليه وسلم د هغه د ګټو ويشتلو حکم وکړ، کله چه په هغه باندې دکاڼو ورول پيل شول نو هغه منډه کړه، بالاخره يو صحابې رضي الله عنه وروړاندې شواو د اوښ د پښې په هډوکې باندې يې وويشتو او هملته ځای په ځای شو و اصحابو ψ چه کله د هغه د تيښتې واقعه حضورصلي الله عليه وسلم ته بيان کړه نو هغه ورته وفرمايل: چه هغه مو ولې پرې نښود ښايې چه هغه توبه کړې وي او هغه الله جل جلاله قبوله کړي وي.

له دې واقعې نه د اسلام په قانون جزا کې يوه نوي ماده اضافه شوه، او هغه داچه که کوم مجرم ته د خپل جرم پخپل اقرار باندې سزا واورول شوه او هغه د سزا ورکولو په ترڅ کې تښتيدل وغواړي نو د هغه دا تيښته د خپل اقرار نه رجوع ګڼل کيږي او د هغه پاتي سزا ورته معاف کيږي. او ددې عوض خدانجل جلاله ته سپارل کيږي.

د يوبل زلمې واقعه ده چه هغه د سختي ناروغۍ په حالت کې په همدغه ګناه کې پريوت او هيڅا ليدلې نه ؤ، ليکن هغه پخپله خپلو علاج کوونکو ته اقرار وکړ، او هغو ته يې وويل: چه لاړ شئ او زما له لورې دا خبره د انحضرت صلي الله عليه وسلم په حضور کې عرض کړئ او د فتوی پوښتنه ورځينې وکړي، هغه راغلل او پيښه يې د حضورصلي الله عليه وسلم په خدمت کې عرض کړه، انحضرت صلي الله عليه وسلم هغه ته د سختي ناروغۍ له کبله جزا يا سزا تجويز کړه،د يو بل صحابی کعب بن عمرورضي الله عنه واقعه ده چه هغه راغې او پخپله يې اقرار وکړ چه يارسول الله صلي الله عليه وسلم ما د پردئ ښځې نه د جامو د پاسه خوند اخيستې دې يعنې په عملې ډول مي مباشرت نه دې کړي اوس د ا ګنهګار موجود دي په ده باندې دالله حکم جاري کړه.

د حُنين دغزا نه وروسته په هغه شاوخوا کې د اسلام د اقتدارپه پيل کې چه يو حبشې چه لحم نوميده د اشجع د قبيلې يو سړي وواژه، د دواړو پلويان د قبيلي مشران انحضرت صلي الله عليه وسلم ته راغلل او په دې هکله يې فيصله وغوښتل، انحضرت صلي الله عليه وسلم د خپل هميشنې شرفانه عادت سره سم د ويني بدله (( ديت)) ادا کول وغوښتل و مګر د يوي ډلي له خوانه په قصاص باندې اصرار ، او د بلي ډلې له خوانه انکار په داسې جوش او خروش سره وشو چه د دواړو چيغې پورته شوي. يو راپاڅيده او ويې ويل چه

ای د خدای رسوله! دا خو لاداسلام د اقتدار پیل دی اوس باید داسې نرمې ونه کړي شي، چه رمه پـه همـدې الو کې وتریږي ، لیکن انحضرت صلي الله علیه وسلم همداسې په دیت باندې زور ورکـړ، قاتـل چـه دا حالـت ولید پخپله راوړاندې شو، او انحضرت صلي الله علیه وسلم ته یې عرض وکړ چه ای د خدای رسوله دا ګناه زما د لاسه شو یده ماته د ښښنې دعا وکړه.